# دعوت

## ملي، خپلواکه خپرونه

www.dawatmedia24.com
ISBN: 978-82-691395-2-5

Jan.- March 2023 Vol. 247 پرله پسي ګڼه ۲۴۷

### ملي سندره

ځو چې دا مځکه آسمان وي
ځو چې دا جهان ودان وي
ځو چې ژوند په دې جهان وي
ځو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت

د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ایت )

موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزګر**

د تأسیس نیټه: 1367ل،(۱۹۸۸م)

Dawat Media,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway
Tel. +47- 63844384 Mobile. +47-90856195
dawatmedia@gmail.com
www.dawatmedia24.com



**استاد ډاکټر م. عثمان تره کی د دعوت‌سره په مرکه کې:**
**په لنډه توګه! د کنترول نه وتلی طالب کاروان «ترکستان» ته روان دی**



ورانګه لوني د دعوت سره په مرکه کې:
**د ارمان لوني ارمان احمد شاهي جغرافیه او خپلواکي وه**



## د مارچ اتمه د ښځو نړیواله ورځ

ښځې نازک ګلونه دي؛ هم یې له ښکلا خوند واخلئ او هم یې له خوشبو!
مخکې له دې نه چې تاسې د دې ګلونو خاوندان شئ؛ د تازه ساتلو هنر یې زده کړئ!
یوازې د سکس پر وخت ورسره مه خواږه کېږئ، په هر حالت کې ورسره مهربانه چلند وکړئ!
له کوره د تګ او کور ته د راتګ پر وخت یې ښکل کړئ!
په اونۍ یا میاشت کې حتماً ورسره چکر ته لاړ شئ!
که زړه تنګې وه ورسره ټوکې وکړئ او ورسره وناځئ!
کال پر کال پرې بچې مه راوړئ!
د کور په کارونو کې ورسره مرسته وکړئ!
د خپلې ستړې دمه د هغوی په کنځلو او وهلو مه کوئ، پر ځای یې غېږ کې سر کېږدئ چې دمه شئ او د ارام ساه واخلئ!
شک ښځه ځوروي او زړه یې ماتوي، هغوی ته ستاسې باور تر هر څه ارزښتمن دی، ورسره د دوکې او خیانت هڅه مه کوئ، ښځه که هر څومره ساده شي ستاسې خیانت لیدی شي، په دې کارونو یې مه مجبوروئ چې د پردیتوب احساس وکړي!
د ښکلا او نازونو ستائېنه یې وکړئ!
خبرې او مشورې یې په غور واورئ او ارزښت ورکړئ!
او لنډه دا چې د مېړه کېدو پر ځای ورسره د ملګرتیا اړیکه جوړه کړئ، پرې مئینان شئ او حق ورکړئ چې په ډاډه زړه هم تاسې ته ستاسې تېروتنې در په ګوته کړي، هم درته خپل درد، خپل خیال، خپل احساس او خپلې هیلې بیان کړي!
د دې پر ځای چې ژوند یې دوزخ کړئ پرېږدئ چې ستاسې ژوند جنت کړي!
وګڼه خپله خړه پړه ښځه
له هرې حورې یو په سله ښکلې

نصرت ارمان

**مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلي، آباد او یو موټي افغانستان په لور**

# دعوت مېډيا د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز وياړي چې د خپلو رسنيزو فعاليتونو د لیارې د هیواد په دې ټاکونکو او حساسو شيبو کې په ملي افغاني روحيه د افغانستان په روان حالاتو باندې په علمي څېړنو، تحليلونو، او تبصرو له لارې خپل هیواد او هیوادوالو ته د خدمت مصدر گرځېدلي يو.

د دعوت ملي خپرونه د خاورې تماميت، ملي گټو او د ملي يووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، ليکوالانو، او روښفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانيستلی سنگر، څخه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هيواد او ولس کورني او بهرني دښمنان ورو پيژني او تر ممکن حده د دوی خاينانه دسيسې او توطيې شنډې او خنثی کړي.

په هیواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنيز عدالت، وگړيزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بيان د ازادۍ، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنيو بنسټيزو اسانتياو د برابرولو، او په لنډه که وواېو د دموکراتيکو لارو، نه د "زور، زر، او تزوير" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثريت په خوښه د يو غښتلی او ملي مرکزی ملي حکومت د جوړېدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بيائي.

خو!

د دې څراغ د روښانه ساتلو د پاره د گرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاريو ته د هر وخت نه خورا زيات ضرورت دئ، که زموږ د پاليسۍ او د دعوت د ملي خپرونې د محتوا سره موافق ياست نو موږ د دې جوگه کړې چې د دعوت ميډيا خپرونې او دعوت خپرونه د نړۍ او گران افغانستان گوټ گوټ ته ورسوو، او د هغه نااميده هيوادوالو له پاره د اميد ډيوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله يې خپل اميد د لاسه ورکړی دی، او داسې چيرته چې افغان وي هلته دعوت وي يانې دا چې ډيرو هيوادوالو ته دعوت ورسيږي او زموږ هڅې به هله بيځايه نه وي چې يو زيات شمير هيوادوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسيدل ستاسو درنو هيوادوالو او د دعوت مينه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هیله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په ليکل شوې پته راواستوئ:
د بانک او يا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.

يو ځل بيا واېو :

((دعوت مېډيا د افغان ولس پرته د هیواد د هيڅ سياسي ډلې نمايندگي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت مېډيا د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپرونې کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د پخوا نه زيات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتيا لري))

د دعوت اداره

# دعوت مېډيا ستاسې او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هيواد نه خپرېږي. د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي او غير سياسي ډلې استازيتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپرېږي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو ليکنو مسئوليت د درنو ليکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره ليکنه دې د دعوت د نشراتي پاليسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5
Orgnr (Reg#): 985160058

د انټرنت په نړيواله شبکه زموږ د ويبپاڼې پته

www.dawatmedia24.com

زموږ د برېښنا ليک پته:

dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړيوالو تادياتو حساب

Account for international payments:
NO15 0530 2294 668

Vipps: #557320 :د ويپس شمېره

**څنگه کولی شئ د دعوت مېډيا مالي مرسته وکړی:**

خپلې مرستې (پيسې) د بانک په پته راولېږي. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د برياليتوب او لابنه پرمختگ زيری دی. هر افغان بايد تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډگر ته راووځي، خپل مسئوليت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

# استاد ډاکټر م. عثمان تره کی د دعوت سره په مرکه کې:

**په پښتونخوا کې ناسیونالستې جذبات په ډیر شدت وده کوي. اوس مهال په افغانستان کې د بل هر وخت په پرتله پاکستان، ضد جذبات پیاوړي ښکاري**

**په لنډه توګه! د کنټرول نه وتلی طالب کاروان « ترکستان » ته روان دی**

**ګومان نه کیږي دا افراطي ډله د افغانانو او ان نړۍ سره په اوسنۍ فکري جګړه کې بریالۍ شي**

**طالب مشرانو زموږ وړاندیزونو ته هرکلې وایه، خو د هغو د عملي کولو په اړه هیڅ ضمانت نه ورکول کیده**

**داسې ځرګندیږي چې دعوت د ملي وحدت د ټینګښت رسالت ته ژمنه میډیا پاته شوی**



بزګر: افغانستان کومې خواته روان دی ؟

استاد تره کی: طالبانو د یو نیم کال په تیریدو سره دا ثابته کړه چې د یوې مدرني اسلامي واکمنۍ د جوړیدو وړتیا نلري. لامل یې هم دا دی چې:

- طالبانو د کلیو او بانډو څخه سرونه را پورته کړي او د مسجدونو او مدارسو فارغان دي، نو ځکه په آسانه د متمدني نړۍ د ارزښتونو سره نه شي جوړیدای.

ـ طالبان دعوه لري د سوچه اسلام پر بنسټ یې نظام جوړکړی، او هغوې د سوچه اسلام څخه خپل ځانګړي تعبیر او تعریف لري چې د مډرنې حکومتولۍ د اصولو سره په ټکر کې راځي.

ـ د افغانستان نه د بهرنیو لښکرو وتل، طالبانو ته کاذب غرور وربښلی.

هغوی د اسلامي نړۍ نه تمه لري داسې یوه امارتي اداره چې اساسي قانون نلري او د غیر اسلامي فتواګانو له لارې د جنکیو د تعلیم او د ښځو د کار حق محه نیسي۔ په رسمیت وپیژني.

ـ طالبان د اسلامي هیوادونو او دیني بنسټونو مشورو ته هم غوږ نه نیسي.

هغوی اسلامي امارت د «کفري نړۍ» په وړاندې د جهاد محصول او بریالۍ بیلګه ګني.

طالب تمه لري چې نور اسلامي هیوادونه د هغوی مشر سره بیعت وکړي نه دا چې امارت ته د اسلام سبق ورکړي.

کاذب غرور، کلیوال ذهنیت، د اسلامي تعالیمو نه افراطي دیوبندي تعبیر او په خپل دریځ ټینګار د طالبانو د امارت حیثیت د دیوبندي مدرسې کچې ته را ټیټ کړی.

ـ طالبانو د خپلو ملا صاحبانو څخه ځان محوره نظام جوړ کړی. طالبان مسلمانو مکتبیانو ته د سکولار تر نامه لاندې د مخالفینو په سترګه ګوري. خو د اسلام تر پوښښ لاندې د طالبانو ځینې غیر اسلامي کړنې (د جنکیو او ښځو د تعلیم او کار په برخه کې) د دې لامل شوي چې د هغوی واکمنې د نړۍ او په ځانګړې توګه د اسلامي هیوادونو سره په ټکر کې راشي او په منزوي حالت کې قرار ولري.

په لنډه توګه! د کنټرول نه وتلی طالب کاروان « ترکستان » ته روان دی.



بزګر: واقعیتونو ته په کتو سره، آیا د طالبانو واکمني بقأ موندلی شي؟

استاد تره کی: لویدیزوال چې د اسلامي نړۍ په جغرافیا کې په مختلفو وختونو کې د سوچه اسلامي نظامونو د خوځښت پر وړاندې د توطئو او کودتاګانو اوږده سابقه او تجربه لري، په هیڅ وجهه من الوجوه نه پریږدي طالبان د اسلام نه د افراطي تعبیر تر شعار او د کورنۍ موضوع تر پلمې لاندې د جنکیو مکتبونه بند او ښځې د قانوني منلو شویو نړیوالو حقونو نه بې برخې کړي.

د طالبانو پر ضد امنیت ګډوډول، په رسمیت نه پیژندل او اقتصادي تعزیراتو لګول د لویدیزوالو د ورځنۍ اجندا برخه ده.

د امنیتي، دیپلوماتیک او اقتصادي فشارونو له لارې د طالبانو واکمني دومره ژر نه ړنګیږي، خو نظام کمزوری او سقوط ته نږدې کیږي. ولس لازیات تاواني کیږي.

بزګر: تاسو په دې وروستیو کې افغانستان ته سفر درلود او هلته مو د طالبانو نژدې ټولو مشرانو سره ولیدل.

آیا کولای شئ په تفصیل د دعوت لوستونکوته د خپل سفر په هکله وواياست ؟

استاد تره کی: کابل ته د مسافرت موخه دا وه چې :

- د مکتبیانو باورونه او دریځونه د طالب مشرانو سره شریک شي.

- د مکتب او مدرسې تر منځ د واټن کمولو په مقصد یو وړوکی ګام پورته شي. د ملایانو او مکتبیانو تر منځ سوء تفاهم او بې باوری کچه را ټیټه شي.

ـ طالبانو ته د افغانانو او نړی دا پیغام ورسول شي، داسې نظام چې د حکومت انحصار د ملا صاحبانو په لاس کې وي ځانته د ننه او بهر دشمن زیږوي او بقا موندلی نشي.

وطن کې د اقامت پر مهال مو ګڼ شمیر حکومتي مسؤلینو سره ولیدل، له شیخ هبة الله اخونزاده سره مو په استثنايي توګه د ملاقات فرصت په برخه شو.

طالب مشرانو سره زموږ د مذاکراتو په اجندا کې د سرپرست حکومت د مودې ټاکل، د اساسي قانون د تسوید په موخه یو مسلکي کمیسیون جوړول، ملي مسائل د ملا صاحبانو د کوچنۍ کړۍ څخه ایستل او لویې جرګې ته حواله کول، د مکتبیانو او متخصصینو په ګډه کابینه جوړول، د اسلامي تعلیماتو او د متمدنې نړۍ د ارزښتونو خلاف د فتواګانو د صدور مخه نیول، د ملي خائنینو او جنګي کورنیو او بهرنیو مجرمینو د محاکمې زمینه برابرول او نور شامل و.

موږ سره د طالبانو چلند رسمي او تعارفاتي بڼه درلوده.

طالب مشرانو زموږ وړاندیزونو ته هرکلي وایه، خو د هغو د عملي کولو په اړه هیڅ ضمانت نه ورکول کېده.

بزګر: تاسو په تیرو شلو کلونو کې د یو مسلمان ملی ګرا افغان په توګه تل د طالبانو ملاتړ کړی خو اوس د طالبانو د مشرانو د افرطي پریکړو له امله ترې لیرې شوي یاست. نو اوس پوښتنه دا ده د طالبانو دا ډول افراطي پریکړو له امله د مغوی راتلونکی څرنګ وینۍ؟



استاد تره کی : د مقاومت او جهاد په موده کې د طالبانو نه ملاتړ یوه حیاتي اړتیا وه.

د طالبانو نه پرته بل وسله وال خوځښت چې د یرغلګرو په وړاندې وجنګیږي، موجود نه و. خو کله چې افغانستان خپلواک شو او طالبان حکومتولي ته ورګډ شول، د افغانانو د انتظار خلاف په داسې اقداماتو یې لاس پورې کړ چې د اسلامي نړۍ د عقیدوي ارزښتونو پر خلاف او د معاصري حکومتولۍ د معیارونو سره په ټکر کې ول. دا د دې لامل وګرځید چې طالبان د ولس په منځ کې خپل ګڼ شمیر قومي او فکري مخکښې ملګري او خواخوږي له لاسه ورکړي. د کورني سیاسي او امنیتي فشارونو او بهرنۍ ډیپلوماتیکې انزوا سره مخ شي. د دغه ناوړه او نامطلوب حالت پړه د طالبانو د تحریک په منځ کې د یوه افراطي ډلې په غاړه ده.

دغه افراطي لړه کې خپل عقیدوي باورونه چې په ځینو مواردو کې ان د إسلامي تعليماتو سره په ټکر کې دي، پر نورو باندي په تحمیلي توګه ور تپي.

ځومره چې دا افراطي ډلګۍ د نظام د ټینګښت ډاډ تر لاسه کوي، په هماغه اندازه د بنسټ پالنې خوا ته لیوالتیا ښئي.
لویدیز پدې باور دې چې دا احتمال شته که د طالبانو حکومت په رسمیت وپیژندل شي، نو په ټولنیزو چارو کې به نورو بندیزونو لګولو ته مخه کړي.
ګومان نه کیږي دا افراطي ډله د افغانانو او ان نړۍ سره په اوسنۍ فکري جګړه کې بریالۍ شي.
خو دې واقعیت ته هم باید پام واړوو چې که طالباني نظام پخپله غلطۍ د ټینګار له امله د ړنګیدو سره مخ کیږي، نو په افغانستان کې به یو بل د کنترول څخه وتلی ناورین پیلیږي: طالبانو د خپل نظام بقأ د بل سیاسې بدیل (الترنتیف) پر نشتوالي پورې تړلی.



بزګر: په پاکستان او نورو هیوادونو کې بښمېره افغانان ښځې او ماشومان بندیان دي، ډیره بده اوغیري انساني رویه ورسره کیږي. اوس چې طالبان د افغانستان واکمن دي او تل دا دعوه کوي چې ۵۲ هیوادونه یې مات کړي خو هیڅکله یې په پاکستان کې بند افغانان او تورخم، سپین بولدک کې د مجبورو افغانانو د سپکاوي په وړاندې څه ونه ویل او تر ډیره بې تفاوته دي. ستاسوپه اند د طالبانو مسئولیت څه او ولې بې تفاوته دي؟
استاد تره کی: طالبان افغانانو ته د پاکستان د ناوړه چلند په وړاندې د خپلې وړتیا له اندازې کمزورې غبرګون ښودلی دې. د طالبانو د واکمنۍ په موده کې په وار وار په سپین بولدک او تورخم کې د دواړو اړخونو د امنیتي سرتیرو تر منځ نښتې رامنځته شوې چې په ترخ کې یې ترانزیت بند شوی.

پاکستان افغانستان سره د تحت الحمایه هیواد په توګه چلن کوي او افغانانو ته د امریکا د جګړې څخه د پاته شویو جنګي اسیرانو په سترګه ګوري. افغانانو سره د پاکستان چلن په ډاګه د نړیوالو قوانینو خلاف دي، خو تر هغه وخته پوري چې افغانستان په دیپلوماتیکه انزوا کې قرار ولري، خپل غږ نړیوالو مراجعو ته نشي رسولې.

بزګر: پاکستان افغان طالبان د پاکستاني طالبانو (ټي ټي پي) پر ملاتړ تورنوي او په پاکستان کې د نا امنیو پړه پر افغان طالبانو اچوي؛ حقیقت څه دې؟
استاد تره کی: افغان لوری اقتصادي او تسلیحاتي وړتیا نلري چې پاکستاني طالبان د پاکستان پر ضد وکاروي. له بلې خوأ افغان طالبان د نړۍ سره په سړه جګړه بوخت دي او نه غواړي پاکستان سره د جګړې دوهمه جبهه پرانیزي. خو دا هم امکان لري چې د طالبانو د تحریک د کنترول نه وتلي ځینې جذباتي کسان د (تي تي پي) سره چې په افغانستان کې د کډوال او میلمه په توګه ژوند تیروي، یوازې اخلاقي او سیاسي ملاتړ وکړي.
په پښتونخوا کې ناسیونالستي جذبات په ډیر شدت وده کوي. اوس مهال په افغانستان کې د بل هر وخت په پرتله پاکستان، ضد جذبات پیاوړي ښکاري.
لویدیز، د پښتونخوا قبایلي سیمو ته د بنسټ پالو اسلامي تروریستانو د پټنځای په توګه ګوري او د ډیورند کرښې ناوړه تاریخي ـ ژیوپولتیک عواقبو ته یې پام اړولی دی.
په نوي سرچپه لوبه کې د افغانستان ستراتژیک عمق وزیرستان ته منتقل شوی.
د افغانانو لاس ته یو بیساری تاریخي فرصت لویدلي چې د ذیدخلو هیوادونو په همکارۍ د ډیورنډ ښکیلاکګره کرښه

تاریخ ته وسپاري، خو له هر څه د مخه باید نظام مشروعیت او رسمیت ولري او د سیمې او نړۍ په کچه ځانته دوستان پیدا کړي.

د ۵۴ کلونو په موده کې پاکستان د افغانستان سیاسي تیکه دارۍ دنده په غاړه لرله. د افغانستان په سر باندي د نړۍ سره په سیاسي تجارت بوخت و.

په افغانستان کي د یو ملي او حسابګرې واکمنۍ په نشتوالي کې :

- پاکستان د هغه پلان سره چې باید پښتانه په لر او بر کې د ژنوساید (عام وژنه) تر کچې پورې وځپل شي، د یرغلګرو سره همکاري وکړه.
- پاکستان د دیورند کرښې په اوږدو کې د افغانستان له اجازې پرته په یو اړخیزه توګه اغزن تار وغزاوه.
- آزادي قبایلي سیمې په ۱۹ پیړۍ کې د انګریزانو او روسانو د « ستري لوبې » په اجنداً کې د اړخونو تر منځ حایل سیمه (بفر زون ) پېژندل شوې وه، خو د پاکستان پوځ د اویا کلن انتظار نه وروسته، په افغانستان کې د امریکا د یرغل نه په ګته اخیستو، دا سیمې ( فاټا) په خپل اداري سیستم پورې وتړلې.

طالبانو د پاکستان په وړاندي د ښه ګاونډیتوب او منفعل سیاست کړنلاره غوره ګڼلې او هیڅا ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له خاوري نه پر پاکستان برید وکړي.

طالبانو نه غوښتل چې د افغانستان په خاوره کې د جهاد ملګرې یعني (ټي ټي پي) د پاکستان د تروریستي بریدونو څخه وژغوري. په وروستی تروریستي پیښه کې (۲۰۲۳/۰۳/۰۲ ) د (ټي ټي پي) شپږ تنه غړي او مشران و وژل شول.

د طالبانو اداره د پاکستاني جابرو واکمنانو په وړاندې د جبهه یې جګړې وړتیا نلري. خو د ملیشیایې جګړې د پراخو امکاناتو نه برخمن دي :

افغان طالبان کولې شې (ټي ټي پي) د یو جنګي ډلې په توګه او د پښتون تحفظ تحریک (د منظور پشتین په مشرۍ) د یو فعال مدني غورځنګ په حیث د متکبر ګاونډي په وړاندي د فشار د لاسوند په ډول وکاروي. خو دا اقدام تر هغه وخته پوري عملي بڼه اخیستی نشي، تر څو طالبان خپلې کورنۍ ستونزې حل نکړي او نظام یې د مشروعیت او رسمیت خاوند و نه ګرځي.



د (ټي ټي پي) او د پشتون تحفظ تحریک څخه ملاتړ افغانستان له هغې ستري لوبې سره تړي چې نوښت یې په سیمه کې د لویدیز په لاس کې دی او پاکستان پکې په نښه شوی.

په راروانه ستره لوبه کې به افغانستان هغه وخت ګټونکی وي چې منل شوې ملي واکمنې ولري او ځان د ډیپلوماتیکي انزوا څخه وژغوري.

**بزګر: افغانان خورا ناهیلي شوي او په راتلونکي یې باور له لاسه ورکړی ایا د امید کوم څرک شته؟**

استاد تره کی: د افغانستان په تاریخ کې دا لمړی ځل دی چې ملایان په قدرت قبضه لګوي او کلیوال ذهنیت پر ښاري مغه برلاسي مومي.

د طالبانو په راتګ سره افغانۍ ټولنه له ګن شمیر تضادونو سره مخ شوي.

کلیوال فکر د ښاري فکر سره، مدرسه له مکتب سره، سکولار له ملا سره او دین له دنیا سره په ټکر کې قرار لري.

طالبان غواړي په یو اړخیزه توګه د حکومت د منبر نه شته تضادونه د خپل باورونو په محور باندي له منځه یوسي. که

اړتیا وې زور کاروي، مذهبي مقدسات په کرغېړنو سیاسي لوبو کې ور ګډوي، د حکومت څخه د مسجد منبر جوړوي.
په لنډه توګه ! افغانستان طالبستان ته وراړوي : د طالبانو په شل میاشتنۍ واکمنۍ کې مدني ژوند له محدودیتونو سره مخ شوې: افغانستان اساسي قانون نلري، د جنکیو او ښځو په تعلیم او کار بندیز لګول شوی، ملي سمبولونه او ارزښتونه لکه ملي بیرغ، ملي ترانه، لویه جرګه، ملي ترمنولوژي (د عربی ترمنولوژي په ګټه)، ملي شخصیتونه حاشیې ته لویدلي او هنر او موسیقي حرام اعلام شوي.
حکومتي چارې د اساسي قانون نه د باندې یوازې د یوې افراطي ډلګۍ پر فتوا چلیږي. دې بنسټپالې ډلګۍ ټول تحریک یرغمل نیولی او په واقعیت کې یې د خپل نظام د زوال زمینه پخپله برابره کړېده.

**بزګر: د طالبانو حکومت د ملایانو نه جوړ شویدي. داسې مالومیږي طالبان د مکتبیانو، متخصصینو او مسلکي کسانو سره نه جوړیږي. د طالبانو دا نه پخلاکیدونکی دریځ به فرهنګي ټولنو ته څه پایلي ولري؟**

استاد تره کی: د طالبانو په راتګ سره په ځینو مواردو کې فرهنګي چارې سقاوي تورې دورې ته وتمبول شوې.
د طالبانو انحصاري واک او د مکتبیانو بې وسي به لاندي ناوړه پایلي ولري :
- د مغزونو تیښته چټکه کیږي او ورسره جوخت ټولنیز انډول د محافظه کارو ډلو په ګټه بدلون مومي.
- په کور د ننه د حق غوښتنې د امکاناتو د نشتوالي له کبله، مکتبیان د بهرنیو هیوادونو غیږې ته پناه وړي. بهرنیان د مکتبیانو د لاسوند کولو له لارې د افغانستان په کورنیو سیاسي تعاملاتو کې ځان د یو اړخ په توګه مطرح کوي.
- د متخصصینو او مسلکي کسانو ډیرو په لویدیز کې زده کړې کړي. د هغوی سره دشمني د لویدیز د کلتور او تمدن سره د ضدیت په مانا تعبیریږي او د طالبانو د حکومت رسمیت پیژندنه ځنډوي.
- طالبان پرته د مسلمانو مکتبیانو او د دیپلوم خاوندانو د همکاریو نه د اساسي قانون له چینل نه د یو ملي، اسلامي او مدرن نظام د جوړولو په لور ګام نه شي پورته کولای چې په پایله کې حکومتي اداره د اوسني عدم مشروعیت او دیپلوماتیکې انزوا په حالت کې پاته کیږي.

**بزګر: ستاسې له انده په اوسني ناوړه حالت کې د طالبانو نظام کومو نیمګړتیاو ته په بیړه باید پام وروړوي؟**



استاد تره کی: طالبان د امنیت په راوستلو او د یو با تقوأ اداري په جوړولو کې خپله وړتیا ثابته کړېده. خو په حکومتي چارو کې نیمګړتیا شته.
اړینه ده چې د طالبانو اداره څو پروبلمونو ته د حل لارې په مقصد لمړیتوب ورکړي :
- د نوي تعلیمي کال د رارسیدو په درشل کې، باید د ښونځیو دروازې د جنکیو پر مخ پرانیزي.
ـ د ښځو د کار په وړاندې شته بندیزونه لرې کړي.
- د اساسي قانون د تسوید په موخه یو مسلکي کمسیون جوړ کړي.
تر څو چې د طالبانو واکمني د اساسي قانون پر بنسټ جوړ نشي، واکمني :
- کورنی مشروعیت تر لاسه کولی نشي.
- د بهرنیانو له خوأ په رسمیت نه پیژندل کیږي.
- د بهرنیانو سره په تعامل کې د ناروا جګړې د تاوان غوښتنه مطرح کولای نشي.

- د بهرنیو جنګي جنایتکارانو د محاکمې دوسیه سزا نړیوال دیوان ته حواله کولي نشي.
- افغان ملي خائنین او مفسدین محاکمه  کولای نشي.
- وسله وال مخالفین د بغاوتګر په نوم ټکولئ نشي. یوازې د اساسي قانون پر بنسټ یو مشروع نظام وسلوالو مخالفینو ته د بغاوتګر تر نامه لاندې سزا ورکولای شي.



**بزګر: اوس د دعوت مجلې ۳۴مه کلیزه ده تاسو د دعوت ډېرې اوږدې مودې د یو تکړه همکار، مرستندوی او ناظر په توګه ستاسو مشوره، او نظر د دعوت په هکله څه ده؟**

**استاد تره کی: مهاجر افغانان چه د نړی په ګوټ ګوټ کې تیت او پرک ژوند تیروي د لاندې دري لاملونو په بنسټ د یو اغیزمن کمونیکیشن لاسوند ته اړتیا لري:**

ـ د خپلمنځي اړیکو د تآمینولو په مقصد .

ـ د وطن د حالاتو نه خبرتیا

ـ د کډوالۍ د ژوند د عقدې د تسکین یومنفذ ته اړتیا.

د افغانستان نه بهر، باندینیو اړتیاو ته افغاني مېډیا او مطبوعات وطنوالو ته وړاندې کوې.

د کډوالۍ په لمړیو کلونو د نړۍ په ګوت ګوټ کې بې شمیره خپرونو په کار پیل وکړ چې زیاتره یې د بهرنیانو له خوآ تمویل کیدلې. د وخت د تیریدو سره جوخت افغاني مطبوعات د عامه ارزونې د فلتر نه تیرې شوې. یوازې هغه خپرونې پاتې شوې چې له یوې خواه یې د تمویل ډاډمنې سرچینې درلودې، او له بلې خوا یې د لوستونکو د هرکلي سره مخ شوې وې.

دعوت د دغه سترې آزموینې څخه بریالې ووت.

زه د دعوت مجلې د تاسیس د پیل نه ورسره د څو دلیلونو له مخې قلمي همکار پاته شوی یم. د دعوت مجلې :

- ډیزاین د معاصر ژورنالیزم او د مالوماتي ټکنولوژۍ پر اصولو ولاړ دی.
- د پښتو او دري خپرونو تر منځ انډول ته پام اړول شوی.

ـ تل یې د ملي او اسلامي ارزښتونو بیرغ اوچت ساتلی.
- د سکتاریستانو، فدرالیستانو او افغان ضد کړیو په وړاندې تبلیغاتي مورچل ته د وخت غوښتنې سره سم تازه نفس مطبوعاتي ملګري ورګډ کړي.

په لنډه توګه! د دعوت رسنیز مرکز د لیکنو آرشیف او کالمونه د محققینو د پاره ستر غنیمت ګڼل کیږي.

بره ټکو ته په کتو سره په وروستیو کلونو کې د دعوت قلمي همکاران زښت زیات شوي دي. د همکارانو په ډله کې علمي کدرونه اوعلي سویه  پښتو او دري لیکوالان شاملیږي. داسې څرګندیږي چې دعوت د ملي وحدت د ټینګښت رسالت ته ژمنه مېډیا پاته شوی.

زه د وفادار قلمي همکار په توګه دعوت مجلې ۳۴ مه کلیزه څوان او تکړه ژورنالیست دروند بزګر ته مبارک وایم. د وطن په خدمت کې د محترم بزګر د لازیاتو لاسته راوړنو په هیله.

## وړانګه لوڼي د دعوت سره په مرکه کې:

# (ریاست – پاکستان) وژني مو هم او پړ کوي مو هم

## د ارمان لوڼي ارمان احمد شاهي جغرافیه او خپلواکي وه

**وژل د پاکستان په سرپرستۍ کیږي خو دلته یې د خلکو لپاره وړې وړې ډلي جوړي کړي او هغوئ ته یې جلا جلا نومونه ورکړي چې فلانی د قام خبري کوي ډز ورباندي کوه فلانی د قام او وطن خبره کوي په بمونو یې ووژنه**

بیا یې سندره د مرې نه زندی کړې ده
له حسرتونو نه یې ځریکي موسیکي خیژي
پتانې پته درته وشوله چې څه روان دي؟
د افغانانو په دار بیا د سر سړي خیژي
بدبختانه،کلونه کلونه کیږي چې د پولي دواړو غاړو ته په خاصه توګه د پښتونخوا د افغانانو د سر سړي په دار خیژي، وژل کیږي، ډبول کیږي او د زندانونو ورووسته ځیني ترې تم کیږي.

نن د لر او بر افغانستان او افغانانو د سر سړی د یووالي په ارمان او افغانیت ته په وفادارۍ شهید د ولس له درده مړ شهید او د دي خاوري په ننګ شهید ارواښاد ابراهیم ارمان لوڼي څلورم تلین دی.

ارواښاد ارمان لوڼی څلور کاله وړاندي د پاکستان د پولیسو لخوا په شهادت ورسید.

نن موږ په دا ځل مرکه کې د شهید ارمان لوڼي په ژوند، شخصیت، فکر، فن او مبارزي د ارمان صیب له خور هم فکري، ملګرې، د سنګر مبارزي ځواني سیاست مداري وړانګي لوڼۍ سره خبري کړې او د همدې تر څنګ مو پوښتلي چې د لوی افغانستان د سر سړي ولي وژل کیږي؟



د ارمان صیب د ژوند فکر، مبارزي او شخصیت تر څنګ به ستاسو ادا پوښتنه هم حل شي.
تاسوبه په دې هم وپوهیږی چې اصل کیسه څه ده څه اړين دي چې ادا وژني نوري تکرار نه شي او افغانان هم وکولای شي ژوند وکړئ.
( لوپټې مو له دستاره کمې نه دي)

پتانه ژوند: محترمې لوڼۍ! که تر هرڅه مخته راته د شهید ارمان لوڼي صیب، په ژوند او فکر ووایاست څرنګه یو شخصیت وو چیرته زیږیدلی او اوسیده،زدکړې یې څومره کړې وې؟

وړانګه لوڼۍ: ډېره مننه. د ارمان په ژوند او فکر که خبري وکړو د ارمان ژوند چون د پښتونخوا وطن دی، زموږ په وطن باندي دومره یرغل شوی د پردیو لخوا که څه هم وطن مو له شتمنیو ډک ده خو بیا هم یو خوار وطن ده خلک ډېر خواران او له خوارۍ سره مخامخ دي. ارمان هم د دې ټولني یو بچی وو چې له سختو خواریو سره مخامخ شوی، پلار یې ډریور، شپون او داسي نوري سختۍ نو هغه ټولو شیانو ته چې ده کتل او خپل ژوند یې برابراوه خپلي خویندي وروڼه یې له سختیو رایستل نو د دې لپاره ده په ځان باندي ډېر کړاونه تیرول د پلار سره یې ورځني کارونه کړي

دلته شا وخوا چې به ارمان مکتب ویل په سنځاوی، بوري، لوڼي او نانا صاحب زیارت کې یې مکتب وایه کله چې به په رخصتي لوڼي سیمي کور ته راغی نوزموږ پلار به د کلي پسونه او غواګاني په کرایه اخیستي وې او څرول به یې او ارمان هم ورسره څرول او بیا چې زموږ کور سنځاوی ته کډه شو نو هلته یې بیا مزدوري شروع کړه په هوټل کې یې کار پیل کړ، په پمپ کې یې کار کاوه کله چې له ښوونځي خلاص شو د وریجي خرڅونکي سره یې دکانداري کوله. د سکرو په کانونو کې یې کارونه کول درزي توب یې شروع کړ، خیاطي یې کوله خیاط وو .

نو دا ټول دکړاونو ډک ژوند یې وو بیا په شخصي ښوونځي کې استاد وو خپل سبق یې هم ورسره وایه تر هغه پوري چې دی لکچرر شو او ترهغه پوري یې سبق وایه چې په پښتو کې استاد وو امپیل یې وویل امپیل یې په منځ کې پاته شو، ساینفسیز یې جمعه کړي خو تیزیس یې نه کړ پوره.

او د ارمان فکر، ارمان یو نظریاتي او په اولس او خاوره مین انسان وو ارمان یو مترقي انسان وو ارمان وطن پاله وو، ارمان که ژوند کړی د خوارۍ او غریبۍ سره یې سم سیاست هم کړی کام پاله او وطن پاله سیاست په خاوره یې ځان خبر کړی په وسایلو او خپلو شتمنیو خبر وو په خپل تمدن او خپلو جمالایاتو، د خلکو چې کوم افکار وو له دې سره اشنا وو خپل سیاسي فکر یې درلود خپل سیاسي قبله یې لرله.

ارمان ټولنیز ژوند کاوو، د ارمان فکر دا وو چې باید پښتون کام دې د خپلې خاوري او وطن د ساتلو لپاره سهار او ماښام مبارزه وکړي، چون وطن غریب دی دوی به کور هم ساتي خوارۍ سره به هم جنګ کوي او له هغه دښمن فکر چې زموږ په وطن یې رانغنه ایستي او موږ یې غلامان ساتلي یو یا یې وطن نیولی نو د دې د خلاصون لپاره به موږ کار کوو او داسي کار به کوو چې وطن ته نجات ورکړو.

نو ارمان سیاست هم قام پال سیاست کړی، ارمان چې شاعري کړې په هغه کې د وطن وسایل دردونه هرڅه راښکاره کړي دا یې څیړلي دي. ارمان چې کوم نثر لیکلی د خپل وطن روان ریښتیني حالات او زورور ظلم غندلي او راسپړلي دي.

ارمان د ادبي تنظیم ملګری او شاعر وو.

ارمان د سیاسي تنظیم ملګری وو چون سیاسي کارکوونکی وو، ارمان د پښتونخوا ملي پارټۍ سره ملګری وو، بیا چې کله دا غورځنګPTM شروع شو نو په پي ټي ایم کې یې مخکښ رول ولوباوه، هر احتجاج او هره جلسه او مجلس ارمان او د ارمان ملګرو سره راجوړول او تنظیمول او بیا به مشران راتلل مطلب دا د غورځنګ جلسی ارمان په سر اخیستې وې د پښتونخوا غورځنګ لانه وو راغلی نښې یې وې او مخکې چې د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ وه احتیاجونه به یې کول جلسې او مشاعرې به یې کولې نو د ارمان هر ګام د دې لپاره وو چې د وطن بچې له دوی څخه څه ادراک واخلي او د قام او وطن په مسایلو ځان خبر کړي او د دې لپاره کار وکړئ او دلته چې څومره غورځنګونه، پاڅونونه او تنظیمونه دي او په دې کې هرڅوک خپله خپله برخه او ونډه واخلي او د وطن د احمد شاهي جغرافیې لپاره کار وکړئ.




ارمان په سینځاوی کوره اسپتال په سیمه کې زیږیدلی وو او ښوونځی یې هم له هغه ځایه شروع کړی وو. له لومړي ټولګي تر دریم ټولګي پوري، څلورم یې په نانا صاحب زیارت کې ویلی او پنځم یې په لوڼي کې ویلی وو شپږم یې په بوري باور کې ویلی وو ، اووم کې وو چې زموږ کډه بېرته سنځاوی ته ولاړه، او اووم یې په سنځاوی کې تر لسمه دولتي سبق ویلی او بیا یې شخصي

امتحانونه ورکړي تر ماسته پورې بیا یې ایم پیل ریګولر شروع کړی وو په کوټه ینوزستۍ کې خپل ساینپسیزه خو یې جمعه کړی وو او دوی په خپل تیسیز باندي کار کاوو او یو چپتړ یې هم شته چې په دې منځ کې د غورځنګ او ارمان دا پیښه وشوه.
او په دې وروستیو وختو کې چون چې موږ په سنځاوۍ کې وو چې موږ بیا د سنځاوۍ نه د سبقونو لپاره کوټې ته ولاړو نیم کور مو په سنځاوۍ او نیم کور په کوټه کې وو، بیا موږ ټول راغلو کویټې ته په کویټه کې غورځنګ شروع شو په غورځنګ کې د استخباراتي ادارو کیسه او حالات سخت وو بیا موږ کلا سیف الله ته راغلو د ارمان د ژوند اخیري شپې چې وې موږ په کلا سیف الله کې وو او د اپیښه را منځ ته شوه ارمان شهید کړای شو په لورلاي بوري کې او بیا مو راوړ خاورو ته مو هم په کلا سیف الله کې وسپاره.

پتانه ژوند: محترمه لونۍ! شهید ارمان لونۍ صیب ستاسو ورور وو او تاسو یې تر هرچا ښه پیژنۍ.
که دا راته ووایاست ولي یې داسې سخته مبارزه پیل کړه چې ځان یې مرګ ته ورکړ او څه دې ته اړ کړ داسې څه وو چې ورته د منلو وړ نه وو ؟

وړانګه لونۍ: داسې ده موږ چې په کوم وطن کې اوسو یعني چیرته چې موږ ژوند کوو یا دا محکومه پښتونخوا یا لوی افغانستان کې دا حالات داسې را جوړ شوي کوم چې یوه ورځ هم موږ داسې نه ده په اسانه تیره کړې نو بیا داسې ویښ خلک چې د قام په درد خوږیږي او د قام غم ورسره وي هغه غواړي چې یو شی بدل شي کومه دوامداره غلامي او یا دا د تکلیف ژوند



چې دی دا بدل شي د هغه لپاره خلک مبارزه کوي د هغه لپاره یو کار روان وي، نو داسې د سختو ژوند چون که ته مبارزه کوې که نه کوې پښتونخوا وطن د سختو سره مخامخ دی. دلته که څوک سیاست کوي که یې نه کوي خو په بم چاودنه کې الوځي او که څوک په سیاست کار لري کنه یو پټ مخي راځي ولي یې، وژني یې او ځي روان شي ترې، نو دا رنګه ارمان دا حالات لیدل او په دې یې مبارزه پیل کړه. حالات سالنډي ته را رسیدلي وو د مبارزې کار روان وو تر دې پخوا د خان شهید، باچا خان په شکل کې چې وو د هغو د وخته دا مبارزه روانه ده او دا له هیچا پټه نه ده څوک چې قومي سیاست کوي د قام او د وطن خبره کوي هغوئ به تکلیفونه خامخا پالي او تیروي، دا لاره روښانه وه موږ ته د خان شهید معلومه ده چې د ده شپیته کاله عمر وو نو دیرش یې په زندان کې تیر کړي پنځلس په ماشومتوب کې یعني خپل نیم عمر یې په زندان کې تیر کړی. نو همدا رنګه د هغه وروسته چې کوم خلک راغلی موږ شهیدان ورکړي موږ جیلونه ګاللي کارو بارونه مو ختم شوي.
نو ارمان هم د هغو سلسلو کړی وه چې له باچا خان او خان شهید کوم چې له لوري چې موږ دا لړی را واخلو.
خو د قام او د وطن ساتلو دا زنځیر چې کوم روان دی دا یو وخت هم نه دی مات شوی په دې کې هرچا خپله خپله کړی اچولې نو ارمان هم دا لیدل او کتل چې دا به خامخا سخته وي.ارمان د دې یوه کړی وو.
دلته دا حالات داسې دي چې تا مجبوروي چې ور شې او یو سخت شي ته لاس ور واچوي، هغه به خامخا یو څوک کوي د دې مبارزه، دې ظلم ته دریدل. ارمان به دا ویل که چیرې موږ بل

نسل ته انتظار کوو چې هغه به راځي  نو ولې موږ دا مبارزه نه پیلوو .

نو ارمان خپله مبارزه پیل کړه دې حالاتو د وطن بدبختیو، جنګ، ارمان دې ته مجبور کړ چې داسې مبارزه پیل کړي او ارمان په دې پوهیده چې قامي مبارزه چې کوم ده دا باید په قامي توګه اوسي او د قام نیمه ابادي چې ده هغه موږ کور کښېنولې ده ارمان دې شي ته هم په ژور نظر کاته. ارمان به ویل چې باید د قامي مبارزې د لښکرو ملګرتیا چې کومه ده دا باید زموږ خویندې میندې او لوڼې هم وکړي  نو په دې یې موږ ته دا لارې چارې ښودلې او راخلاصې کړلې چې موږ هم په دې صفونو کې ور ګډې او برخه شو نو ارمان هرڅه کتل چې د وطن د خلاصتیا وخت دی نو د ارمان یو شعر دی چې وایي:

( افغانه پاڅه نور په نوې لار د تلو وخت دی

خبره ورانه ده د پریکړې د کېدو وخت دی

ځوانه ستا څه رایه ده زما تجویز ته څنګه ګورې؟

زه یم ډیورنډ د ګرد ملک د ختمیدو وخت دی)

نو هغه دا حالات  کتلي او دا منلي وو  چې سختې پریکړې به کوو د وطن په دفاع کې به دریږو په دې کې به خپل سرونه ورکوو وینه به تویوو ترڅو خپل وطن نه کړو ازاد  او د هر قام ولسونو چې ازادي اخیستې او هغه یې د لویو لویو قربانیو وروسته اخیستې نو موږ به هم قرباني ورکوو. نو ارمان هم یو له هغو خلکو وو چې د وطن د خپلواکۍ ارمان یې لره او د وطن د ازادۍ په دې لاره یې سر هم خلاص وو چې سرونه به بایلو نو هم یې د هغه ارمان لپاره مبارزه وکړه چې ارمان پوره کړي او د هغې مبارزې په لړ کې خپل سر هم ورکړ.

پتانه ژوند: محترمه لوڼې! ارمان صیب څنګه سیاست ته راغی؟ کله چې ژوندی وو څه غوښتنې یې درلودې چې باید پښتنو ته څه وشي او پښتانه باید څه وکړي؟

د پاکستان له حکومت نه یې غوښتنه څه وه د پښتونخوا او د افغانستان لپاره د هغه د سیاست او مبارزې دریځ او غوښتنه څه وه؟



وړانګه لوڼی: هغه خو ما اول خبره وکړه چې دپښتونخوا حالات موږ مجبوروي چې سیاست ته راشو او قامي سیاست وکړو نو ارمان هم دا حالات ځارل د تحصیل پر مهال دی په پیسو کې شامل شو د عوامي پارټۍ سټوډنټانو تنظیم چې کوم ده، د هغې د لارې یې غوښتل چې د دې قام او وطن لپاره باید یو څه وکړم نو سیاست ته له پیسو راغله او راتلی او بیا د پارټۍ په منځ کې پشتون تاحود یا پشتون ژغورني غورځنګ جوړ شو بیا د هغه مخکښ ملګری شو له ماشوم والي او تر اخیره په سیاست کې پاته او په دې قامي سیاست کې سر هم قربان کړ، د هرې سیاسي غوښتنې د هر اتل غوښتنې او د هر هغه شهید غوښتنې چې د دې قام او دې خاورې باندې یې سر ورکړی د هغو غوښتنې خپلواکې وې د هغو غوښتنې ازادي وې. د ارمان غوښتنه دا وه چې دا وطن ازاد کړي د دې وطن د خپلواکۍ خوند واخلي دا ولسونه دا ولس د خپلواکه ژوند خاوندان شي خدای (ج) موږ ته ډیر شتمنه خاوره راکړې له شتمنیو ډکه ده ارمان دا غوښتل چې د دې له شتمنیو ډک هیواد مالکان دوی په خپله شي.  ارمان دا غو ښتل چې د پښتونخوا سپین ږیرې، ځوانان او ماشومان چې دا کوم جنګ ځپلي دي.دا جنګ ختم شي دا ښځې چې زموږ په وطن کې درې درې وارې کونډې شوې دي، د دې لړۍ ودریږي. نو

ارمان دا ارمان درلود چې دا خاوره او دا اولس خپلواکه شي او په خپل واک ژوند وکړي.

نو د ارمان د قبر د سرپه ډبره هم دا ليکلي شوي

(که وم ژوندی د ازادۍ د اتڼ برخه به يم

که چيري مړ ومه نو زيری مې تر ګوره راوړئ)

نو هغو غوښتل چې ازادي راشي موږ د ازادۍ د اتڼونو برخه شو، او کنه وي ازادي زموږ سرونه غواړي موږ به سرونه ورکوو او که چيري موږ نه وو او سرونه مو بايللي وو نو دا زيری به بيا هم ګور ته راوړئ قبر ته بې راوړئ .



چون چې موږ دلته په يو هيواد کې اوسو هغه پاکستان ده د پاکستان ايين ده موږ په ايني توګه د پاکستان سره تړل شوي يو د يو اين د لاري تړلي يو، خو دلته چې ګوندونه (پارټياني) دي که غورځنګ شروع دي موږ چې کله پي ټي ايم پشتون تحفظ مومينټ شروع شو نو موږ يو څه غوښتني ورته کېښودې چې دا غوښتني دي او دا غوښتنې د پاکستان دننه وي چې دا زموږ غوښتني دي موږ مه وژنۍ، زموږ د وطن واک موږ ته راکړئ موږ ته يوه سوبه راکړئ موږ ته چې ټوله کومه محکومه پښتونخوا ده دا په يوه سوبه کې راکړئ او همدارنګه زموږ د وطن د جوړولو لپاره کار وکړئ او دا کوم ترهګر چې موږ ته راځي، موږ ورته صفا ويلي چې د دې تر شا وردی ولاړه ده دا وردی يا پوځيان يا ISI ای ايس ای چې د دوی ټولي کومې استخباراتي اداري دي دا ټولي د دې ترهګرو (دهشتګرو) سرپرستي کوي د دې لاره ونيسۍ دا تاسو کوئ .نو موږ به د دغه لارو له لاري دوی ته ور شکاره کول. د ارمان په 2016 کې شعر ده (د ترهګرو شاته لاس ده د وردۍ خبر شئ

په ديواله کاږم دا شعار ما احتجاج کړی ده)

نو له هغه تيمه موږ ورته وايو چې دا کار د حکومت يا د پاکستان اداري چې کومې دي د دهشتګرو شاته ولاړي دي پاکستان بايد د خپل ايين چې موږ ورسره تړلي يو د دې ايين پاسداري وکړی او د دې ايين هر ارټيکل ومني او موږ ته امن راکړي چون موږ که په زوره راوړل شوي يو هم خو د دې وطن په تنظيمي چوکاټ کې دننه يو، نو د ايين او د پښتونخوا چې کوم تنظيمي چوکاټ ده په هغه کې دننه چې د پښتون تحفظ مومينټ د ايين دننه غوښتني دي دا غواړو او خپل حقوق غواړو، زموږ د =Land mines ځمکني ماينونه دي لري کړای شي =Check-points دی لري کړای شي زموږ د وطن دهشتګردي دي ختمه کړای شي، زموږ =Missing Percentage ورکه فيصدی د حق دې بيرته راکړي، Selection commission= جوړ کړي، نو موږ ملګري وو او دا مو له پاکستانه غوښتني وې.

ارمان سفا مجلس کوو او د ارمان هم يو ارمان وو چې هغه احمد شاهي جغرافيه جوړه کړي، معنا د احمد شا بابا چې په کوم وطن باچاهي وه يا احمدشاهي جغرافيه چې زموږ کومه وه او محکومه پښتونخوا په افغانستان ګډه وه او دا نوري علاقې چې زموږ جلا شوې يو لوی افغانستان وو.

نو د ارمان چې د افغانستان لپاره مبارزه يا چې کوم دريځ وو هغه چې موږ به يو لوی افغانستان جوړوو.

پتانه ژوند: محترمه لوڼې! کله چې به تاسو د ارمان صيب سره وی معمولاً به يې په څه بحث کاوه او په خبرو کې به يې ټينګار په څه کاوه څرنګه چلند يې درلود په ځانګړي توګه د کورنۍ سره د خويندو ورونو او د بهر خلکو سره؟

وړانګه لوڼې: موږ چې به کله هم مجلس کاوه له ارمان سره نو هر اړخيز مجلس به مو کاوه، معنا موږ به ټولنيزو حالاتو، په قامي حالاتو، په کورني حالاتو په دې ټولو مو خبري کولې. ارمان به په شعوري ډول يو داسي مجلس منځ ته راوړ چې په خاصه توګه موږ نجوني خويندي دي ته مجبوره کړي چې د هغه بحث برخه شو، چون ارمان زموږ مشر ورور وو او بيا وريسې نور ورونه او خوندي

یو، نو ده به هر وخت چې یو مجلس وو نو په سړو پورې به یې یواځې نه محدوداوه، مجلس



بې په کور کاوه او په مجلس کې بې زه، زما خویندې مور، دا به یې خامخا په شعوري ډول رغول. دا یو تاثر یې ورکاوه چې تاسو د دې کور یوه برخه یاست او باید دا ښځې چې کومې دې په فیصله سازه ځای کې کښینې او دوی هم د فیصلو برخه وګرځې. که به چیرته یوه کورنۍ فیصله وه او یابه سیاسي مجلس وو مور به شتون درلود او سیاسی مجلس به خامخا ارمان په نغري په کور کاوه. د وطن په حالاتو به مور خبري کولې که به چیرته یوه پیښه رامنځ ته سوې وه د حالاتو په باره کې به مور ډیر په تفصیل مجلسونه کول، او بل د ارمان زیاتره ټینګار په دې وو .

ارمان یوه لویه نقشه کورته راوړې وه، چې ده پخپله کوټه کې ځوړنده کړې وه نو په هغه نقشه بې زموږ د پوهاوي لپاره مجلس درلود ترڅو موږ خبر شو چې زموږ وطن کوم ده له کومه ځایه را جلا شوي یو. تر څو موږ دا خپل هیواد او جغرافیه وپیژنو او خبر شو او څرنګه موږ کولای شو چې دا بیرته وژغورو.

او کیسه هم همدا ده که چیرته موږ خپل وطنګټل غواړو اول باید خپله جغرافیه وپیژنو. او قامي سیاست کیږي په دې چې ستا یوه ځانګړې ژبه وي جغرافیه دې وي شریک کلچر دې وي شریک نفسیات دې وي.

نو ده به موږ ته نقشه راښودله په دې به یې ټینګار کاوه چې موږ خپل وطن وپیژنو، او څه روان دي په چا چا یې ګډ کړي یو نو هغه شیان بې موږ ته راښودل.

ارمان یو داسي خوږ د سړي سیني انسان وو چې هغه به زموږ سره هر وخت په خندا ټوکو ټکالو به مو مجلسونه کول، ارمان هیڅ موږ ته داسي احساس نه راکاوه چې موږ دې په دایرو کې واوسو کوم چې دپښتونخوا د نورو ورونو مخکې د خویندو سره د چلند دایرې دي. زموږ سره یې چلند صمیمانه او د ملګرو چلند وو، کوم چې څوک د ملګرو سره ازاد مجلس لري نو زموږ هم همداسي وو.

نو ارمان به هرکله موږ ته ویل چې کومه کیسه وي نو موږ باید لومړی په دې باندې په کور کې مجلس ولرو چې هغه داسي چې زموږ د کور کومه مسئله ده یا کومه مسئله د باندې ده لومړئ په کور کې تکرار شي موږ باید په یو او بل دومره باور ولرو چې موږ یو بل ته خپله خبره ښکاره وکړو او خپل رازونه خپلو ته ووایو، که چیرته ماته یوه مسئله راپیښه ده او زه دا د باندې یو دریم کس ته وایم تر دې دا ښه ده چې په کورکې یې ووایم او تاته چې هره مسله پیښیږي اخیري حل بې خامخا کور راباسي نو دا ښه ده چې اول به په دې مجلس کور خبروو.

نو د ارمان دا یوښه خوی او خاصیت وو چې کوم چې موږ په بیرون کې درسونه ویل د یو رنګه سختو حالاتو سره کوم چې د پشتونخوا وضیعت وو او موږ په داسي وضیعت کې په خپل ځان باور درلود چې په هر رنګه ترینګلي وضعیت کې موږ کولای شو مخته ولاړ شو که څه هم موږ نجونه وو نو دا هر باور او اطمینان چې وو موږ ته ارمان راکړی وو.

ارمان به ویل چې ته انسان یې زه هم انسان یم زموږ په چم صرف فرق زموږ دا ده چې موږ له تاسو باچایي نیولې ده او دا باچایي د حلوا قاب نه ده چې زه یې تاته درکړم. هر انسان خپله باچا ده نو باید ته خپله دا مبارزه وکړې چې ته خپله ځانته خپله باچایي وګټې، باید خپله خپل ځانته خپله برابري وګټې، دا ستا کار دی زه یې دومره درښودلی شم چې یو ځل موږ غلام یو او بل ځل بیا

تاسو د غلامانو غلاماني ياست، نه داسي نه کيږي بايد تاسو ځان د برابري ستيج ته راورئ .

او د برابرۍ د ستيج راوړو لپاره کوم کارونه پکار دي چې بايد وشي. هغه به ټول ارمان موږ ته په روښانه ډول ښودل. د باندي د ژوند کولو چل، دکور د ژوند کولو چل. دا يې ټول راښودلي وو، بيا يې موږ پرېښودو چې ځئ خپل سبقونه ووایاست بیا موږ اکاډومیانو ته تلو، کالجونو ته تلو. کومې فيصلې چې وې بيا نوري موږ خپله کولې،خالي به مو دی خبر کړ چې داسي کار دی. نو ارمان زموږ د ډاډ او د ملګري په څير ورور وو. د ژوند د مختو وړلو هنر يې درلود او د انسانيت په برخه کې يو

مهربانه او بشپړ انسان وو.

او د بيرون د خلکوسره چې د ارمان کوم چلند وو ماته چې اوس کوم د ارمان ملګري راځي او ياېي زه کوم ملګري پيژنم نو هغه ټول همدا وايي چې ارمان به کوم يو ځل هم چا وليد نو هغه به دومره ورخپل شو چې چا به دا نه ويل چې دا موږ په لومړی ځل سره ليدلي ارمان د ژوند ترڅنګ د ملګرتيا هنر درلود.

چون دلته د پښتونخوا قبايلي وطن ده نو خامخا د ملګرو تر منځ کومه مسله راځي بيا د ملګرو د يو بل سره اختلاف راځي او نه سره کښيني. نو ارمان دا چلند نه درلود ټول خوابدي ملګري به يې يو ځای سره کښينول.

ارمان داسي يو څوک وو داسي پُل غوندي رول يې وو. د اختلاف باوجود به د ارمان په وړاندي ټول ملګري يوځای سره کښيناستل. د ارمان چلند د کورنۍ د غړو او يا د بهر ملګرو سره هغه که ښځي وي او يا نارينه د هيڅ يو ملګري په وړاندي يې چلند توپير نه درلود.

پټانه ژوند: محترمې لونې! تاسو هم يوه پوهه سياست مداره ياست ايا د دې بريا او همت او جرئت ترشا مو د شهيد ارمان صيب لاس ده؟

وړانګه لونې: داسي ده هر چيرته هر څوک چې هر څنګه کار کوي که هغه ښځه وي او که سړي د کور د خوانه يو باور ورکول کيږي، چې ورته ووايي چې ته چيرته ځې څه کوې زه په تا باور لرم ته ځه.

نو دا انسان ته يو ډير لوی قوت او طاقت ورکوي.



نو زموږ د جوړښت وشاته چون چې زه هم په داسي يوه ټولنه کې پيدا سوي او لويه سوي يم چې هلته د ښځو کردار او کار ډير محدود وي او ښځو ته په ټيټه سترګه کتل کيږي نو له داسي يوي ټولنې راوتل او بيا ځان ته د يوي بدلي ښځي فکر کول، چې ما ځان داسي وګڼه چې زه د يو قام د ښځو او ځان لپاره يو څه کولای شم نو دا يو سوچ ماته راکول شوی وو ماته په لاشعور کې رالويدلی وو، او ستا شعور او لاشعور مطلب ته ستا له چاپيرياله خپل شيان او ادراک را اخلې او چې ستا شاته څه روان وي هغه ته را اخلې او ته يې راټولوې په خپلو مغزو کې يې ګډوې.

نو ارمان په غيري مخصوص انداز باندي به يې دا رنګه کارونه کول چې موږ به يې را وينبي کړو. نو زموږ به يو رنګه يو څه ته فکر ولاړي چې دا څنګه کيدای شي؟ دا خو داسي هم کيدلی شي.

هغه وخت په کلي کې په سيځاوی کې مکتب خو بيخي لري خبره وه.مګر نجونو ته د ډيرو شيانو کمي وه او بيا کوم چې زموږ

په خپلوانو کې او یا چیرته چې موږ اوسیدو هغه چې کومه بې معاشه او غریبه کورنۍ وه هغه زموږ وه.

نو په داسي حال کې زه به تلم خصوصي مکتب ته کوم چې چا کتابونه نه پیژندل موږ ته به کتابونه ول ارمان به راته راوړل چې دا وواياست.

زه هغه وخت وړه وم مابه د یونیورسټۍ نومونه اخیستل د اکسفورډ او داسي نور، چې زه به دا پوهنتون وایم ارمان به راته په ډاډ سره ویل چې تا به زه هلته حتمي بیایم ته به لوستل کوې.

نو زه دا خبرې په دې کوم چې ده په لاشعور کې را اچول چې تاسو یې کولای شئ.

دا سبق، همت، سیاست، د باندې وتل، د خپل ځان او ولس لپاره دریدل او جګړه کول د هر انسان کار دی باید هر څوک یې وکړئ.



تر جنس ډیر لوړ سبق ارمان ښودلو، هغه په دې منځ کې ښځه او نر فرق دا ټول ختم کړي وو. موږ ته یې یو ډیر لوړ سبق راکولو.

نو هغه وو چې موږ په دې لارو ولاړو او هغه شیان مو راخپل کړل او بیا زه چې کله سیاست او سیاسي میدان ته راتلم نو زه بیخي د ارمان سره په څنګ را ووتم او کله چې موږ د باچاخان تلین وو هلته یو غونډه وه موږ تللي وو او داسي به مو تل سټوډي سرکلي کولي او په داسي ځای کې موږ غونډې کولې چې هلته به عام سره ښځې نه تلې مګر زه به ورتلم او خبرې به مې کولې نو ارمان به دا ویل چې راځه داسي ځای ته تګ پکار ده نو دا که یوه غونډه ده نو ته هم له دې خلکو یو څوک یې باید چې دلته کښېنې دلته د خپل علم او خپلې لپاره کښېنې.

نو موږ دا کارونه جاري ساتل د خلکو دوستانو سره به مو په کتابونو خبرې کولې.

نو بیا چې کله د پي ټي ایم دا اول پښتون غورځنګ په ملاتړ په کوټه کې اول یو سیمینار راجوړ کړی وو د پښتون قامي جرګې له لارې یوې مظاهرې غونډې راجوړه کړې وه د اسلام اباد د پرلت په ملاتړ کې. نو ارمان ګرد سره خبر نه وو زه ورغلم مجلس مې وکړ بېرته راغلم هم نو ارمان ته ملګرو ویلي ول چې ستاسو خور راغلې وه خبرې یې وکړې ډېره تکړه وه. نو ارمان زما څخه پوښتنه وکړه چې ته تللې وې مال هو زه لاړم خبرې مې هم وکړې.

نو ارمان داسې موږ جوړې کړو چې بیا بغیر د چا د ویلو موږ ګډون کول په هره غونډه کې په دې چې نور ارمان اطمیناني وو چې اوس نور ضرورت نشته ما ورته مکمله ښوونه کړې بیا موږ په خپله هغه لارې خپلې کړې.

پتانه ژوند: محترمې لوڼې! ارمان صیب شاعري هم کوله شاعري یې څنګه پیل کړه او د سیاست ترڅنګ یې د شاعرۍ اړوند څومره لیکنې کړې او کتابونه په چاپي بڼه هم لري؟

وړانګه لوڼې: ارمان شاعري د ښوونځي له وخته شروع کړې وه کله چې دی سیاست ته له کوچنۍ ځوانۍ نه راغلی وو نو همدا رنګه یې شعر هم د هغې دورې څخه پیل کړ وو.

د ارمان شاعرۍ ټوله په وطن او په قام باندې راګرځي. ارمان شاعري هم د قامي سیاست په لار شروع کړې او ارمان لیک هم په دې پار کړې چې ملي مسلې، سیاسي مسلې او قامي مسلې

رامخته کړي یا زما د وطن چې کومې بد مرغۍ دي هغه په خپل لیک او شاعري کې راوړي.

د ارمان یو شعر ده!

(ځم پرې کوم لالا زما د بچو غم به کوې که چیرته رانغلمه
ځم پرې کوم دا ازغن تار ما احتجاج کړی دی)

نو دا ډیر پخوانی بیت دی

ارمان په سیاست کې هم قامي مسله څیړلې ده او په شاعري کې هم قامي درد څیړلی ده.

د ارمان لیک چې کوم دی اکثره لنډې کیسې، مقالې او دا یې لیکلې دي او په لنډو کیسو کې یې د وطن خراب حالات چې کوم، کوم څوک پکښې رول لري هغه یې ډیر ښه راسپړلي دي. د قام او د وطن چې کوم زورور خلک دي د دوی پکې رول دي هغه څنګه وطن یا ټولنه چې کومه ده هغه څنګه خرابوي او دې تاته څنګه کار کول پکار دي او دې ته ځوانان څنګه تیارول پکار دي؟



د ارمان لیکنې چاپ شوی نه دي یو څو لنډې کیسې یې چاپ شوې او زما خیال (پاکستان زنده باد) زما شک ده چې چاپ ده او داسې د کتاب په بڼه چاپ نه لري په مجلو کې چاپ شوي دي. د ارمان غزلې هم نه دي چاپ شوې یو څو په فسبوک شته.

ارمان خپل اثار چاپ ته نه ورکول ما به اکثره ورته ویل چې ته دا کومه شاعري او لیکنې ستا دي باید دا چاپ کړې.

د ارمان داسې عادت وو چې یو بیت به یې د شعر په یو کوچني کاغذ ولیکه هغه به یې ورک کړ بیا به یې بل په بل کاغذ ولیکه.

نو زما به هر وخت په همدې ورسره خبره وه چې ته باید دا شعرونه چاپ کړې نو ده به ویل چې زه دا چاپول ماپول نه کوم زه صرف لیکل کوم.

نو زه اوس د یو پلان له مخې لګیا یم د ارمان شعرونه او لیکنې راټولوم چې په یو ترتیب سره یې چاپ ته ورکړم.

پتانه ژوند: محترمې لونۍ! په خواشینۍ سره ارمان صیب چیرته وو او څرنګه شهید کړای شو لامیل یې څه وو او ایا ویلای شئ چې دا ظلم د ارمان صیب او د ملت سره چا وکړ موږ ملت ته څه وواېو چې دا څوک دي چې د پښتنو د سر سړي اخلي او ولې یې اخلي ایا دا دښمن پټ ده که ښکاره؟

وړانګه لونۍ: ارمان چې کله پشتون ژغورني غورځنګ شروع شو موږ په هغه کې خپله مبارزه پیل کړه جلسې مو شروع کړې. چون کې چې هغه یوه سخته مرحله وه ډیرسخت کار وو هلته احتجاج، جلسه او جلوس کول. خو مګر بیا د خلکو ملاتړ ډیر وو نو ریاست یو قسمه په منډه وو هغه هره حربه کاروله.

نو کله چې غورځنګ شروع شو نو بیا په ځانګړي ډول ارمان خپل ښکاره هدف ډیر ژر په دې وو چې ارمان یو خپله سهار ماښام پوره وخت ورکړ وو 24ساعت ده کار کول د یوې دقیقې لپاره هم نه ده کښېنستی چې چیرته به هم کومه جلسه او احتجاج وو د ارمان به دا کار کاوو.

ارمان به ویل چې دا یو ښه فرصت دی چې موږ ته راکړل سوی باید موږ په دې غورځنګ کې خپله زحمت وباسو او سهار او ماښام کار وکړو چې دا وطن له دې بد مرغیو خلاص کړو.

نو بیا دلته چې کومې پېښې کېدې د نقیب شهید پیښه وسوه نوري چې کومې پېښې وې بیا چې کله په کوټه کې، په کراچۍ کې ډرنه وه علم زیب مسعود چې یې پورته کړ له هغه بعد هغه کېسه لا روانه وه دلته په بوري کې په پولیس ټرینګ سنټر باندې چې کله دوی سټوډنټان راوستي وو د ټرینینګ لپاره نو په هغه کې چاودنه وشوه ډیر ملګري پکښې ټپیان او شهیدان شول. نو دوئ د دې پېښې په خلاف په بوري کې ډرنه وه ارمان چې له کراچۍ نه راغی کورته نه ده راغلی سیده بوري ته ولاړی، نو هغه ناسته یې وکړه یوه ورځ کېښناستو او دا شپه یې بیا راوړه کورته او بیا بېرته ولاړی ډرنې ته او هغه شپه یې هلته په ډرنه کې تېره

کړه نو په دا بله ورځ مازدیګر چې کله د پولیسي انتظامې سره مذاکرات وشول او دوی ډرنه ختمه کړه او له ډرنې را روان وو او دلته چېرې چای کړي ول له هغه ځایه چې راووتل نو پولیس وربانديې را ګرځیدلي وو د دوی څخه یې یو ملګری نیولی وو نو چې په هغه کوم تور نه وو نو دوی د پولیسو سره په خبرو وو چې ملګری یې باید ونه نیول شي د شا له خوا نورو پولیسو د ټوپکو په کونداغونو په سر وواهه او ارمان هلته بې هوشه شو روغتون ته د وروړو وروسته یې خپله سا ورکړه.

سپینه خبره ده دلته چې ته د قام او وطن د خوشحالۍ، ابادۍ او ازادۍ خبره کوې نو په دې خبرو د ریاست بنسټونه شوریږي نو د دې معنا دا ده چې ستا ریاست زما پر څمکه جوړ دی.

نو هغه زموږ له خبرو نور خو موږ هیڅ نه کول نه مو ټوپکونه راخیستي ول او نه هم ټانګونه موږ خالي خبرې او تقریر مو کول جلسې او جلسونه مو کول نو د دوی هغه جلسې او جلسونه نه شوای برداشت کولای او صفا خبره ده چې د دوی ریاست زموږ په خاوره جوړ دی نو موږ د خپلې خاورې اهمیت خلکو ته بیانوی ارمان په ډېره ولسې او ساده ژبه خلکو ته سر

ورخلاصوی چې روان څه دي او کول څه پکار دي.

نو هغه د ارمان سره چې کوم څه وشو دا زموږ پور د پاکستان په ریاست باندې دی دا کار پاکستاني ریاست کړی دی ځکه چې پاکستان ریاست زما په خاوره جوړ دی او موږ د پاکستان ریاست د ظلمونو په خلاف را وتلي وو.

نو دلته هغه ځیني خلک به وې چې دوی کوم پلان په لاس ورکوي چې پلانې ته له مخه وباسه او پلانکې ته. مګر اصل چې کوم پلان وي د وژلو د چیچیکې راوځي او د ارمان د وژلو منصوبه چې کومه ده دا هم له چیچیکې راوتلې او دلته یې په ارمان باندې وار وکړ دې خلکو ارمان یې شهید کړ د خپل قام او وطن باندې د ننګ په تور یې شهید کړ چې ته د قام او د وطن خبره مه کوه د ولسونو د پرمختګ خبره مه کوه او د دې خاورې د وسایلو او اوبو خبره مه کوه نو په همدې ارمان پاکستان ریاست شهید کړ.

دلته خبره دا ده چې پاکستان هغه خلک ټارګیټ کوي چې څوک پاکستان بیخي له خوړ ګوتې ونیسي، نو ارمان یو داسې انسان وو چې هغه په یوه ډېره شایسته او پسته طریقه یې خلکو ته سرونه ورخلاصول چې دا وطن او دلته چې کوم خلک راځي او ستا وطن یې نیولی هغه ستا د وسایلو د لوټلو لپاره راغلي.

نو ارمان د کراچۍ په پرلت کې مجلس کوي نو هغه یې ډیر مهم مجلس وو



نو وی سکندر اعظم چې کله سوات ته راغلی وو نو پر یو کلي راغی نو یوې ښځې ته یې وویل چې ماته ډوډۍ راکړه نو وایي دې سپین سرې ښځه ورله د یاقوتو او زمروتو کاني راواخستل په یو قاب کېښې ورته کېښېښودل.

نو ده ورته وویل چې زه وږی یم او تا ډبرې راته را واخیستې، ماته مړۍ راکړه. نو دې ښځې ځواب ورکړ چې ستاپه وطن کې هم مړۍ وه اوتر هرچا ښه مړۍ وه ته دلته ډوډۍ پسې نه یې راغلی ته دلته زما د وطن په ډبرو او وسایلو پسې راغلی یې.

نو دلته سکندر اعظم چې په دې خبر شو نو ولړزیده چې یوه ښځه دومره په خپلو وسایلو او زموږ په کیسه خبره ده.

نو بیا چې کله ارمان دې خلکو ته کوم مجلسونه کول ارمان چې کوم د خپل قامې مقدمه چې کومه په څه طریقه وه او څرنګه ده ولس ته ویله او کوم چې دی څرنګه له هنره ډک او منظم سړی وو چې ده دا هرڅه څرنګه برابرول او ملګري یې راټولول او ملګری ځنګه په کار لګول دي,, دا هنر شاید له بل چا سره دومره نه وو کوم چې د ارمان سره وو او په همدې یې شهید کړ او له دې مخکې یې هم په کراچۍ کې یو وار ډبول او وهل ورکړی وو او دا هغه خلک د دې لپاره وژني چې په خپله او پښتنه ساده ژبه خپل

خلک د وطن په دفاع او وسایلو او خپل حق خبروي او ارمان يې هم په همدې شهيد کړ.

پتانه ژوند: محترمې لونې! تاسو چېرته وې چې کله مو واوريدل چې ارمان صيب شهيد شوی دی، څه احساس مو وکړ او نن د اروا ښاد ارمان صيب په نه شتون کې څه احساس کوئ؟ معذرت سره چې دا پوښتنه کوم خو اړينه ده.

وړانګه لونې: زه په کور ولمه ځکه دلته سختي مسئلې وې ارمان زه پيښورته ليږلې وم او ټانګ جلسه وله په منځ کې نو ارمان ماته ويلي وو چې ټانګ جلسې ته راشه بيابه کورته ځو زما څو مباشتي پيښور کې شوې وې نو زه ټانګ جلسې ته نه ولاړم ارمان ته مې ويل چې ته پسې راځه چې زه کورته ولاړم، دوی کراچۍ ته لاړ او هغه وخت زه په کور وم.



چې دی کله له کراچۍ نه لورلايي بوري ته راغلی په بوري کې دا پيښه وشوه. زه په کور کې وم موږ ټول چې د پښتون ژغورنې غورځنګ غړي وو موږ په واټساپ کې يو ګروپ درلود چې په ګروپ کې سيد انورشيراني يو مسيج وکړ چې داسې پيښه شوې او ارمان باندې تشدد وشو او له امله يې ارمان خپله سا ورکړه. نو زه له هغه مسيجه خبره شومه بيا د خور احساسات بدل وي اوزه ډير شيان پټوم داسې جذباتي خبرې کنټرولوم, او هغه چې مې واوريدل زه داسې پورته شوم خويندو او ورينداره مې راغونډې کړې هغوئ وويل وی څه دي؟ مال داسې کيسه ده خلک داسې وايي. بيا په منځ کې د فيس بوک پوستونه او کيسه روانه وه چې نه دا زخمي دی. نو بيا ما خويندو ته وويل چې زخمي دی که نه زه خبره شوم چې شيراني وويل چې ساېې ورکړې خو ما دوی ته د زخمي وويل. خو بس هغه د کور کيسه وه اخير مجلس سره ښکاره شو د هرچا سره فيس بوک وو موبايل وو. نو په دې ټول خبر شو چې ارمان يې شهيد کړ. نو بيا ملګرو ټيلفونونه کول چې

موږ يې اف ای ار کوو ترڅو به دلته په باچا خان چوک ډرنه وي په بوري کې زه کور وم دوستان او دا خلک راغلي وو خو دوی سره په تماس کې وم.

او بيا اف ای ار يې ونه شو نو دوی ارمان له بوري راوړ کور ته بيا کور کې وو بيا دلته څه کيسه وه چې پوسټ مارټم (د عدلي طب کتنې) ځو، نه ځو ما ورته وويل او ملګرو چې پوسټ مارټم کوو نو بيا شپې ووتو پوسټ مارټم ته او پوسټ مارټم مو وکړ.

نو هلته زه نه پوهيږم چې هغه خبرې او احساسات به څوک څرنګه بيان کړي چې څه وو څه نه وو څرنګه احساسات وو, خوهلته لويه خبره دا وه ځکه چې موږ په داسې ځای کې وو که څه هم خاوره ټوله زموږ خپله وو، خو ذاتي موږ يو فوټ ځمکه هم نه لرله، که څه هغه چېرته چې زموږ د قبيلې خلک دي کوم کلی لونې چې ورته وايي نو زموږ هيڅ چېرته هم څه نه وو.

نو هغه د احساساتو خبره بيله ده زما سره دا غم وو چې موږ به يې چېرته پټوو او څنګه به کوو، او بيا ما او دې ملګرو سره مجلس وکړ او دلته په کلا سيف الله کې مو يو ځای د پټيدو پيدا کړ ځکه چې ټول د پښتونخوا وطن دې ټول د ارمان وو، نو د يو خور په معنا ما يو ځای انتخابول او هغه احساسات به خپله سړی ووايي چې يو څوک به څرنګه يې خو فکر دا وو. ځکه دا ما او ارمان په فکري توګه يو شی منلی وو چې دا به راځي موږ دوو په دې مجلس کړی وو چې وضعيت خراب دی او له منځه به ځو يا به زه ځم يابه ته ځې، نو ماته ارمان ته ويل چې که زه ولاړم خو ټيک خبره ده او که ته ولاړې چون زه په سياست کې نوې يم دا د وطن حالات خو بيا هم لويه سودا شته نو کوو به څه؟ نو ده به وخندل؟ نو موږ له وړاندې دا منلې وه چې له موږ به يو نه وي، خو خواشينۍ سره داپيښه منځ ته راغله او دی لاړ. ارمان چې نشته خو د ارمان يو فکر، لشکر او يو تنظيم وو يو داسې

کامل قام پاله انسان وو که څه هم زموږ له منځه په تبوی تور لاړ خو د هغه احساسات او نظریات د هغه فکر چې کوم ده اوس هم ژوندی دی موږ د هغه چې کوم نظریات او ارمانونه دي کومه لاره او فکر ده موږ په هغه تگ کوو، نو طبیعي نه شتون یې زور غواړي دا اسانه خبره نه ده. خو اکثراً زموږ په وطن کې داسې خلک شته چې د هرڅه سره ختم شو مگر زه په دې فخر کوم او ویاړم چې زه د یو داسې سیاسي مشر شاگرده او خور یم چې هغه د وطن او ولس لپاره خپله ککرۍ په خاورو ښخه کړه او فکر او نظر یې ژوندی دی او موږ ته یې یوه داسې صحح لاره وښوده چې ورباندې تگ کوو.

پتانه ژوند: محترمه لوڼې! ولې پښتانه د خپل حق د غوښتو لپاره وژل کیږي؟ او دا څرنگه یو دشمن ده چې پښتانه وژني او بیا یې پړه په غاړه نه اخلي. او یا هم پښتانه وژل کیږي او قضیه یې کلونه کلونه نه څیړل کیږي او همداسې پاته وي څرنگه به انصاف پښتنو ته رسیږي. که دا راته وواياست دلته څه روان دي د حل لاره څه ده؟



وړانگه لوڼې: پښتانه چې دلته وژل کیږي د خپل حق د غوښتو په تور باندې وژل کیږي ما اول خبره وکړه دلته دا ریاست چې کوم جوړ ده د پاکستان دا زموږ په خاوره جوړ ده اوبه زما دي وسایل زما دي خاوره زما ده گاز، بریښنا (برق) دا هرڅه چې دي زموږ د وطن د پښتنې خاوري دي او بیا ته چې دلته کله د خپل حق د غوښتو خبره کوې چې زه خپل حق غواړم.

زه به په خپلو وسایلو خپل حق لرم ته چې زما نه څه وړې ته به ماته خپل ټیکس راکوې ماته به د دې پیسې راکوې تر هرڅا له مخې به زما د کور بریښنا (بجلي) او گاز، اوبه پوره وي بیا به تاته درکول کیږي او په بدل کې بې ماته ټیکس چې څومره جوړیږي هغه راکوې نو دلته چې دا درکوې تاته او دا درکړې ته خپلواکه شې له لوږو له تندو راووځې او ستا ماغزه جوړ شي ستا خبره چې ده هغه پرځای وي ته سوچ کولای شې چې دا زما وطن ده نو بیا به موږ ډیرو حسابو ته کښینو، او د دې د نه غوښتلو په خاطر چې دا خلک په روغو مغزو نشي پاته دا خلک ودې شي ته اړ نه شي چې موږ ته ونه درېږي چې دا زما حق دی هیڅ هم نه درکوم دا ټول زما دي په دې به زه ولاړ یم بیا به زما په خوښه درکول کیږي، چې څومره درکوم دا هرڅه به زما خوښه وي، نو له همدې ویرې چې دلته محکومه پښتونخوا کې چې کوم پښتانه دي هغه وژل کیږي او په دې کې چې څوک د حقونو خبره وکړي دوی راشي هغه کس تر غاړې ونیسي په دې چې که ته د حق خبره وکړې بیا سبا ستا سره پنځه کسه نور ملگري کیږي. بله ورځ لس کسه نور کیږي، او دلته چې ولسونه راپورته شي بیا زه مجبوره یم چې تاسو ته خپل شیان ټول درپریږدم چې که دا درپریږدم بیا زما ریاست د یوې دقیقې لپاره هم نشي چلیدی نو دوی د خپل ریاست د چلولو لپاره یې زموږ په وطن کې جنگونه خوارۍ غریبۍ دا پریښې دي او که موږ له جنازو او دربدرۍ خلاص شو خو دوی ته دریږو چې ته دا اوبه او هرڅه په خپل سر وړې ستا ورباندې حق څه ده؟ نو د دې سوالونو او دې خبرو لپاره یې په وطن جنگ روان کړی دی او بیا چې په دې میلینونو خلکو کې یو سر راپورته کیږي او هغه دا خبره کوي نو دوی هغه سر پرې کوي چې داسې نه چې دا ټول سرونه د دې په ملاتړ کې راپورته شي.

گوره دلته چې تا یو څوک وژني هغه تا سیده نشي وژلای ځکه دلته چې ده دنیا ده خلک دي هغه ته گوري چې ته دولت یې ملکونه له تاسره دي د پاکستان بیا یو تړون ده چې ډیر قامونه ورسره دي په دې کې نو دلته کوم چې هره پړه او مرگ ژوبله چې ده دا موږ په ریاست باندې اړوو او ریاست هغه پړه په ځان باندې

په دې نښې اخيستی چې هغه يو رياست دی او رياست معنا دا ده چې ته به د دې خلکو د ژوند او حقوقو دفاع کوې بيا وی ته د بشري حقوقو دفاع نه شې کولای، يعني دا هره دفاع چې کومه ده دا به رياست کوي. چونکه رياست هغه رنګه په ښکاره راتلی نشي او دوی مسلسل له دې انکار کوي دا ځکه چې د دنيا نظر په دوی ده خلک ورته وايي چې ته يو رياست يې رياست بايد د خپلو اولسونو دفاع وکړئ نو ته يې ځنګه وژنې؟

نو د هغه پړه نه اخيستو په خاطر که دوی موږ وژني هم او هغه پښتانه څه وايي؟ دوی مړ هم زه او پړ هم زه نو مره کوي مو هم او پړه کوي مو هم.

دلته چې کوم ده د دوی د دې وژنو لپاره په يو او بل نامه چې ترڅو په دوی باندې پرده څوړنده وي او په دوی څوک لاس ونه نيسي، وسلوالې ډلې روزي او حمايت يې کوي يو څوک په تې تې پې ووژنه يو څوک په امن کميټۍ ووژنه څوک په نامعلومو کسانو څوک په بل نامه مره که څوک د چا او څوک د چا.

نو دوی داسې تنظيمونه ورته جوړ کړي دي، د دې په نامه يې شا وخوا وژني. وژل د پاکستان په سرپرستۍ کيږي خو دلته يې د خلکو لپاره ورې ورې ډلې جوړې کړي او هغو ته يې جلا جلا نومونه ورکړي چې فلانی د قام خبري کوي ټک باندې کوه فلانی د قام او وطن خبره کوي په بمونو يې ووژنه.



دا ټول هغه شيان دي چې دوی يې پړه په غاړه نه اخلي ولې چې دولت دی. دولت بايد زموږ دفاع وکړي مګر هغه برعته موږ وژني؟

موږ ټول وژل ټکول د پاکستان په ادارو اړوو ولې په دې چې دا هرڅه چې دي دا د پاکستان په سرپرستۍ کيږي

دا ځرنګه يو ستا وطن، ستا استخبارات د دنيا تر ټولو لويې استخباراتي اداري چې کومې دي ISI ای ايس ای اداره او نورې ډيرې تکړه اداري دي.

ځنګه زموږ د پوځيانو مکتب ته وسلوال ننوځي او ماشومان وژني او څوک نيول کيږي نه؟ که څه هم دوه درې کسان وسلوال وي او دا مکتب ټول د پوځيانو وي، زما سرکاري روغتون ته وسلوال راځي او زما سناتوران وژني په ښوونځيو په احتجاجو راننوځي، ارمان شهيدوي، په سړک باندې په روان موټر کې عارف وزير وژني، په ډک بازار کې په بشير بيلور باندې ډزې کوي، په کوټه کې دننه عثمان شهيده وي، په پارټۍ په دفتر کې کليوال شهيد کيږي؟

او هغه پړه چې دوی په غاړه نه اخلي خو دا ټول شيان د پاکستان د رياست په سرپرستۍ کې کيږي,خو دوی پړه يو وخت هم په غاړه نه اخلي خو موږ دا پړه په دوی اړوو او دا يو حقيقت ده چې دا کارونه دوی کوي.

او ګوره داسې ده!

پښتنو ته انصاف رسول چې کوم دي! د وطن که موږ د افغانستان خبره وکړو دلته هر زورور راغلی ده او خپل زور يې زما په وطن کتلی ده او دلته خپل ښکر سره جنګوي او يو د جنګ ميدان يې زما له وطن جوړ کړی هرڅوک راځي او دلته خپل جنګونه او خپلې کيسې کوي.

يو خو زموږ خاوره چې ده دا ګيټوې ده، په اسيا کې چې کوم خلک راځي او دلته قبضې کوي د هغو لپاره يوه ښه ګيټوې او لاره ده نو هغه لاره چې کومه دا خلک نيسي.

بيا دلته زما وطن له وسايلو ډک ده د دغو وسايلو د قبضې لپاره خلک چې کوم دي افغانستان ته هغه زورور مستقيم راځي او پاکستان د هغو زورورو لاس پوځی دی او افغانستان د لاس پوڅو له خوا لوټې.

دلته پښتنو ته انصاف چې کوم دی هغه به دا پښتانه، دا افغانان خپله ځانته راوړي.

دلته که موږ د احمد شاهبابا او که د میرویس نیکه که د غازي امان الله خان خبره وي دلته که هرڅومره باچاهان راغلي او چا هم د وطن د جوړولو خبره کړې ده، مطلب نوزموږ خپل خلک د دښمن په خوله راپورته شي او حکومتونه نړوي یعني خپله زموږ خلکو نړولي د دشمن په ژبه او خوله.

دلته موږ ته انصاف هله رسیږي چې کله پښتانه په خپل حق خبر شي چې کله پشتون افغان ملت په دې خبر شي چې پردي خلک چې زما وطن ته راځي دا زما د جوړولو لپاره نه راځي هېڅوک زما په غم نه دی اخته، هیڅوک ماله جنګه نه شي ایستلای، نو دا خلک چې راغلي متل ده وایي: د دوی خپل خر دلته ورک ده، دوی دلته خپله ورکه ده په خپلي ورکي پسي ګرځي، دلته زما او ستا د وطن د جوړیدا لپاره ځوک نه راځي.

د وطن د جوړیدا لپاره به موږ خپله کار او مبارزه کوو. پخپله به راپاڅیږو د وطن په قضیه به سر خلاصوو دښمن ته به‌سره کرښه کاږو چې هیڅ یې نه درسره منو دا زما وطن ده زه به واک کوم زما په خوښه به څوک راځي زما د وطن داخله او خارجه پالیسي به د چا په لاس نه وي دا به خود ایختیاره وي هغه وخت بیا موږ انصاف کولای شو نور هېڅوک زموږ د انصاف لپاره نه راځي نه څوک دومره وزګار دي چې راشي او زموږ جنګ راخلاص کړي بلکې د خلکو په دې جنګ کې ګټه ده او ګټې یې وړې او لا یې وړي موږ که په دې خلکو باندې ګټه درو موږ به خپله یو موټې کیږو د وطن په دې هرڅه به سر خلاصوو او په یو صف کې به دریږو.

لکه اول له هندوستانه چې به خلک راغلل په دې کندهار نسوای راتېرېدای دلته به خلک ورته کلک ولاړ وو بیا چې د ګندومک او ډیورنډ په شکل سره بیل کړل او په زور یې سره وویشل. مګر موږ به خپله بېرته خپل زور سره یو کوو.

دلته دا حالات ټول زموږ مخته دي چې زورور خلک راځي په دې حالاتو کې ګوتي وهي او په پاکستان کې چې کوم څه دي نو د دې د حل لاره موږ به په ګډه په یو ملي سنګر کې راټولیږو ټول پښتون افغان چې کوم دی په دې ملي سنګر کې به زموږ نیشنل اجینډا وي، د نیشنل اجنډا لاندې به دا ولسونه راټولوو ودی ته به خپله پریکړه ږدو چې دازموږ وطن دی د دې خپلواکې غواړو زموږ د وسایلو واک غواړو او دا به موږ ته راکوي او دنیا به دې ته متوجې کوو چې دا زما وطن او خاوره ده او زما په خپله خاوره کې دا دا روان دې او د دې حل لاره چې موږ به خپله دې جنګ ته دپای ټکی ږدو هغه په داسې صورت کې ورته شودلی شو چې کله موږ ټول یو ملي سنګر ته راټول او په یوه پریکړه کار روان کړو او دښمن ته ځواب ورکړو چې دا جنګ او بربریت نه درسره منو دا زموږ ملی غوښتنه ده که یې نه منې لاس دې ازاد.



پتانه ژوند: محترمې لونی! د شهید ارمان صیب کورنۍ وضعیت څنګه دی څو بچیان ترې پاته دي او د کورنۍ سرپرستي یې څوک کوي ؟

وړانګه لونی: د ارمان خو یوه کور ودانه او درې لونې یې دي، مینه، اویستا او هیله. لونې یې وړې دي، مینه اوس د نهو کالو ده او اویستا د اوو کالو ده او هیله د پنځو کالو ده.

زموږ په پښتونخوا کې خو کورونه بیل بیل نه وي ټول په یو کور کې اوسیږي، میني دوئ په خپل کور کې دي له موږ سره، سرپرستي یې زموږ ګډ کور ده زه یې کوم زما وروڼه دي کورنۍ ده یو کور یو، یو بچي یو. دلته په پښتونخوا کې دا یوه ښه خبره ده چې وروڼه چې مور او پلار یې ژوندي وي دا یو کور وي. نو په یو کور کې بیا د ماشومانو توپیر نه وي چې دا زما دي او یا د بل دي. زموږ په کور کې هم دا سي خبري نه وي ټول یو رنګه ماشومان وي زما د نورو وروڼو بچي وي دوی دي. بس په یوځای مکتبونو ته ځي په یو ځای راځي یو ځای ناست او ولاړه لري.

پتانه ژوند: محترمې لونی! ستاسو د ارمان صیب ترمنځ که هغه نوم یا لفظ راته وواياست چې کوم تاسو یو بل ته وربانديږ غږ کاوه

دا ځکه چې تاسو د ورور او خور بر علاوه د سیاست د یو ډګر ملګري هم وئ نو دا ښکاره ده چې ستاسو ترمنځ کلکه ملګرتیا وه او حتماً به کوم د ګرانښت نوم وجود لري.

او که ووایم په تاسو کې کوم یو مشر وئ تاسو او که ارواښاد ارمان صیب؟ او د همدې ترڅنګ د ارمان صیب د ژوند یوه داسي خاطره هم راته وواياست چې ستاسو نه هيڅ نه هيريدونکې وي؟

وړانګه لوڼی: اوهو اوهو ! د ارمان خو ډیر لقبونه ول د ارمان خو هیڅ نه وو معلوم کله بې یو نوم کاراوو کله به یې بل نوم کاراوو.



ارمان اکثره ماته (سره )ویل زه چې وړه ومه مور دوی ویل چې داسي سره ویښتان دي لرل او له رنګه ( سره) وې، نو اوس خو مې ویښتان تور دي.

خو ارمان تر دا اوسه پورې ماته (سره) ویل او د ارمان اصل نوم ابراهیم دی نو تاتی او بابا به ورته ابراهیم جان ویل په ارمان پسې زموږ بله خور ده هغې به ورته بام جان ویل دا ځکه چې ابراهیم جان یې نشوی ویلی نو تر دا وسه پورې موږ ورته باجان ویل ابراهیم جان تر باجانه پسې راورسیدو باجان شو.

خو ما به اکثره چې ده به کله په زوره زوره بدلې ویلې چې راپاڅیده به واښو ته به تلی یا داسي بل ځای نو مابه له شا ورپسې غږ کړل ما ها لیونی بیا لګیا ده او بدلې په زوره زوره وایي مطلب موږ داسي ډیر نمونه لرل چې یو بل ته به مو اخیستل په دا اوس وخت کې چې د بنو اوله جلسه وه نو موږ تلو بیا په لاري کې په بس کې. نو ما او ارمان روان وو هغه د جلسې کمپین ته نو ده غزل ولیکله او ماته یې په واټساپ راولیږه همدلته نږدې پاسیله کې.

نه یې وینې ؟ که په قصد کوې شیطانه منافقه

زه مړ کیږم او ته چوپ یې مسلما نه منافقه

نو د دې غزل اخیري بیت یې داسي وو.

(ستاچې خوښه وه ستا دود لوستی دراوی به دي کوله

(یا بدل شوې یا وریږې په ارمانه منافقه)

نو په دا اخیري وخت کې به بیا ما غږ ورته کاوه ماوی چې اې ارمانه منافقه!

په کمینټ کې به مې ورته لیکل، نو هغه نومونه به له وخت سره بدلیده نو موږ چې به کله یو مجلس کاوو او له مجلسه به هغه نوم راووتی نو بیا به څه وخت موږ هغه یو بل ته ویل چې بیابه بل راغی بیا هغه بس داسي ډیر نمونه ول چې موږ به یو بل ته کارول.

ارمان چې وو زموږ په ټولو ورونو خویندو کې مشر ورور وو بیا زموږ خور ده هغه واده ده بیا دوه ورونه دي په هغه پسې مې بله خور ده واده ده بیامې بله خور ده بیا زه یم بیا ماپسې بل ورور دی بیا مې دوې ورې خویندې نورې دي.

د ارمان سره چې څومره هم زموږ ژوند راتیر شوی دی داسي به یوه خبره هم نه وي چې به مو هیره شي یابه یې هیرې کړو داسي ډیرې د ژوند خاطرې دي زه نه پوهیږم څه به درته ووایم.

مګر د ارمان دا یو ارمان وو چې زه یعني خور یې ډاکتره شم او طب ولولم بیا ما او ارمان ناست وو ده به ویل چې سرې اوس خو کیسه ښکاره شوه خلک دلته پاکستان کې ځای نه راکوي د طب لپاره نو ځو به چین ته به دې ولیږم بیا به یې ویل چې چیرې به دې ولیږم؟ نو دا کراچۍ ته لا نه وو تللی تر شهادت څه موده مخکې زموږ د برق کوم څه خراب شوي وو نو دا مو جوړول زه او ارمان لګیا یو. نو ارمان ماته وایي چې زه پیسې پیدا کوم نو لیږم دې نو په همدې وخت کې زما ورینداره راووته یوه ټپه یې ورته وویله، هغه ټپه څه داسي وه چې وایي:

ژوند په سبا سبا کې تیر شو

نه مې یار هیر شو نه مې وکړل دیدنونه

ارمان دا هر څه ایله کړل نو له خندا شین وو چې ریښتیا دي وویل موږ چې سبا سبا کوو وخت ټول تیر شو نه ما دې ته سیټ د میډیکل پیدا کړ او نه دا ډاکتره شوه.

نو داسي ډيرې کيسې او خاطرې شته نو زه اوس
نه شم کولای چې کومې درته بیان کړم.
خو ارمان يو ډير پوست، خوږ او زورور انسان وو
هر وخت به موږ مجلس سره کاوه نو ده به په
خندا سره مجلس کاوه او همېشه به مو په ډیرو
نازکو حالاتو سره غږیدو چې څرنګه وکولای شو
ترڅان کشرانو ته د ژوند د مشکلاتو حل پیدا کړو.

پتانه ژوند: محترمې لونۍ! د ارمان صیب
اخیري ارمان څه وو کله چې تاسو په اخیري ځل
ولید؟

وړانګه لونۍ: د ارمان ارمان احمد شاهي جغرافیه
وه د ارمان ارمان ازادي وه، دا ما اول هم ووېل.
او د ارمان د مقبرې په ډبره هم لیکلي دي:

که وم ژوندی د ازادۍ د اتڼ برخه به یم
که چیرې مړومه نو زیری مې تر ګوره راوړئ

نو د احمد شاهي جغرافیې ارمانجن وو.
نو ارمان به ویل چې د وطن ازادي او خپلواکي
وګټو او په خوشحالۍ سره ژوند تیر کړو په اتڼو او
په غزلو یې تیر کړو په خوند، امن، سوکالۍ یې تیر کړو همدا یې
ارمان وو.



دي د پاکستان حکومت نه. هغوی به دا ستاسو
غوښتني ومني او که به دایم دغسې وضعیت روان
وي لکه کوم چې نن ده؟

وړانګه لونۍ: پتانې! دا چې د ارمان، ارمان د لوی
افغانستان ارمان، د ازاد وطن ارمان چې کوم دی
دا به انشاءالله خامخا پوره کیږي.

ګوره! دا وطنونه چې کوم دي یا زموږ چې کومې
مبارزې دي دا خلک د یو ترون له مخې چا په زوره
نه دي کښینولي دا د ډیورنډ او یا د ګندومک چې
کوم ترون وو دا په دوکه او په دروغو دا تړونونه
شوي دي که څه هم دا خلک به په جنازو بریدونو
او وهلو ټکولو وځنډوي خو دا خلک ولسونه چې
څه غواړي، او زموږ دا جغرافیه یې په بار بار را
بدله کړي ده نو بېرته هغه جغرافیې ته تګ به څه
ګرانه کار نه وي.

خو دا بېرته قرباني، مبارزه او پوهه غواړي. قامي
سیاست او د سهار ماښام سخت کړاونه غواړي
بیا به دا کیږي، خو خامخا به کیږي.
نو دا یواځې د ارمان ارمان نه وو دا د ډیرو ارمان دی چې لوی
افغانستان جوړ شي دا زموږ او د هرچا ارمان دی.

پتانه ژوند: محترمې لونۍ!
ډېره مننه چې وخت مو راکړ
د ارمان صیب روح دې ښاد
وي او مننه چې د ارواښاد
شهید ابراهیم ارمان لوني
صیب په شخصیت فکر ،
ژوند او مبارزې مو راسره
معلومات شریک کړل.

په اخیري پوښتنې سره ایا
تاسو ډاډه یاست چې د ارمان
صیب دا ارمان به پوره شي او
یو لوی افغانستان به جوړ او
پښتونخوا به ازاده شي او ایا
کومې غوښتنې چې ستاسو



البته دا د تګ طریقه چې کومه
ده دا به په قدم قدم مخته ځو او
دا شوني دي کیدای شي او
باید وشي.

او که موږ چیرې په پاکستان
باندې زور واچوو د ولس لخوا
چې کوم زور ده یا زموږ د ځینو
ګوندونو او د غورځنګ چې کوم
غږ دي دا وچ کلک ودرو او
دنیا ته موږ خپله مسئله یوسو او
پاکستان په دې مجبوره کړو چې
کومې زموږ مسئلې دي نو دا بیا
ممکنه ده چې داپوره شي، خو
که موږ پاکستان مجبور نه کړو

او زموږ د مبارزې له لارې خو که داسې ونه کړو بیا ګرانه کار دی.

خو موږ به یې مجبوروو دا ولسونه، ګوندونه، غورځنګونه به یو یو سنګر راټولیږو او ټول به په یوه خوله دا پاکستان ته وایو چې دا زموږ وطن دی دا زموږ غوښتنې دي دا به منې او په هغه صورت کې نه ده ګرانه چې موږ په یو سنګر کې راټول شو بیا پوره کېدی شي.

ستاسو نه هم ډېره مننه.پتانه ژوند: محترمو لوستونکو دا هم د شهید ارمان صیب غزل تاسو د دې غزل په لوستو چیرته ځئ څه فکر کوئ ویې لولئ!

## غزل

هیله مې دا وې چې دا ځل به تر بل چا ورسي
زه چې د ورکې پل راواخلم بیا تر تا ورسي
ستا ټول ظلمونه به در معاف کړم څه! پروا نه لري
خو دا حساب راځي راځي زما تر حیا ورسي
وه فرښتې!! ستا پر ایمان باندې موږ شک نه لرو
خو چې مجلس له تا شروع سي نو تر غلا ورسي
وطنه ستا د کنډوالو او د ځوانانو قاتل
چې لټوم یې نو خبره تر ملا ورسي
ته به چپ اوسې حق به نه غواړې غداره په دې!!
چې ته برغ پورته کړې نو برغ دې تر دنیا ورسي
زه خپل کله په دغه تور دومره نتلې یمه.
د ارمان نوم چې چیرته یاد سي نو تر ما ورسي
ابراهیم ارمان لوڼی

**نه يې ويني که په قصد کوي شيطانه منافقه**
**زه مړ کيږمه ته چُپ يې، مُسلمانه منافقه**
**د ځوانانو، اتلانو، د ښارونو قاتل ته يې**
**ورځ به راشي بيا به ګورو پاکستانه منافقه**
**شهيد پروفيسر ارمان لوڼي**





# معضلۀ شعار فدرالیزم در افغانستان

داکتر نوراحمد خالدی



آقای سرور دانش در یک مصاحبه گفته است که باید طرح نظام فدرالی به همه پرسی (ریفراندم) گذاشته شود!

سوال اینجاست که کدام طرح؟ ما تاحال یک طرح را نه از جانب آقای سرور دانش و نه از جانب آقای پدرام نخوانده ایم. آنچه تا کنون در مورد فدرالیزم تبلیغ شده در سطح شعار قرار دارد. شعار را نمیتوان به رفراندم برد. مشکل شعارهای فدرالیزم در افغانستان متعدد است:

اول- فدرالیزم ارنظر تاریخی یکجا کردن داوطلبانه واحدهای مستقل به عنوان یک ملت زیر یک پرچم است برای حصول اهداف مشترک ملی نه جدا کردن یک کتله به واحد های خودمختار برای تعقیب اهداف جدا گانه. تمام کشورهای فدرالی مانند امریکا، آسترالیا، هندوستان، پاکستان و غیرۀ این راه را تعقیب کرده اند. در همۀ این ممالک واحدهای اداری خودمختار (ایالات) مستعمرات سابق انگلستان بعد از حصول استقلال دوطلبانه یکجا شده دولت مرکزی فدرال را ایجاد کرده اند. در موَد افغانستان چنین یک سابقۀ تاریخی موجود نیست. تنها در زمان سلطنت امیر دوست محمد خان انگلیسها کوشیدند نظام مرکزی دولت افغانستان ضعیف گردد و ازچهارمنطقۀ نیمه خود مختار حمایت میکردند : کابل، ۰دوست محمد خان)، قندهار (کهندل خان)، هرات (شهزاده کامران) و مزارشریف (حکمرانان محلی). حتی در آنزمان به استثنی مزارشریف سه منطقه دیگر توسط حکمرانان پشتون تبار اداره میشد. با پیروزی امیر دوست محمد خان بالای این مناطق این وضع خاتمه یافت و موصوف بعد از فتح هرات در آن شهر در گذشت و پسرش امیر شیرعلی خال و امیران بعدی بالای یک افغانستان واحد حکومت کردند.

دوم- فدرالیزم با موجودیت واحد ها یا مناطق پیوسته از نظر جغرافیایی و متجانس از نظر نفوس قومی، نفوس زبانی، فرهنگی میتواند عملی گردد. این واحد ها فعلاً در کشور موجود نیستند و باید خلق شوند. آیا در ایجاد چنین واحها اتفاق نظر موجود است؟ کدام مناطق پیوسطه جغرافیایی و متجانس قومی/زبانی وجود دارند؟ از کنر تا جنوبی، قندهار، ارزگان و هلمند و فراه اقوام پشیون زندگی میکنند. در حالیکه اکثریت ولسوالیهای کابل پشتون نشین اند شهر کابل مخلوطی از تمام اقوام است. پروان، کاپیسا و پنجشیر اکثریت تاجیک نشین دارند اما این مناطق را کوههای صعب هندوکش از مناطق تاجیک نشین بغلان و بدخشان مجزا میسازد. بنابرآن مناطق تاجیک نشین از نظر جغرافیایی پیوسطه نیستند. از قندز و تخار تا فاریاب و سرپل مناطق پیوسطه ترکتبار نشین قرار دارند که میتوانند یک واحد فدرالی متحد ایجاد کنند. مناطق هزاره نشین بامیان، دایکندی و ولسوالیهای همجوار در بغلان، تخار، غزنی، غور ووردک نیز میتوانند یک واحد فدرالی ایجاد کنند. اما حوزۀ بادغیس، غور و هرات با آنکه از نظر قومی اکثریت واضح ندارد، اما از نظر زبانی میتواند یک واحد متجانس را تشکیل کند. بلوچ نشینان نیمروز از نظر نفوس کمتر از آنن تا قادر به ایجاد یک واحد مستقل باشند اما از نظر تاریخی و فرهنگی با ولایات پشتون نشین جنوب و جنوب غرب متجانس هستند.

سوم- آقای پدرام بعد از سقوط شهر قندز بدست طالبان در سال 2018 در یک پیام ویدیویی به وضاحت از رهبران قومی در افغانستان میخواهد تا قیام کنند و در مناطق خود خودمختاری اعلام کنند. در حالیکه در بالا نوشتیم که فدرالیزم ارنظر تاریخی یکجا کردن داوطلبانه واحدهای مستقل به عنوان یک ملت زیر یک پرچم است برای حصول اهداف مشترک ملی نه جدا کردن یک کتله به واحد های خودمختار برای تعقیب اهداف جدا گانه و خودمختار. مشکل اساسی شعار فدرالیزم خواهی در افغانستان درست در همین نکته نهفته است زیرا در عقب این شعار خودمختاری و تجزیه طلبی نهفته است نه یکجا کردن داوطلبانه واحدهای مستقل به عنوان یک ملت زیر یک پرچم مانند امریکا و آسترالیا.

با توجه به ملاحضات بالا در افغانستان شعار فدرالیزم با مقاومت جدی از جانب اکثریت مردم کشور روبرو است. اما این به معنی مخالفت با یک جریان قانونی برای توانمند سازی مردم محل (ناحیه، ولسوالی، ولایت) برای اداره امور خود و تعیین رهبران خود که حق مردم محل است نمیباشد.

# افراطي دينداري



رحمت شاه فراز

موږ چې څومره د لوبو ښکار شوي يو، هغومره توجه مو دې اړخ ته نه ده کړې. موږ په عمومي بڼه دا خبره کوو، چې پلانکۍ او پلانکۍ پايله د پلانکۍ او پلانکۍ لوبې معلول وه، خو موږ چې ژور ليد نه لرو، د موضوعاتو تل ته نه رسېږو او دښمن مو د ځنګله تر ګيدړې هم ډېر ځيرک دی، د لوبو لوبغالي ته نه ور دننه کېږو او له اصولو او قواعدو يې نه يو خبر. مثلاً موږ د يهودو (يا بل قوم) له لوري د بې دينه کېدو/کولو لارې چارې يوه دسيسه بولو، خو کله مو پر دې فکر نه دی کړی، چې د دغې سترې مسلمان‌شموله (او په تېره افغان‌شموله) لوبې يوه برخه ممکن دا هم وي، چې ګڼ هغه شيان چې اصلاً د دين برخه نه دي، موږ ته د دين په توګه را وپېژندل شي او پېژندنه څه چې، راباندې ومنل شي. زما په اند، که بې دينه کول د دسيسې يوه برخه وي، نو تر افراطي کچې دينداره کول هم د دې دسيسې يوه مهمه برخه ده او تر لومړۍ هغې ډېره خطرناکه، ژوره او هلاکوونکې ده.

په اوسنيو وختونه کې د دغې افراطي دينداری يوه بېلګه/بڼه دا ده، چې مسلمانان فکر کوي، د ټولو ستونزو حل يې په قرآن او سنت کې دی. دغه خبره چې پخپله قرآن او سنت نه ده کړې او دا چې دغه مفکوره او تعبير تر دې دمه پورې زموږ په زيان او نقصان اوښتې، ځای يې نه دی، چې دغه تعبير او تفسير وشنو، سرچينه يې ولټوو او حل لاره ورته وګورو؟ او په دغه مفکوره باندې شک او تردد روا او جايز وګڼو؟

د افراطي دينداری د پورتنۍ بېلګې/بڼې يوه عملي نتيجه دا راوځي، چې د خپلو ستونزو د حل لپاره غيرديني مفکورې، نظامونه او حل لارې ناروا او حرامې او د دغو شيانو په اړه ان فکر کول هم يوه کبيره ګناه وګڼل شي. زه به خپلې خبرې ته عيني دليل راوړم. تاسو په يوه مجلس کې لومړی غل/زناکاره او ورپسې د سيکولريستي نظريې پلوی او محدود مبلغ ياد کړئ. له دې وروسته تاسو ډېره ووهئ او د دواړو کسانو پر وړاندې د ګډونوالو غبرګون ته متوجه شئ. زما د خبرې په رېښه به پوه شئ.

زه دا نه وايم، چې غيرديني نظامونه او مفکورې هېڅ ستونزه نه لري، خو پوښتنه اورمرو کوم چې په دغو غيرديني مفکورو او نظامونو پايېدونکي ملتونه چې تر موږ مخکې دي، نو ولې يې موږ ونه ازمايو؟ موږ سره چې په خپل نظام چې ديني يې هم بولو، (غيرعقلاني او تعصبي) وياړ کوو، ولې دغه سوال نه پيدا کېږي، چې زموږ د هېواد ټوله ملي شتمني شاوخوا لس ميلیارده ډالره (د غيرديني نظام کرنسي) کېږي، خو په غيرديني نظام کې يوازې د يوه وګړي ټوله شتمني شاوخوا ۲۱۲ ميلیارده ډالره ده؟ او پرون ورځ د همدې غيرديني نظام دغه بې دينه انسان؟ يوازې يو شرکت په دومره شتمنۍ وپېره، چې زموږ پر ديني نظام (؟) ولاړ ټول هېواد پرې څلور ځله پېرل کېدلی شي!

تر څو چې زموږ سياسي نظام، سيکولر؛ زموږ اقتصادي نظام، تعديل شوی پانګوالي او زموږ اجتماعي جوړښت، ساينسي نه شي، لرې ده چې موږ دې ښه ورځ ووينو.



# آیا با تغییر اسم افغانستان به خراسان به بهشت موعود میرسیم؟



دوکتور نوراحمد خالدی

از مقالهٔ آقای عبدالحیٔ خراسانی Abdul Hai Khurasani که بتاریخ 17 جنوری در فیسبوک نشر کردند چنین بر می آید که با تغییر اسم این کشور به خراسان تمام مشکلات این کشور مرفوع میگردد! شخص مریض روانی دیگری بنام عبدالعلی فایق مصروف توزیع تذکره های کشور "جمهوری ایالات متحدهٔ خراسان" است و ادعا دارد که افغانستان بیش از این دیگر موجودیت ندارد چون بیرق سیاه و سرخ و سبز تغییر یافته و با تغییر اسم افغانستان به خراسان یک جمهوری جفرسونی به قیادت ایشان منتها در لندن ایجاد شده است!

ایکاش حل مشکلات این مملکت چنین آسان می بود. اول مشکل اساسی این سرزمین نام کشور و سیاست‌های حاکمان نیست. مشکل اساسی دایرهٔ شیطانی مبارزه میان ترقی و ارتجاع است. در صفوف ارتجاع هم افراد و چهره های معروف تمام اقوام شامل اند و در صفوف ترقی خواهی نیز تمام افراد مربَط به همه اقوام شامل اند. اگر با تغییر نام اینجا گلستان میشد هیچ مشکلی نداشتیم .

از جانب دیگر در سه صد سال موجودیت کشور عدم موجودیت یک جنبش جدی جدایی طلبی و خراسان خواهی نشان داد که افغانستان مانند یوگوسلاویا نیست که با اولین ضربه به دهها پارچه جداگانه قومی تبدیل گردد. این مملکت تا کنون بسیار ضربه ها را تحمل کرده اما ازهم نپاشیده است گفتهٔ معروف ریچارد ارمیتاج، معاون وزارت خارجه امریکا در زمان جورج دبلیو بوش، بیادم آمد که در پاسخ یک خبرنگار در زمان بارک اوبامه گفته بود "از موجودیت پاکستان مطمئن نیستم اما افغانستان هفتاد سال بعد همچنان موجود خواهد بود".

حالا فرض کنیم تمام آنچه آقای خراسانی نوشتند از طرف غیر پشتونها تایید گردند، انسانهای آگاه از کشور و مردم خود میدانند که قوم پشتون از لحاظ عددی بزرگترین قوم این سرزمینها است. نیازی به داشتن نبوغ و دسترسی به نتایج کدام سرشماری نیست تا این حقیقت عام و خاص تاریخی را بدانیم، این یک حقیقت عریان است و نتایج چهار انتخابات پیهم ریاست جمهوری از سال 2001 به اینطرف آنرا تائید نمود.

مگر اینکه حواس مارا نفرت و تنگ نظری قومی مختل کرده باشد! پشتونها به پشتوانهٔ همین تفوق عددی، با جنبش ضد استعماری روشانی و خوشحال خان و باقیام میرویس خان هوتکی در قندهار (۱۷۰۹م) و اسدالله خان ابدالی در هرات (۱۷۱۷م) و قیادت احمدشاه ابدالی (۱۷۴۷م) زعامت سیاسی را در این سرزمینها بدست گرفته و بالاخره قادر شدند سه صد سال قبل دولت مستقل خودرا از قلمرو های صفویان و مغولان ایجاد کنند، امّپراتوری های بزرگی بسازند. بدین ترتیب بالاخره بعد از سه صد سال مبارزه دوامدار با استعمار، مداخلات ابرقدرتها و قدرتهای منطقه، در برادری و همدستی نزدیک با سایر اقوام متوطن در این سرزمینها، دولت افغانستان با هویت مستقل افغانی خود همچنان پابرجا باشد. فراموش نکنیم که پشتونها نه در گذشته چندان دور تجربهٔ ایجاد دولتهای سوری و لودی را در هندوستان و دولت هوتکی را در فارس از عراق تا هندوستان داشتند.

بنابرآن با داشتن تفوق عددی نفوس و با داشتن تجربهٔ غنی مبارزهٔ سیاسی ضد استعماری و دولت سازی، این تصادفی نبود که زعامت سیاسی و نظامی ایجاد یک کشور مستقل بر خرابه های امپراتوریهای صفوی و مغولی هند بدوش رهبران پشتون تبار افتاد. با این تاریخ درخشان که در صدها کتاب به قلم معروفترین دانشمندان تاریخ جهان در تمام کتابخانه های معتبر دنیا مسجل است، چگونه کسی میتواند انتظار داشته باشد پشتونها بسادگی قبول کنند که بخاطر تحقق خیالهای ناسیونالیستی اشخاصی مانند پدرامها، خراسانیها و فایقها و امثالهم، نام کشور شان را کسانی بیایند و به خراسان تغییر دهند؟

این مملکت، نظر به هویت اکثریت مردم ساکن آن و هویت دولتمردان آن، به مرور زمان از زمان پادشاهی تیمور شاه و بعد او پسرش زمانشاه به اینطرف به افغانستان معروف شد (به تصدیق سفرنامه 1782م جورج فورستر، و مکاتبات وزرای اعظم دولت قاجاری و زمانشاه در 1789م ) افغانستان قبول شد (یعنی 37 سال قبل از سفر مونتسیوارت الفونستون در سال 1809، بدربار شاه شجاع) و امروز اسم شناخته شده جهانی است.

هرگاه تاجیکها اسم افغانستان را قومی میدانند چون پشتونها را "افغان" خطاب میکنند، باید بخاطر بیاورند که افغانستان از این نظراستثنی نبوده اسم نیم کشورهای جهان قومی است مانند روسیه، تاجیکستان، ازبکستان، ترکمنستان، ترکیه، جرمنی، فرانسه امثالهم. هرگاه ناسیونالیزم اقلیت تاجیک در صدد ایجاد یک دولت جدید بنام "خراسان" است که هرگز سابقهٔ تاریخی نداشته است، چگونه میتوان انتظار داشت ناسیونالیزم اکثریت پشتون هویت زدایی خودرا از دولت سه صد سالهٔ این مملکت قبول کنند؟ چنین انتظاری را تنها انسانهای فاقد شعور سیاسی میتوانند داشته باشند؟ آیا ما نمی‌توانیم با همین نام و هویت مشترک یک تمدن شهروندی محور برپایه یک قانون اساسی مانند قانون اساسی دولت جمهوری بسازیم؟ آیا با تاکید بر خراسان طلبی که در 20 سال گذشته سبب جراحات زیاد میان مرم شد، و اکنون مخصوصا در عمل هیچ امیدی برای تحقق آن وجود ندارد، از مسائل و مشکلات فوری واساسی که می‌تواند و باید به عنوان یک ملت با آنها مقابله کرد، دورتر نمی‌شویم؟ و اختلافات قومی را بیشتر دامن نمیزنیم؟

آیا نمی‌توان حقایق موجود را که اسم این مملکت افغانستان است و تمام دنیا مردم این مملکت را به نام افغان می‌شناسند قبول کرده به پیش رفت و در راه شکست ارتجاع سیاه دست بدست هم داد ا آنچه را تمدن خراسانی میدانیم وسعت داد؟ آیا در سه صد سال موجودیت این مملکت کدام فردی از قوم پشتون با کدام عنصر تمدن خراسانی که در مقالهٔ خراسانی یاد آوری شده مخالفت کرده است؟ مگر فرهنگ ابو علی سینای بلخی، ابوریحان بیرونی خوارزمی، ابونصر عراقی، ناصر خسرو بلخی، ابوعبدالله محمد خوارزمی، محمد ابو منصور ترمذی، بهاوالدین نقشبندی بخاری، ابوحفص کبیر بخاری، ماتریدی سمرقندی، خیام نیشابوری، حکیم ابوالقاسم فردوسی، رودکی سمرقندی، دقیقی بلخی، عمر خیام نیشابوری، ابونصر مشکان، خواجه نظام الملک، رابعه بلخی، محمد ابن زکریا رازی، ابوحامد محمد غزالی، ابوالفضل بیهقی، أبوعلي محمد ترمذی، کمال الدین بهزاد هروی، گوهرشاد بیگم، مولانا نورالدین عبدالرحمن جامی، امیر علی شیر نوایی، خوشحال خان،

پیرروشان، رحمن بابا، سیدجمالدین افغانی و دهها تن دیگر در طول سه صد سال موجودیت این مملکت تا امروز فرهنگ حاکم جامعه و شامل نصاب تعلیمی این خطه نبوده است؟ مگر کتابهای بوستان و گلستان سعدی و اشعار حافظ در مساجد قریه های پشتون نشین به کودکان درس داده نمیشود؟ مگر این فرهنگ در دوصد سال حاکمیت صفویان فارس بر این سرزمین قبل از قیام پیروزمند پشتونها در سال 1709م به فراموشی سپرده نشده بود؟ آیا شما میتوانید از یک شخصیت فرهنگی، سیاسی و نظامی به اصطلاح خراسانی در فاصله زمانی دو قرن میان تیموریان هرات و قیام میرویس خان هوتکی نام بگیرید؟ بر عکس در سه صد سال گذشته فرهنگ حاکم در این مملکت فرهنگ خراسانی بوده است.

نباید فراموش کرد که با به قدرت رسیدن مجاهدین اخوانی در سال 1992م و به تعقیب آن طالبان فرهنگ حاکم خراسانی در کشور مورد تهاجم اخوانیهای مکتبی جهادی و سلفی خواهان عرب پرورده قرار گرفت که طالبان امروزی نتیجه منطقی این سیر افراطیت، کهنه پرستی، خرافات و جهالت میباشد. بدون شک حاکمیت تفکر افراطیت، کهنه پرستی، خرافات و جهالت فعلی بر مملکت ما لکه شرمی بدامان همه ما است. بیایید راهای مقابله مشترک را با دیو قومپرستی، قوم نفرتی، افراطیت، کهنه پرستی، خرافات و جهالت باهم جستجو کنیم .

قانون اساسی دهه دموکراسی ۱۳۵۳-۱۳۴۴ و قانون اساسی جمهوری اسلامی سال ۲۰۰۳م راه ساختن یک جامعهٔ شهروندی را به وضاحت به تایید رهبران تمام اقوام کشور ترسیم کرده بود که در آنها تمام اقوام بدون درجه بندی حقوق مساوی داشتند .اما ناسیونالیزم اقلیت تاجیک در تخیل یک هویت کاذب خراسانی به این اسناد هم احترام نکردند! بیایید به این اسناد برگردیم.



# د امیر کروړ «اتل»، د لنډیو «موزیگی»؛

# په فلکلور کې د جنسیتي تبعیض ضد نریتیف



نقیب احمد عزیزي

د افغانستان په ډېری فرهنگي او حتی فلسفي حوزو کې په تاریخي لحاظ ښځې په اکثره متنونو کې حاشیې ته شوې، بلکې رټلې دي. دغه تبعیض کله شعوري شوی او کله په چاپېریال کې د حاکمې جهانبینۍ د اغېز په وسیله لاشعوري سر ته رسېدلی دی.

د ادبیاتو په حوزه کې زموږ په اکثره شعرونو کې د ښځې نقش د هغې د جسد له مخې ډېر مثبت تمثیلېږي، خو زړې ښځې بیا په کیسو کې د رویو، بلاگانو، جادوگرو او جاسوسانو نقشونو او رولونو ته بیایو.

زموږ د گڼو شاعرانو په شعرونو کې د ښځې نقش د «وجود» د نقش پر ځای د «جسد» نقش دی. د معشوقې رواني حالتونه څوک نه درک کوي او شاعران د بېلتانه د بار مسوولیت ټول معشوقې ته راجع کوي او د رومن رولان دا خبره نه را یادېږي چې «څوک چې درباندې گران دی، د هغوی په ډېرو حقونو کې یو دا حق هم شته چې له تاسې سره مینه و نه لري.» د کلتوري جبرونو مساله خو لا ځان ته پاتې ده.

په اقتصادي برخه کې هم موږ  د ښځو پر وړتیا تر هغو باور نه شو پیدا کولای چې څو یې معاش یا گټه په سترگو و نه وینو، حتی ځینې کورنۍ د خپلو ښځینه غړیو معاش ته په داسې سترگه گوري چې په وړتیا یې نه دی تر لاسه کړی، یا ترحم وربانديې کېږي او یا معمولاً د ښځو کار نور پټ او توطیوي اړخونه لري. زموږ په ټولنه کې چې ښځې د اقتصادي خودکفایي د هڅې خبره وکړي، یو متل ورته لرو چې وایي، «ک و س ا ن و گټې کړې، مرگی یې هېر و.»

د دیني قشر له ډېری افرادو څخه  د هغوی د فقهي برداشتونو پر بنسټ، په ویناوو کې نارینه‌وو ته د حورو یادونه ډېره اورو، مگر په همدې اندازه ښځو ته په هغه دنیا کې د حورو د معادل نعمت یادونه دومره نه کوي.

په تشریعي او حقوقي قلمرونو کې هم د ښځو د نقش محدودیت د دیني ریښې پر ځای، کلتوري جنبه ډېره لري. شرعاً ښځه جومات ته تلای شي، خو دا چې دودیزه او قبایلي ټولنه لکه افغانستان چې دی، هلته د نارینه اخلاقي کمزورۍ د ښځینه مکلفیت زیاتوي. موږ په دې برخه کې دا متل ډېر اورېدلی چې: «ک و س ته گوره، په ویاله اودس ته گوره!»

که داسې فرض کړو چې ماحول د نارینه له خوا ښځو ته له ګواښه ډک دی او د مثبتې مداخلې او مهار هیڅ بهرنی ځواک نه شته؛ نو د دې پر ځای چې د نارینه د کنټرول پر میکانیزمونو غور وشي، فوراً د ښځې په مکلفیت کې زیاتوالی راولو.

قضا، څارنوالي، اجرائیه ځواک، ذهنیت، اقتصاد او ادبیات ټول د نارینه په خدمت کې دي. کوم چاپنلونه، ژورنالونه او نصابونه چې د ښځې څېره او ناره برجسته کوي، هغه له ډېره اوږده مهاله راهیسې ځپلي پاتې شوي یا پاتې کړل شوي دي. په قبايلي او دوديزه دایره کې ښځه د نارینه شرم ګڼل کېږي، ثابت او مستقل وجود نه لري. د ښځې پر سر پروت ټیکری د دې وېښتان هومره له لمره نه ساتي، لکه د نارینه د عزت تاج چې څومره خوندي پرې ګڼل کېږي.

زموږ په ډېرو چلینجونو، جنجالونو او شرطونو کې هم همدا قبايلي ذهنیت په بېلابېلو بڼو ځان را ښکاره کوي. مثلاً: «که مې پلانی کار و نه کړ، بنګړي به را په لاس کوي»، «که مې داسې و نه کړل، زه به ستا هغه د کور ښځه یم!»، «ولې دې داسې کړي د تا عورته...، مور...، خور...»

د عکس العملونو او چلندونو دا طرزونه د دې څرګندویي کوي چې زموږ په ذهنونو کې ښځه مستقل هویت نه لري او وجود یې ملغی اعلانېدای شي. که نارینه ځوروو، ښځه، مور یا خور به یې تر تېرې لاندې کوو. دلته ښځه د یو چا نه، بلکې د یو شي مقام ته تنزل کوي، لکه په بدیو کې چې د چا کور وسوځې، یا یې باغ ور اره کړې او یا یې درمند ته اور ور واچوې.

د عربو په بدوي ټولنه کې اسلام په هغه وخت کې ښځو ته د هغو حقونو او صلاحیتونو یادونه وکړه چې تر هغه مخکې د چا په خیال و خوب کې هم نه تېرېدل. عرب چې به مړه شول، ښځه به یې تربور ته میراث کېده. له اولسمې تر اتلسمې پېړۍ پورې په اروپا او هند کې ښځو د مالکیت حق نه درلود، بلکې پخپله ملکیت وه. اسلام چې ښځو ته کوم حقوق ورکړي، که یې مسلمان ورکړي، په تاریخي افتخار هم بیا دا یادونه کولای شي چې په اسلامي تمدن کې ښځه د اهمیت تر ګردو اوږده سابقه لري.

موږ «افغانان» چې له غرب سره د ایډیالوژیک ټکر او رقابت په وخت کې په «ختیځ» کې د ښځې د مقام او ارزښت خبره کوو؛ نو وایو چې: ښځه مور ده! ښځه خور ده! ښځه ناموس ده! ښځه عزت...!

که ځیر شو دا هم د هماغه ذهنیت ثبوت دی چې ګواکې «ښځه» وجودي حریت نه لري او هر ارزښت یې په نارینه پورې له یوې تړلې رابطې سرچینه اخلي. فرض کړه ښځه زېږول و نه کړي او مور نه شي، بیا به یې اهمیت څنګه تشریح کوو؟ که ورور و نه لري؟ که واده و نه کړي؟ او... ښځې ته چې څو پر وجودي حریت اعتراف و نه کړو، ارزښت نه شو ورکولای.

د متن او ذهنیت تړاو زما په نظر عکسي تړاو دی، کله یو ذهنیت را ولاړ شوی او متن ایجاد کړی او کله بیا یوه متن نور ذهنیتونه تولید کړي دي. د لرغون پېژندنې له مخې ویلای شو چې ذهنیت تر متن وړاندې دی. په مغارو کې انسان اول تخیل کاوه او بیا یې پر دېواله د هماغو ذهني شکلونو عیني انځورونه رسمول. دا اوس چې کوم لیکدود کاروو دا هم د ذهني ـ قراردادي انځورونو رمزونه دي. د دې خبرو یادونه مې په دې وکړه چې د افغانستان په کلتوري ظرف کې هم وخت پر وخت داسې ذهنیتونه ایجاد شوي چې د ښځو پر ضد یې خطرناک متنونه پنځولي او بیا هغو متونو خطرناک ذهنتیونه پسې ایجاد کړي دي. مثلاً وایي: د کال له قحطۍ مې وساتې، د ښځو له بې شرمۍ مې وساتې!

خو ولې وپوښتو چې ایا د «بې‌شرمۍ» په مساله کې نارینه عاجز دی؟ نارینه ډرامې نه شي جوړولای؟ په تاریخي ماجراوو

کې نارينه بې‌ګناه او بې‌جرأته اعلانولای شو؟ جنسي تجاوزونه نارينه وو ډېر کړي، که ښځو؟

که داسې ګڼې پرتلنې وکړو ګڼو هېښوونکو پايلو ته رسېږو چې معمولاً مو نه ورته پام کېږي...

برعکس داسې متنونه ډېر لږ لرو چې د نارينه په اړه موجود قالبي او مروج فکر او ذهنيت ته يې ټکان ورکړي وي. نرواکي يې ټکولې وي، د ښځو پټ قوت، سيالي، د مخفي بغاوت ميکانيزمونه او ګڼ نور مسايل يې په هنري انداز ثبت کړي وي. داسې متن يو هم د لنډيو متن دی چې که نارينه ډېر ورته ځير شي، هرو مرو تر يوه لوړه حده خطر احساسولای شي او که لږ نور هم دقت وکړي، ممکن د رويې پر تغيير فکر وکړي.

په انګلستان کې د اوولسمې پېړۍ له نيمايي د اتلسمې پېړۍ تر پايه رنسانس پيل شو. د هغه وخت د روښنګرۍ فلسفيانو لکه جرمي بنتام «۱۷۸۱ م»، مارکي دو کندرسه «۱۷۹۰م» او د انګلستان لومړۍ فمينستې مري ولسټن کرفټ «۱۷۹۲م» د ښځو د حقونو دفاع ته را ودانګل. تر دغه وخته په اروپا کې ښځې د خپل جنيست له امله له ځينو حقه حقونو محرومې وې، خو لکه وړاندې چې اشاره وشوه هماغه مهال د اسلامي تمدن په ګڼو حوزو کې «د ختيځ ښځه» «د لوېديځ تر ښځې» په ښه وضعيت کې وه. که يې ښه وضعيت تر يوه حده عملي نه درلود، مګر تر شا يې د حمايت غښتلي متنونه موجود وو. مېرمن ولسټن «د ښځو د حقونو تامين» په نامه کتاب هم وليکه چې د انګليستان د فمينستې خوځښت لومړۍ کتابي هڅه بلل کېږي. د روښنګرۍ د غښتلتيا په لړۍ کې ديدرو، ولټر، روسو، مونټسکيو، کانټ او دوساد خورا ياد نومونه دي. همدې روښنګرۍ په اروپا کې د ښځې په اړه د منځنيو پېړيو جهان‌بيني ته بدلون ورکړ.

که زموږ د «لنډيو» ځينې کټګورۍ «د ښځپاله افکارو» په دود په يوه هنري مکتب کې ځای پر ځای او په هنري، رواني او ټولنپوهنيزو معيارونو معرفي شي، ممکن موږ په ختيځ کې داسې يو ادبي ـ فکري مکتب ايجاد کړای شو چې اروپا او بلکې هيڅوک يې په همدې شان نه لري.

تاريخ ليکوال ډاکټر مبارک علي وايي چې په تاريخ کې «کمزوري قشر» هيڅکله د «مستبد قشر» پر ضد مبارزه نه ده پرېښې، بلکې يوازې بڼې يې تغيير شوې دي. دی د اشرافو او ځمکوالو مثال ورکوي، وايي، کله چې به بزګر رټل کېدل او يا به يې مزدوري سمه نه ورکول کېده؛ نو د مخامخ احتجاج ځواک خو يې نه درلود، مګر بيا به يې «عقده» په بله لاره ايستله او مقاومت يې کاوه. کله به يې کښت سم نه کاوه، کله به يې اوبه ايله خوشې کولې، کله به يې فصلونه په مالونو خوړل...

زموږ په ټولنيزو چوکاټونو کې چې کله هم ښځې د فعال صلاحيت پر ځای منفعلې وظيفې ته تللې او تر لاس لاندې پاتې شوې، عقدې يې په يوه بله مخفي بڼه را خوټېدلې دي. تاسې فکر کوئ د تاوتريخوالي په نامه ګڼې خيانتونه، تېښتې او ځانوژنې يوازې د همدې لفظ «تاوتريخوالي» غونډې له اسانه علته دي؟ هيڅکله نه!

تر ټولو صادقه ټولنه د حريت پر بنسټ جوړېدای شي، هلته چې هر څوک خپله «ښه» خبره پخپله وکړي او «بده» خبره پخپله پرېږدي.

زموږ په ټولنه کې نه يوازې ښځه، بلکې کله چې نارينه هم د خپل غږ له پورته کېدو ډارېدلی؛ نو ټولنه ريا، خيانت، تظاهر او تمثيل نيولې ده. دغه عقده کله د ټوکو په فورم کې خالي کېږي، کله د ښکنځلو، کله د نهيلۍ، بې انګېزې توب، کله د شعر او ډېره لږ د مستقيم اعتراض په توګه.

ما د جنډر په اړوند يوه سمينار کې له يوه ترينره وپوښتل:

ـ که په نړۍ کې د بشر حقوق رښتيا تامين شي، بيا ضرورت څه دی چې د ښځو حقونه ځانګړي مطرح کړو؟

استاد افغان و، هغه د کوم ځېرنیز مرکز د یوې موندلې پایلې په استناد راته کړه چې تر اوسه په افغانستان کې ښځې تر نارینه‌وو څه باندې شپېته کاله شا ته پاتې دي، ځکه خو د ښځو د حقونو مورد، د بشر د حقونو تر څنګ څنګ بیا بیا مطرح کېږي. یعنې کوم حقوق چې نن نارینه لري، که د ښځو حقونه سر له ننه تامین شي، شپېته کاله وروسته دوی زموږ «نارینه‌وو» نني ځای ته را رسېږي.

تېره چهارشنبه «۲۶/۱۱/۱۴۰۱» ماسپښین له کارته پروان سره تېرېدم، د کارته پروان له جومات سره مې د موټر تر هینداره یو پوخ سړی ولید، په یوه لاس کې یې واګه نیولې وه او چپ لاس یې په پرتاګه کې واهه، اودس یې وچاوه، یو ځل مې په تصور کې دا سړی په یوه ښځه بدل کړ. خلک را غونډ شول، و یې ویل چې «مرداره» ده، په عام بازار کې یې ګنده خلاصه کړې، ښکاره یې لاس...

موټر تېر شو او هیڅ و نه شول، ځکه دا انسان «نارینه» و.

د اردوژبې لیکوال سعادت حسن منټو د کیسو اکثره ارمانونه همدا رنګ دي. منټو وايي: «زۀ غواړم چې ښځې د سړک پۀ سر ودرېږي، سګرېټ وڅکوي. د سګرېټ له دود څخه پوکانۍ جوړې کړي د ځوانانو په طرف یې ور پُو کړي. پان وخوري او ګوټکه وخوري او په بې‌پروایې سره یې توف کړي، دېوالونه او عامه ځایونه پرې و رنګوي.»

بل ځای وايي: «زه غواړم ښځې خبرې وکړي، ووایي چې پلانکی نفر ډېر د حرامې زوی دی، هغوی دې خبرې وکړي چې د پلانکي نفر زوم تر واده مخکې له پلانکۍ نجلۍ سره په چکر تللی و، خپل بکارت یې بایللی و. هغوی دې خبرې وکړي چې پلانکی نفر ډېر ضعیف کریکټر لري، بې‌کاره لباس اغوندي، هغوی د نارینه پر چال چلند او کردار خبرې وکړي، د پلانکي نفر د پتلون چین هر وخت ښکاري. زه غواړم ښځې چاغې چاغې کنځلې وکړي، کنځل د نارینه پلار ته وکړي، د نارینه ورور ته او د نارینه اولادو ته داسې کنځل وکړي چې د نارینه مردانه‌ګي تر سوال لاندې راولي.»

منټو پسې زیاتوي: «زه غواړم چې ښځې په هغو هلکانو پسې شپېلکي ووهي چې بیت الخلا ته ځي. زه غواړم ښځې د په تشنابونو کې کنځل ولیکي، همداسې د هلکانو نمبر ولیکي څنګه چې یې هلکان لیکي او همدا رنګه دې د هلکانو نرخ هم ورسره ولیکي چې دا ذلیله د یوې شپې دومره پیسې اخلي.»

تر دې وروسته یوه نېښداره نهیلي ښیي: «زه دا هر څۀ غواړم، مګر دا هیڅ امکان نه لري، ځکه چې ښځې کله هم داسې نه شي کېدای، ځکه چې ښځې دومره ناا‌هله نه دي څومره چې نارینه دي.»

د ښځو په اړه بله خبره دا هم ډېره مشهوره ده چې ګواکې راز نه ساتي، خو دلته هم د منټو یوه خبره ده چې وایي که د ښار «فاحشې» خپلې خاطرې ولیکي، ډېر شریف خلک به ځان وژنې وکړي.

زموږ ترمینالوژي کې ډېری بد صفتونه اکثره ښځو ته منسوب شوي دي، سره له دې چې په بدی کې ښکېلتیا دوی نارینه په متوازنه کچه ورسره لري: مثلاً فاحشه ډېر اورو، خو فاحش نه. رنډۍ خانه اورو، رنډی خانه نه. دا رنګ نور صفتونه: پلیته، سلمه، لښماره، د ناصرو خدی، پکه پاښه، پاړی، روپ، شیشکه، بلا، مرداره، ک و س ی، سلوغوده... د دغو صفتونو نارینه بڼه ولې نه شته؟ یا معادل لري؟؟

د اروا‌ښاد سعدالدین شپون یوه لنډه کیسه «بختوره غولانځوره» نومېږي، بختورې ته یې تېرې تېرې خبرې کړې، مګر هغه کس ته چې بختوره جوارو یا ځالې ته ورسره ننوځي، هیڅ نه دي ویل شوي... البته شپون صاحب شاید کیسه د تولنیز قضاوت د انعکاس په توګه همداسې لیکلې وي.

ما ته د پوهنتون یو استاد کومه کیسه کوله، بیا یې یو ځای پکې وویل: تېره ورځ مې له مخه حیا کېده «ښځه» د پلار کره تله...

عام خلک خو د مېرمنې نوم اخیستل د بې‌غیرتۍ، قحطۍ او نورو نښه بولي. همدا رنګه د مېړونو له خوا عاجزه، تورسرې،

بلاګۍ، بلا، دا، کډه، د حیواناتو مور او له ریشخندنه بیا قوماندان صاحب، امېر صاحب، ملګري ملتونه او ناټو ورته ویل کېږي. همدا ذهنیت دی چې عمل ته لاره پرانیزي او بیا د ښځې ارزښت په قیمت معاوضه کېږي، اختیار نه شو ورته فرضولای، بوډاګانو ته یې ور واده کولای شو او...

تېره اوونۍ یوې ټلوېزیوني پاڼې د ولور او مهر د کچې د ټیټېدو اړوند یوه خبر ته سرلیک ورکړی و چې: «په کونړ کې ښځې ارزانه کېږي».

په داستانونو کې هم ښځې تر ځوانۍ وروسته ډېرې لږ ستایل کېږي او په ښکلا کې یې هم عواطف، سیرت او احساس څنډې ته پورې وهل شوي، تر ډېره یې تشه جسدي ښکلا یاده شوې ده. ګلبشره، شیرینو، شاترینه، درخانۍ، ببو او مابۍ ځکه معشوقې او ښکلې دي، چې ځوانې دي، مګر په داستانونو کې هغه نقش چې د دوو مینانو تر منځ شیطانت کېږي، ناخوداګاه د یوه بوډا پر ځای حتمي بوډۍ سپارل کېږي. په داستان کې بوډۍ تر بوډا ډېر مرموز، بداروا، شیطان، کوډګر او ډارووونکی کرکټر دی. ریښه یې چېرې ده؟ نارینه که د شاعرۍ پر مهال د ښځو د عاطفي جهان ښکلاوو ته ځیر شي، ممکن پر لمسیانو د «انا/نیا» ترحم او په اوږده لمن کې یې ایښی پاستی هغومره ښکلی هنري بیان او انځور کړي چې په شعر کې یې ښکلا د معشوقې د غېږې غوندې جذابیت پیدا کړي.

په عربي ادبیاتو کې یوازېنی هنري مکتب «العذري مکتب» دی چې د ښځو د جسدي ښکلا پر ځای د هغوی معنوي جمال یادوي او بل د دې مکتب پیرو شاعران یکې یوه معشوقه ستایي، د معشوقو د تعدد طرفداران دي. د قیس بن ملوح «مجنون» شاعري هم د عذري مکتب شاعري ده.

زموږ په فلکلوریکو ادبیاتو کې یوازېنی فورم د لنډیو یوه خاصه کټګوري ده چې طرز فکر یې نه د غربي فمینیزم په څېر دی او نه د بل ایډیالوژیک جریان سیوری پرې خپور دی، بلکې سوچه د ښځې د عواطفو او احساساتو د غبرګون شعاعوي خپروي. په دې لنډیو کې ښځه ډارن، کودن، کمزورې، احمق، ناحقه، نالایقه نارینه د «موزیګی یا موزي» په سیمبولیک قالب کې انځوروي. موزیګی په عین حال کې له ښې ښځې برخمن نارینه دی چې دی نه پرې ارزي، ښځه د موزیګي د سیمبول په کارولو د خپل احتجاج، ذوق، ټکر، بغاوت، حق طلبي، عشق، ګوزار او دفاع هنري بیان کوي.

ما ځینې نارینه لیدلي چې خپله ښځه ځوروي؛ نو د بل واده دمکیانې ورکوي. ممکن په دوی کې داسې کسان هم وي چې جنسي قوت، د روزي ګټلو ځواک، ښځې ته د وقار ور ښښلو ځانګړتیا او ډېرو نورو ذاتي عنصرونو یې منفي ځواب ورکړی وي.

هسې وایي چې یوه کس به تل ویل چې «زه دوې ښځې کوم!» یو وخت یې کورنۍ ښځه ورته وکړه، په دا سبا یې مور ته وویل: «مورې بله نه کوم، والله چې نیت وي دا یوه لا د ټول کلي بس ده.»

په دې لنډۍ کې دغه رنګ نارینه ته خطاب دی:

**موزیګی ما ساتلی نه شي**

**خلکو ته وایي چې زه بل واده کومه**

په دې کې ظاهراً معشوقې ته ویل شوي چې:

**له موزیګي نه لنګه مه شې**

**یا به ماران وي یا به سره کربوړي وینه**

غالباً په ځواب کې یې د معشوقې له خوا مېین ته د اطمینان ورکولو ځواب «کنایتاً» اورو:

**له موزیګي نه ماشې ښه دی**

**چې نیمه شپه شي لټ په لټ مې اړوینه**

د «موزیګي» د شخصیت اړوند او د هغه د پردې کولو په کوښښ کې خپله ناکامي د «شلېدلي کټ»، «لنګې» او «بازو» په سیمبولونو داسې بیانوي:

**د موزیګي شلېدلیه کټه!**

**چې زه دې لنګه ټینګوم بازو دې ځینه**

د «موزیګي» د غیرحاضرۍ او نه موجودیت په فرصت کې یار را بولي:

**جانه راځه موزیګی نه شته**

**زه یې په کټ کې غرقه پرقه ناسته یمه**

د نرواکۍ په جریان کې ورو ورو په اکثره شیانو کې ښځې هم متاثرې شوې دي، د نارینه غوندې فکر کوي او «خشونت مردان علیه زنان» مقوله په «خشونت زنان علیه زنان» ځنې جوړېږي. په دې لاندې لنډۍ کې ضمناً داسې تصور

احساسوو چې ګواکې د ښځو په نظر هم «مضبوط وهل ټکول» د عالي نارینه‌توب خاصیت دی.

البته نارینه ته د وهلو نسبت په یوه لحاظ پر نارینه ژور استعاري طنز هم دی. مشبه «نارینه» یاد شوی او مشبه به «وهونکی» حذف شوی. وهل څه شی کوي؟

دغه راز له همدې طرزه موزیګی هم پسې هدف شوی دی او د جنجال، مقاومت او مقابلې په بڼه پسې یې داسې «هجوه» شوې ده:

**که موزیګی نه یې نو څه یې**
**چې کوتک پرېږدې په خمڅۍ کړې ګوزارونه**

موزیګی چې د بل چا معشوقه کړې، یار یې ورته وایي:

**څادر په سر کړه، ترې راوځه**
**تا د موزي په کور کې څه لیدلي دینه؟**

یا:

**راپسې مه غېږه سپیه**
**ستا د مېرمنې په سلا راغلی یمه**

د اوږدو ترخو تراژیدیو، مینې او عاشقانه ارمانونو د پراخې نهیلې نړۍ بیان پکې داسې شوی:

**چې مې بې غوره یار خبرېږي**
**زه به موزي په دریاب ښکته وړي یمه**
**اسمانه پرېوځې بخته واوړې**
**زړګیه وچ شې ما موزي ته ودوینه**
**خاونده بیا دې ماخستن کړ**
**د ګلو لښتې د موزیانو کټ ته ځینه**
**که موزیګی دې راته مړ کړ**
**یو به غازي شې بل به زه در پاتې شمه**
**که موزیګی مې درته مړ که**
**بیا به خپه یې چې تنکۍ دې کونډه کړمه**
**زما د مینې جانان بل دی**
**په دله خان به خمیرې را ټولومه**
**یو کال مې زهر ورته ورکړل**

**موزي مړ نه شو د هندو قرضداره شومه**
**چا را ته وې موزیان تمام شول**
**زما د برخې موزي شته ما ژاړوینه**
**خلک زیارت ته پتاسې وړي**
**زه د جوارو ټانټې وړم چې کونډه شمه**
**له موزیګي نه کونډه ښه یم**
**پردې منګي به ډکوم ځان به ساتمه**
**توتان پاخه ګورګوري تورې**
**زه د موزي د ډوډۍ څه پروا لرمه**
**چې موزیګی مې راسره وي**
**د ببرسرې مور یې څه پروا لرمه**
**موزي د دربو چمچه مار دی**
**نه په ښېرو مري، نه په ډېرو زیارتونه**
**ستا دې د سترګو اشارت وي**
**په موزیګي به درته سره کړم دېوالونه**
**د موزیګي مېړانه ګوره**
**څپلۍ پرته ده په خمڅۍ کړي ګوزارونه**
**له موزیګي نه کونډه ښه یم**
**څرخې مې زده دی کال په غُور کې تېرومه**
**موزي ډ ډې دی ما پرې لوشه**
**د سپاخته غوښه پې به تا ته درکومه**
**موزیګی خر که پرې سپرېږه**
**د کنډوالې لورې ته یې پرېږده غ و ل به خورینه**
**موزیګی ټول په ځمکه خښ کړئ**
**پزه یې پرېږدئ چې متیازې پرې کوونه**
**موزي ویده رنګ یې ورک کړئ**
**د سپږو ډک پوستین پرې واچوئ چې ځونه**
**موزیګی شین له خندا راغی**
**په لمنګۍ کې چا نیني ورکړې دینه**
**نه به انځر د ورځې ګل شي**

**نه به موزي په ښځه غسل واړوينه**
**د موزيګي چړپن له لاسه**
**په سپينه غاړه لونګين نه تاوومه**
**موزيګی بيا له ښاره راغی**
**زما د ياد باچاهي بيا را ړنګوينه**
**ما به همدا موزي زړه کړي**
**هسي مې زړه په برېتورو پسې ځينه**
**د رنجو ګوډی مې ساتلي**
**د موزيګي په مرګ به سترګې تورومه**
**پر سنګر بيا ټکونه وشول**
**مېړه به مري، موزي به بيا کور ته راځينه**
**د دلالانو بچي مره کړي**
**د ګلو لښتي په موزيانو ځړوينه**
**ستا د سينې انار پاخه شول**
**ما يې باغوان کړه چې موزيان ترې ځغلومه**

يوازېنی متن چې د ښځو له طرفه پر نارينه ګوزار کوي، حقطلبي، احساس طلبي او باغي عشق پکې ښکاري، د نارينه پر کمزوريو او خلاوو بېخاره او بېډاره ګوته ږدي او انداز يې هم ادبي ـ هنري دی، همدا د لنډيو متن دی.
په دې حساب ډېره پراخه ناسپړلې دښته هواره پرته ده چې تر اوسه يې چا تيره نه ده اړولې.
د پوهنتونونو محصلانو ته بويه چې د فلکلور څېړنې دې اړخ ته هم مخه کړي او ژر تر ژره دا شرم ورته ښکاره شي چې تر څلور کلن تحصيل وروسته هم يو چا ته وايي چې «مونوګراف ته کومه موضوع انتخاب کړم؟»
د «موزيګي» په سيمبول جوړو شويو لنډيو رواني، ټولنپوهنيزه او جنستي تشريح حتی يو پراخ فکري ډيالوګ ته لاره پرانيستلای شي، ادبي لذت خو يې لا ايسته کېږده.
**موزيګی/ موزی په لنډيو کې د جنسيتي تبعيض پر ضد يو ناب نريتېيف دی چې نرواکي داسې خوځوي لکه زلزله چې د کوټې له کړکيو چيغکی باسي. نارينه ته په اکثره متونو کې دا رنګ نقش او تصوير نه دی ورکړل شوی، بلکې تل اتل دی او داسې اتل په هند و سند و په تخار او په کابل نه شته.**


## د دعوت رسنيز مرکز ملاتړ وکړئ

**له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي يا ډېره، زموږ رسنيز کارونه او هڅې پياوړې کوي، زموږ راتلونکې ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمينه برابروي. د دعوت رسنيز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر يا په ډېرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو يوازې يوه دقيقه وخت نيسي. او هم کولی شئ هره مياشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ.**

**د دعوت بانکي پته: DNB Bank AC # 0530 2294668**

**له ناروې بهر د نړيوالو تادياتو حساب:**

**NO15 0530 2294 668**

**د ويپس شمېره: Vipps: #557320**

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month.
Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# ولې اوږد فکر مهم دی؟



قدرت الله هېوادپال

د نړۍ د کاروبارونو او سیاستونو کال بیا بدلیږي، له دې بحثه اخوا چې موږ کوم کال کاروو یا نور ورته په کومه سترګه ګوري، خو د نیتي حاکمه تول بدلیږي.

ډېر به ناست وي ادا فکر به کړي چې راتلونکي لپاره څه پلان ولرم، څه وکړم، وخت مهم نه دی وخت پر هر چا تیریږي خو له وخته ګټه اخیستنه مهمه ده، هغه چې د روغتون مخې ته د خپل اولاد د روغتیا احوال ته په تمه وي، هغې ته یوه دقیقه لکه کال وي، هغه چې فیسبوک ته ناست وي او د خپل ښه او د بل بد وایي ساعت یې پر څو کلیکونو تیر شي.

هغوی چې په یوه کال کې خپل کاروبارونه یا زده کړې پر پښو دروي، او هغوی چې کال یې په دې تیر شي چې له دې هیواده څه نه جوړیږي او باید یو ځوک راشي آباد یې کړي، یا هغوی چې کډوال شي او ځان لپاره بل ځای جونګړه آبادوي، ټول یې پر بل مقیاس تلي.

هغوی چې وایي د کال په پای کې به ادا خاوره نړۍ ته دومره پوه او مسلکي خلک وړاندې کړي، او هغوی چې کیني او وایي چې له دې هېواده مه ځئ او خبریالانو ته دا شمیرې ښیي چې په دې هېواد کې دومره خلک ولاړل او دومره ګاونډیانو بیرته راوشړل.

کله چې موږ اوږدمهاله اهداف ټاکو نو دوه تګلارو ته ګورو، یو دا چې هدف مو معلوم وي نو د هغې په لور مزل کوۍ هلته مهمه نه وي چې په څه طریقه رسیږۍ خو غواړۍ چې هلته واوسۍ، لکه یو څوک غواړي چې د خپل مسلک بهترین کس واوسي، نو هغه له لوستلو نیولې تر تدریسه، مسلکي ټولنو کې له برخه اخیستنې تر لیکنې، له دندې تر پرمختګه هر څه کړي، تر څو د هغه مسلک بهترینو ته ورسیږي.

دوهم، یې هدف معلوم نه وي، خو تګلاره معلومه وي، یعنې یو څوک ځان ته ادا هدف ټاکي چې درواغ به نه وایي، ادا چې درواغ نه ویل ما ته څه ګټې راوړي ادا معلوم نه دي، خو زه پر همدې تګلاره عمل کړم. یو څوک سپورت کوي، هغه هیڅکله په دې نه پوهیږي چې د نه سپورت له کبله له څه ناروغیو او ننګونو خوندي شوی دی، خو پوهیږي چې سپورت ورته ګټې راوړي.

له ځینو به واورې چې کاش مې فساد کړی وای، کاش مې ادا کړی وای اوس به په دې حالت کې نه وو، که څوک خپلو اصولو ته ژمن وي، مهمه نه ده چې ادا اصول دې شخص ته څه راوړي، مهمه ادا ده چې ادا ځان ته دومره ارزښت ورکوي چې اصول ټاکي او د هغه اصولو قرباني او بیې پریکولو ته تیار دی.




د شخص ژوند پر کلونو راڅرخي، خو ادا یې په ورځو تلي، هر څوک که هر څومره عمر ولري، نشي کولای د خپل ژوند هره ورځ، هره اونۍ، هره میاشت یا آن هر کال را په یاد کړي، هغه څه چې تاسې ته نن مهم دي، میاشت وروسته به نه وي، هغه څه چې تاسې ته میاشت وړاندې مهم وو، نن نه دي، نو ځکه هر کله چې موږ ژوند ته ګورو، نو موږ یې مجموعي اړخ رااخلو. اوږد فکر یې رااخلو.

د هېواد هم همدا بحث راواخلئ، پر هیوادونو ټیټې پاستې راځي، هغوی چې نن هیوادونه پر مختللي بولي، که جاپان دی که

جنوبي کوريا، هغوی ولږه تنده تیره کړې ده، هلته اوس هم داسې خلک ژوندي دي چې د خپلو سختو تنگو او په تږوله کوږنۍ د یو نس خوړو کیسې کړي. او که چیرې نن د زیمبابوې د بیوزلۍ کیسې کړي، نو هغوی هم غني تاریخ پریښې تر څو چې چارواکو په چپه روان کړ.

هېواد له خلکو جوړ وي، او دا خلک د محدودو نورو خلکو لخوا اغیزمن وي، زه یې مشرې نه یادوم چې دا خلک د نورو لخوا مشري کیږي، ځکه د مشرۍ اساس پر اغیزه ولاړ وي، د فوټبال بازار گرم وو، د فوټبال لوبغاړو او لوبډلو اغیزه هم ورسره ډیره وه، او د همدې اغیزې په رڼا کې د قطر او ورسره د دې لوبډلو ارزښت هم ډیر شوې وو، چې له کبله یې خلکو ورته غوږ نیو.

نو هغوی چې د واک، چوکۍ، یا نورو له کبله اغیزه لري، ورسره دا مسؤلیت هم لري چې هیواد ته لوری وټاکي، دلته ښه او بد نه وي، مهم دا وي چې له شتو وسایلو څرنگه ښه گټه اخیستل کیږي، که چیرې واکداره راپاڅیږي پر یو چا د څه احسان ږدي، چې په هیواد کې یوه خاصه چاره ښه شوې ده، نو ورسره باید دا هم ووایي چې د دې چارې ښه کیدل به ولس ته څه گټه وکړي او دوی ورڅخه دغه گټه اخیستنه څرنگه هڅوي.



کال نوی کیږي، ځینو لپاره به شمیره بدله کړي، خو ځینو لپاره ښایي دا یو تمځای واوسي چې خپل گریوان کې وگوري، چې زه پر دغه چوکۍ ناست یم څه مې وکړل، ځینو هېوادونه به ځان ته دا وټاکي چې موږ به دا کال نوي ښوونځي او پوهنتونونه پرانیزو، د نړۍ واکدارۍ لپاره به خپل نوی نسل روزو.

او ځینې هېوادونه به بیا دې ته ناست وي چې صبر دا نور څه ابتکارات او کشفونې کوي چې موږ یې دلته نقل کړو، یا یې نوی ټلیفون یا بله وسیله واخلو او دلته یې خلک ته وښیو، خو ځان به دومره نه په عذابوو چې د همدغو پخوانیو نسلونو کشفیات موږ کارول او سبا به یې هم زما اولادونه د هغوی پرمختگونه څاري،

خو نه مې پخپله څه توره وکړه او نه مې اولاد په هغه لار روان کړی چې نړۍ ته ځان سیال کړي.

د کال اوږیدل راوږیدل مهم نه دي، یوازې د اندازه کولو مقیاس دی، خو آیا ژوند ته مو دومره څه پریښې دي چې د اندازه کولو واوسي، که نور ځان لپاره اهداف ټاکي، زه به یې هم وټاکم، خو که نور یې نه کړي، زه یې ولې وکړم. کله چې احساس وکړې د ژوند پای مې ده، آیا که په دغه لار وروسته وگورې، داسې څه وینې چې په تللو او یادولو ارزي.

که نن مې د فوټبال پر لوبغاړو اسلام گټه، سبا یې د کرکټ لوبغاړي وي، خپل ژوند مې نه دی معلوم خو د نړۍ پر سیاستونو او اغیزو درې ساعته غړیدلای شم. انسان په هغه څه کې بهتریږي پر څه چې وخت مصرفوي، که چیرې یو څوک هره ورځ ترکاڼي کړي، نو له وخت سره به بهترین ترکاڼ شي، خو که یو څوک هیڅ نه کړي، نو په هیڅ کولو کې به بهتره شي.

هره هغه څه چې نن کوئ هغه ستاسې سبا ټاکي، راتلونکی به نامعلوم وي، خو هغه سلوکونه چې هغې سره سبا ته ځئ هغه معلوم دي، خپل سلوک، مهارت او پوهه سمه کړئ، ستاسې سبا پخپله سمې ته روانیږي.

ختیځې نړۍ پر دې مشهوره خبره یې راټولوو، ختیځ ځکه وایم، چې څوک یې کنفیوشس پورې تړي او څوک گاندي پورې، دوی وایي چې (که په نړۍ کې غواړې هر بدلون ووینې نو له ځانه یې پیل کړه)، او که وایي حالات سم شو بیا به دې ببولالو ته راشو، نو حالات هیڅکله نه سمیږي، ځکه چې زموږ توقعات، پوهه، وسایل او چاپیریال بدلیږي، او نوی چاپیریال نوی غوښتنې لري، نو نن چې درته څه سم ښکاري هغه سم کړئ، او همدا د نن سموالی به زموږ سبا سم کړي.

پاتې د ملتونو اغیزمنو خلکو او چارواکو بحث شو، امام احمد وو که امام غزالي دوی به ویل چې زما یوه دعا ده هغه چارواکو لپاره ده، زه د هغوی اصلاح لپاره دعا کړم، چې که چیرې دوی سم شو تږولنه سمه ده، د دوی لیدلورې د هېواد لیدلورې ټاکي.

# آیا په افغانستان کې نجونې او ښځې خپلو حقونو ته لاسرسی لري؟



لیکوال : محمد مبین هڅاند

د ښځو نړیواله ورځ چې د عیسوي کال د مارچ د میاشتې له اتمې نېټې سره سمون لري، په ټوله نړۍ کې په دې ورځ لمانځل کېږي. مګر د اوس څخه « ۱۱۴» کاله مخکې په لومړي ځل په «۱۹۰۹» کال کې په امریکا کې و لمانځل شوه.

خو بدبختانه زموږ هېواد کې نجونې او ښځې د زده کړو او کار کولو حق نلري، خو پرته له دې په افغاني ټولنه کې ډېر کم سلنه خلک په خپله خوښه واده کوي زیات شمېر یې په خپله خوښه چې اسلام هم ورته حق ورکړی، خو له دوی څخه دا حق هم اخیستل شوی دی. د هېواد په یو شمېر سیمو کې کومې ښځې چې لور وزیږوي وهل کېږي، ټکول کېږي ان تر دې چې وژل کېږي. ښځې ناقص العقل نه بلکې هغه د الله «ج» له لوري نړۍ ته د عزت، ښکلا، حیا او هوښیار پیدا شوی مخلوق دی. ښځو لپاره همدا هم بس ده چې د انسانیت په تاریخ کې یې هیڅکله د خدایی دعوه نه ده کړې.

نجونو او ښځو ته دې بې حیایۍ په سترګه مه ګورئ، بلکې دوی ته دې نړۍ د فرښتو په نظر وګورئ، ځکه د هغوی پرته نړۍ نیم ګړې او بدرنګه ده، ځکه الله «ج» زموږ د ټولو انسانانو نیکه آدم «ع» ته بی بی هوا پیدا کړې ده. ښځې د رسول اکرم «ص» نیمایي نفوس دی، هغوی د ځمکې په سره دي نړۍ د رحم دلۍ او زموږ ټولو روزونکي دي. مېرمنو ته په درنه سترګه کتل کمزوري نه بلکې د خدای «ج» امر منل او انسانیت ته په درنه سترګه لیدل دي، راځئ، ټول په ګډه د خدای «ج» امر ومنو او خپل انسانیت ثابت کړو، او د خپل کور څخه نیولې د ځمکې په سر ټولو نجونو او ښځو ته ټول انساني، اسلامي او افغاني حقوق ورکړو؛ او دا کار د خپل ځان لپاره د شرم نه بلکې ویاړ وګڼو.

د ښځو د نړیوالې ورځې له مخې د ا.ا.ا په رهبرۍ هم غږ کوم چې د نجونو او ښځو پرمخ د ښونځیو، پوهنتونونو تر څنګ د کار کولو دروازې خلاصې کړي؛ مه پرېږدئ چې هېوادوال مو د علم له رڼا څخه بې برخې پاتې شي. ځکه حکومتونه تل دې بدلون په حال کې وي، مګر ښې او بدې کړنې به په تاریخ کې نورو نسلونو ته پاتې کېږي. ښځې کولی شي د کور، ولس، هېواد او نړۍ په آبادۍ کې پوره ونډه واخلي، راځئ په هغوی باور وکړو، په هره برخه کې دوی ته ونډه ورکړو؛ تر څو کور، ولس ، هېواد او نړۍ په ګډه آباده او ښکلې کړو؛ د یوه داسې هېواد په هیله چې انسانیت په کې حاکم او ټول ملت خپلواکه او خوشحاله وي. تر څو هیڅوک د هېواد څخه کډوال نه شي، او هیڅوک له زده کړو، کار، پرمختګ او آزادۍ څخه بې برخې پاتې نه شي.



# د افغانستان د معاصر تاریخ دوه اصلي قهرمانان

# ښځه او ښوونځی

لیکوالان: یونس نګاه او فاطمه اوزګون - ژباړه: هیله تبسم

سیاسي ځواکونو، بهرنیو قدرتونو او سیاسي ډلو له زده کړو او ښځو سره خپله موضوع هر وخت اعلان کړې.

ځینو مکتبونه جوړول تر څو بدلون وکړي؛ او ځینو بیا سوځول تر څو د بدلون مخه ونیسي.

ډېر کم د ښځو لپاره خاص سهولت او مثبت تبعیض ته قایل ول، د قرض په پیسو او وارداتي معلمانو په وسیله به یې ښوونځی فعال کړل تر څو سوځېدلي فرصتونه جبران کړي.

او ځینو بیا د ښځو د محوه کولو لپاره پخواني تبعیضونه او طرحې جوړولې او همدارنګه معلمان به یې دې ته مجبورول تر څو وظیفه او وطن پرېږدي او د تحول مخه ونیول شي.

ډېری موازي داستانونو د دې تر څنګ چې په دې متن کې یې لولو، جریان درلود او دا آخر سل یا یونیم سل کلن تاریخ کې د ښځې قهرمانی او کښت، ښځه او کورنی، ښځې او بازار تاریخ هم کولی شو ولولو.

په کلیوالو او له ښوونځیو څخه محرومو ټولنو کې هم د ښځې موضوع توده وه. ښځې هلته هم د ستم ښکار وې، له ستم سره جنګېدلې دي، آزادي یې غوښتې او محرومیتونه یې ګاللي دي.

خو له دې ځایه چې زموږ د روزګار اصلي غوټه او د ټولنې تېرېدل له باغ او کښت څخه وروسته د زندګۍ په لور، د دولت کیفیت او حضور د زندګۍ په برخه کې اصلي مسأله ده، فردي آزادۍ د جګړو عمده میدان دی او ډلې د ضرورت یا ګناه په خاطر د ښځې او سړي د برابروالي په سر ناندرې او جنجالونه کوي، لذا د ښځې نړیوالې ورځې د نمانځنې او احترام د افغانستان د مبارزانو لپاره چې د دیموکراتیک نظام د ایجاد لپاره د ښځې او مکتب برخلیک ته د ماضي په رڼا کې یوه نغوته کوو.

## ناو په توفان کې

افغانستان په دې وروستیو سلو کلونو کې هغه کښتۍ ته ورته دی چې له څلورو طرفونو د توفان له څپو سره مخامخه وه. کله به دې څپو ملاح او پاڅ ناست مرغان یو له بل سره ټکرول، کله به یې په سر واخیستل او د خپلو خوږو خاطرو او یادونو ګرفتار به یې کړل او کله به یې د ژورې ناامیدۍ ښکار کړل.



د دې څپو رد د ژوند له هر برخې ډېر کولو شو د ښارې ښځو په ژوند او د دوی رابطه له پوهې او زده کړو او زده کړیالو ښځو په ژوند کې پیدا کړو.

په ۱۹۱۹ کال کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان په تاریخ کې،

ځینو سیاستمدارو چې د هېواد د جوړولو لپاره یې مبارزه کوله، وروسته د حبیب الله خان له قتل (۱۹۱۹فبورئ ۲۰) هغه پاچاه چې د لومړي عصري ښوونځی تهداب یې ایښی وو، قدرت په لاس کې واخیست. حبیب الله خان په ۱۹۰۳ کې د حبیبیې ښوونځي بنسټ کېښود. خو جوړل یې له پیله موجي شول چې لومړی کابل ورپسې څو نورو ښارونو ته دا سلسله وغوځول شوه او په ټول افغانستان کې ښوونځي جوړ شول. نجونې ښوونځیو ته لاړې د زده کړو او کار چاپیریال ته داخلې شوې او په قدرت سره یې دولتي مقاماتو ته لارې پیدا کړې، په داسې حال کې چې تر دې وخته دا هېواد د نرانو هېواد یادېده. او متأسفانه تراوسه دې جګړې پای نه دی موندلی او دا مقاله چې موږ دوه تنه لیکو د حبیبیې لېسې په مجاورت کې ښځې او نجونې له تعلیم محرومې دي، بغیر له محرمه لرې ځای تللی نه شي، د تفریح او کار حق نه لري او د کور په زندانو کې په بند محکومې دي.

افغانستان هم هغه کښتۍ وه چې د تعلیم محرکه څپو له هرې خوا خوځوله. د حبیب الله خان په وخت کې د تعلیم او تربیې اصلي رهبر او مدیر، د عبدالغني په نوم یو هندی روڼ اندی و چې د هغه وخت دولت په دې دنده ګمارلی و.

د حبیبیې ښوونځي د زنګ کړنګول؛ د محافظه کارو او ترقي غوښتونکو تر منځ د ښکاره جنګ اعلان کولی شو ووایو. ځایي مقاماتو، ملایانو او نور پرنفوذي اقشارو چې په سنتي مدرسو کې یې زده کړې کړې وې او له همدې لارې مقام ته رسېدلي و، د خطر احساس وکړ.

د عبدالغني په وینا: د حبیبیې ښوونځی او ځینې نور لومړني/ابتدایه ښوونځي چې په هغه کلونو کې جوړ شول، د خلکو له ډېر ستر او تود هرکلي سره مخ شول او په چټکتیا سره یې پرمختګ وکړ. (دې پېښې ځایي مقامات هک پک کړل او د دوی حسادت یې وپاروو.)

د عصري تعلیم او تربیې د مخالفانو غبرګون د داکتر عبدالغني او لسګونو نورو په زنداني کولو تمام شو. داکتر عبدالغني لیکي: "د هغو افغانانو له ډلې څخه چې زه یې د معارف د کار د توسعې لپاره هڅولم، اووه تنه یې رأساً اعدام شول او پاتې نور شپېته تنه په زندان کې واچول شول." محافظه کارانو امیر حبیب الله ته دا ذهنیت ورکړ چې ګواکې داکتر عبدالغني او ملګري یې د ده د حکومت د نسکورولو لپاره توطیه جوړه کړې او موخه یې د مشروطه حکومت د عبدالغني په مشرئ دی. (ص ٦٦، داکتر عبدالغني)

وروسته له حبیب الله خان د محافظه کاري او ترقي خواهي تقابل نورو جبهو ته وغځول شو، په داسې حال کې مدرنستانو په چټکتیا سره د لیبرال بدلونونو چې د هغې له جملې څخه د هلکانو او نجونو د حقوقو برابروالی، د مالکیت حقوق، د مطبوعاتو آزادي او ډېری مدني حقوقو لپاره هڅې کولې. (فاطمه جعفري، ص ٦٩)

د دې اصلاحاتو رهبر امان الله خان و، چې له کال ۱۹۱۹ څخه تر ۱۹۲۹ پورې یې واکمني وکړه او اساسي اصلاحات یې د ملت د مدرن کولو لپاره په لاره واچول. امان الله خان د یوې تعلیم یافته ښځې سره چې ثریا نومېده واده کړی وو، او د سلف او پلار خلاف یې چې "له سلو تنو زیاتې ښځې یې سره له نامشروع ماشومانو په خپل حرام کې ساتلې" مخالف د زوجاتو د تعدد و.

**ښځې به عرصې ته راځي**

ملکه ثریا معروفه په ثریا طرزي د ښځو د آزادۍ په ترویج کې مخکښه وه. ثریا په سوریه کې زیږېدلې وه او د خپل پلار محمود طرزي ترځنګ یې زده کړې کړې وې. ثریا له خپل مېړه سره په عمومي محضر کې را ظاهرېدله او د کابینې په ځینو مجلسونو کې به یې د شاه مرسته کوله.

شاه امان الله د ښځو د آزادۍ او د زده کړو لپاره مبارزه علناً تشویق کړه، د سلطنتي کورنۍ ښځې په ځانګړي ډول ملکه ثریا د دې بدلون الګو وه. ثریا لومړنۍ د ښځو مجله، ارشادالنسوان، او همدارنګه د ښځو ملتیا او ملاتړ (لومړنۍ سازمان د ښځو) د ملاتړ او د دوی د ټولنیز رول او دفاع لپاره تاسیس کړ. دا سازمان د کبرا په رهبرۍ، د امان الله خان خور، له ښځو ملاتړ وکړ، تر څو تربیون او یوه مرجع د خپلو غوښتنو د بیان لپاره ولري. د ښځو د ملتیا او حقوقو د ازادۍ، د زده کړو حق، د کار او آرام حق، د فردي آزادۍ حق، فردي مصونیت، د بیا آزادي، ټولنیزتوب، د سیاسي او مدني فعالیتونو او له هېواده بهر د سفرونو لپاره مبارزه وکړه. (حمیدالله بامیک، ۲۰۱۸)

په همدې ډول ملکې ثریا لومړنۍ د نجونو ښوونځۍ(د مستورات ښوونځۍ، ۱۹۲۰) د ښځو لومړنۍ سینما په پغمان او لومړنۍ روغتیایي مرکز(د مستورات روغتون،۱۹۲٤) کې تأسیس کړل. (REDDY ،۲۰۱٤)

په ۱۹۲۷-۱۹۲۸ کلونو کې ثریا او مېړه یې امان الله اروپا ته په سفر لاړل. امان الله له اروپا څخه په راستېندو لویه جرګه د متنفذانو د ملاتړ او جلب، او د خپلو اصلاحي برنامو لپاره دعوت کړل. امان الله د ښځو د زده کړو له حقوقو څخه دفاع وکړه. هغه د دې بیان په کولو سره چې اسلام ښځه د بدن د پوښلو یا خاص پوښلو لپاره ملزمه کړې نه ده، له خپلې مېرمنې یې وغوښتل چې حجاب لرې کړي.

د وینا په پای کې ملکې ثریا خپل حجاب ملاء عام کې لرې کړ، او د ډېرې نورو مقاماتو سرېو هم له دې کاره خپل ملاتړ اعلان کړ. محافظه کارانو د ښځو په بې حجابي اعتراض وکړ؛ خو خپل دا اعتراض یې په جرګه کې په جدیت او لازمه توګه مطرح نه کړ. له جلسې څخه په راستنېدو ځینو د عمومي افکارو په تحریک پیل وکړ.




ځینې انګلیسي جاسوسان مقصر ګڼي چې د خلکو د احساساتو په راپارولو کې د ملکې ثریا مونتاژ یا جعلي جوړ شوي عکسونه چې د اروپا د سفر په مهال اخیستل شوي ول، خلکو په منځ کې خپاره کړل، او د تبلیغ او ذهنیت سازي لپاره یې د خلکو په لاس کې وسیله ورکړه.

د امان الله خان عجولانه اصلاحات، د ده هغو ملګرو هم نقد کړل چې د ترقي غوښتونکې ول؛ یوازې منتقد محافظه کاران نه ول. وروسته له دې ترقي غوښتونکو تحلیلګرانو او تاریخ لیکونکو لکه غلام محمد غبار، او ځینې نور نظر ورکوونکې، د اصلاحاتو ساتندوی شاه، د چټک بدلون او نه پاملرنې په خاطر د ترقۍ د ماتېدو په برخه کې ملامت ګڼي. غباره لیکي: "کله چې شاه د اروپا له سفر راستون شو؛ هغه پخوانۍ سړی نه وو، هغه ډېر خودخواه او مغرور شوی و، او په دې عجولانه اقداماتو چې ویې کړل، افغانستان ډېر ژر د یو منفي انقلاب ښکار کړ. نور پخواني دربار شتون نه درلود، کالر، نکټایي او فیشن، د وطنۍ جامې ځای ونیو. عیاشي او خوښ وخت تېرول په شدت سره پیل شول، ګټور او حقیقي ریفورم له ماشومانه تفرعاتو سره آموخته شول. د باصلابت طبع او د خلکو غوښتنې د شاه په نظر کې نه وې او د ملت له اقتصادي ژوند څخه بې خبره و." (جلد اول تاریخ غبار، ص ۸۱۲)

غبار د شاه د بې توجهي او د ترقي غوښتونکیو د اصطلاح په ډول د عبدالرحمان لودین چې د چمن د استور د جلسې ګډونوال و، مثال راوړی: "کله چې د جلسې یوه ګډونوال(عبدالرحمان خان لودین) وویل: اعلی حضرت په خپله وینا کې ځان"انقلابي بادشاه" معرفي کړ، نو توقع ترې کېږي چې انقلاب د دولت په عرصه کې ومني. لس کاله کېږي چې اعلی حضرت د هېواد د عظمي صدارت دنده شخصاً په غاړه اخیستې ده، په داسې حال کې چې متقاضي انقلاب هغه دی چې د اعلی حضرت لرې کړل شي او کوم بل مسؤل شخص د افغانستان د صدر اعظم په توګه منصوب شي. البته دا پشنهاد ونه منل شو او په سبا د عبدالرحمان خان جواب د دلکشا په قصر کې ورکړل شو، هغه یې احضار کړ او د شاه له طرفه امر ورته وشو چې د دولت له ماموریت څخه استعفا وکړي." (جلد اول تاریخ غبار، ص ۸۱٤)

د غبار په قول، شاه په دې مرحله کې خپل ملاتړي لکه محمود طرزي له وزارت څخه وشړو، محمد ولي خان د حربیې وزیر یې له کابینې څخه لرې کړ- عبدالهادي داوي، د تجارت وزیر له کابینې استعفا وکړه او میر قاسم خان رښتیا"د دولت له مهمې برخې ایسته کړل شو او ځینو بیا، کارګاوې او عناوین له افغانستان څخه په دباندې سفر جوړې کړې."

## د غبرګون ارتجاع

د امان الله د اصلاحاتو په وړاندې جدي پاڅون د نومبر ۱۹۲۸ کې پیل شو؛ په داسې حال کې شینوارو قبایلو جلال آباد محاصره کړ. پاڅون کونکو یوه بیانیه چې په لسو مادو مشتمله وه صادره کړه، چې پنځه مادې یې د امان الله د سیاست او ښځو د حقوقو او جایګاه په اړه وې. پاڅون ډېر ژر پرمختګ وکړ او حبیب الله کلکانی(فبروری-آګست ۱۹۲۹) کې حاکم شو. د کلکاني د حاکمیت لنډه موده په کش او ګیر کې تېره شوه او همدارنګه ښوونځي تعطیل شول. بهرنی او داخلي تجارت، زراعت او صنعت مخ په خوړ شو.

د کلکاني حکومت د نادرشاه لخوا (۱۹۲۹-۱۹۳۳) کې نسکور شو. نادرشاه چې اصلاح طلبي روڼ اندي یې هدف ګرځولي ول او د هغوی په محوه کولو لګیا وو، ټول ښوونځي، بنسټونه او د ښځو مؤسسات لکه ارشادالنسوان چې یوازنۍ او ځانګړې خپرندویه د ښځو وه، ممنوع کړه. د نادرشاه حکومت له ترکیې څخه زده کړیالان راستانه او په ښځو یې حجاب تحمیل کړ. په ۸ نوامبر ۱۹۳۳، اوولس کلن عبدالخالق د نجات لیسې زده کوونکې، د مراسمو په ترځ کې چې په ارګ کې ترسره کېدل، نادرشاه د ډالیو وېشلو په وخت کې له منځه یووړ. د هغه قتل ځانګړی غبرګون و چې له لیبرال اصلاحاتو یې ملاتړ کاوه. دوه مخالفو ځواکونو مخالفت ته دوام ورکړ او د غبار په وینا، د نادرشاه ترور د افغانستان په راتلونکې ژور اغېز وکړ. استبداد او د کلونو محافظه کارۍ دوام وکړ، او ظاهر شاه (۱۹۳۳-۱۹۷۳) د نادر شاه زوی او ځایناستی وروسته له کلونو، کله چې د ترونو له سیوري لرې شو؛ نو په تدریج یې هغو اصلاحاتو ته اجازه ورکړه چې د هغه په نتیجه کې ښځې د دوهم ځل لپاره د تعلیم او کار په برخه کې را ظاهرې شوې.

ظاهرشاه وروسته د ۱۹۶۳ کال د اساسي قانون له تصویب، لس کاله نور حکومت وکړ. هغه لس کلونه اوس د دموکراسي په لسیزې مشهور دي. د دې لسیزې لاسته راوړنو ډېر زیات تاثیر په جنګ او سولې درلود او آنا لارسون معتقد دی چې (د افغانستان اساسي قانون چې د بن د پروسې په جریان کې وروسته له طالبانو جوړ شو، د ۱۹۶٤ د ظاهر شاه د دموکراسي حکومت د اساسي قانون پر بنسټ جوړ شو." په دې ترتیب غلط ده چې فرض کړو وروسته د بن له کنفرانس دې بهیر هېڅ وطني بنیاد نه درلود او په پوره ډول یوه بهرنۍ طرحه وه. ډېری بنسټونو چې وروسته له طالبانو ظهور وکړ، په واقعیت کې هغه پخوانۍ لاړښوونې، نسخې او توسعې وې چې د هېواد په دننه کې د اصلاح طلب اقشارو په وسیله بنسټ اېښودل شوې وې. ولې دا لسیزه د افغانستان په تاریخ کې ارزښت لري او افغانو ښځو څه لاسته راوړنې درلودې؟

### یوه لسیزه دموکراسي، ښځې به بیا عرصې ته راځي

ظاهرشاه ۱۹ کلن و چې د پلار د ترور کېدو څو ساعته وروسته په کال ۱۹۳۳ کې پاچا اعلان شو. د ظاهرشاه د سلطنت په لومړیو کلونو کې، د هغه ترونو د قوي ډلو او بنسټونو په وسیله صدراعظمي او وزارتونه اعمالول. د یوې لسیزې لپاره داوود خان، د ظاهرشاه د کاکا زوی، حکومت رهبري کړ.

یو کال وروسته د داوود خان استعفا له صدارت څخه، شاه ځینې اصلاحات لکه انتخابات او د مطبوعاتو آزادي اعلان کړه. د سلطنتي کورنۍ غړي؛ له مناصب دولتي تصدیو څخه منع کړل شول. سیاسي فعالیتونه هم تر یوه حده زغمل کېدل او ټولنیز اصلاحات چې د هغې له جملې څخه، د ښځو د وضعیت د خوندیتوب لپاره هڅې پیل شوې

په دې لسیزه کې ښځو د رأیې ورکولو حق او په ټولنیز او سیاسي فعالیتونو کې د ګډون حق درلود. که څه هم لومړنۍ ملي شورا د ۱۹۲۰ کال په ورستیو کې تاسیس شوه. خو لومړني پارلماني انتخابات په ۱۹۵٤ کې وشول. ډېرو کمو ښځو لکه رقیه حبیب، اناهیتا راتب زاده، خدیجه احراري او معصومې عصمتي د ملي شورا په دوه دورو( ۱۹۶۵- ۱۹۶۹ او ۱۹۶۹- ۱۹۷۱) کې د پارلمان څوکیو ته لارې پیدا کړې. عزیزه ګردیزۍ او حمیرا سلجوقي هم د سنا غړیتوب ته منصوبې شوې. د لومړي ځل لپاره په کال ۱۹۶۷ کې یوه ښځه، کبرا نورزۍ کابینې ته داخله شوه، او وروسته شفیقه ضیایي د ښځو دوهمې وزیرې، د وزیرانو شورا ته لار پیدا کړه.

خُلاصه دا چې د ۱۹۶٤ کال اساسي فانون افغانستان متحول کړ. هېواد داسې انتخابات تجربه کړل چې نسبتاً آزاد ول. محرومو اقشارو، لکه ښځو وکولی شوی چې ملي شورا ته لار پیدا کړي.

د افرادو مدني او سياسي حقوق په قانون کې په رسميت پیژندل شوي و، او د ښځو آزادي نوره ناروا نه وه.

د ښځو سازمانونه لکه "د مېرمنو ټولنه" او " افغانستان د دموکراتيک ښځو سازمان" د هغوی د موقعیت د تسهیل لپاره د افغانستان په ټولنه کې مرسته وکړه. که څه هم د امان الله خان په دوره کې معدودو ښځو او د شاهي کورنۍ پورې تړلو ښځو، د ښوونځیو په تشکیل، خپرندويو او ټولنيزو بنسټونو کې ګام پورته کړی و، مګر د دموکراسۍ په لسیزه کې د ښځو حقوقو فعالانو د لومړي ځل لپاره له ټولنې دننه په ډېر زيات تعداد او وسيع ډول ميدان ته داخلې شوې.

ښځو په فعالانه ډول د محافظه کارانو په وړاندې له خپلو حقوقو څخه دفاع کوله او په سازمانونو او سياسي مترقي حرکتونو کې غړيتوب درلود. په ١٩٦٤ کې د محافظه کارانو ځینو کړيو په ولسي جرګه کې يو قانون تصويب کړ، او ښځې يې له بهر زده کړو څخه پکې منع کړې وې؛ خو د ښځو او مترقي غوښتونکو سړيو له جدي نيوکو سره مخ شول او ببرته له خپلې غیر قانوني طرحې څخه لاس په سر شول.

دې شخړو د وخت په تېرېدو تشدید پیدا کړ. بنسټګرو هم د اصلاحاتو د جريان په وړاندې سازمانونه جوړ کړل او په ١٩٧٠ کې د مسلمانو ځوانانو سازمان، هغه ښځې په مرميو وويشتلې چې لنډ کالي به يې اغوستي ول، ځينو يې په مخونو ورته تېزاب وپاشل. د ښځو د حقوقو ارتقا مخ په ځوړ شوه او په ١٩٧٣ کې د ګډوډۍ اړوده دوره شروع شوه. په هغه کال، کله چې ظاهرشاه اروپا ته په سفر تللی و، د تره زوی يې داوود خان د يوې سپينې کودتاه په مټ " جمهوري دولت" اعلان کړ.

د داوود خان مطلقه " جمهوريت" چې ځان يې رئيس جمهور ګڼلو، ځينې شديد محدوديتونه د حکومت په مخالفينو اعمال کړل، او په همدې خاطر د هغه مطلقه جمهوريت، ډېر مستبد، نسبتاً د ظاهرشاه له حکومت څخه يادولی شو.

هغه د ظاهرشاه د مشروطه پارلماني نظام خلاف و او همدا يې د وروسته پاتې والي علت ګاڼه. هغه د ١٩٦٤ اساسي قانون منسوخ او پارلمان يې منحل کړ. داوود خان د اقتصادي پرمختګ لپاره؛ سياسي ازادي محدوده کړه. د هغه اقداماتو د هغه مخالفين راوپارول او هغوی يې تشدد ته وهڅول. د دې باوجود هم د ښوونځيو او پوهنتونو پرمختګ دوام وکړ او د ښځو شتون په ټولنيز ژوند کې محدود نه شو؛ خو نور د سياسي حرکتونو فعاليت شتون نه درلود. د هغه بهرنی سیاست د شوروي اتحاد په لور متمايل شو چې د مذهبي بنسټګرو د راپارولو سبب وګرځېد. وروسته يې هڅه وکړه چې خپل پيوستون د شوروي اتحاد سره لږ کړي او د بهرني سياست د اعلان لپاره د غرب خواته متمايل او د هغوی د مرستو جوګه شي، نو د همدې په خاطر د غرب د محتدو حکومتونو د غړيو د ديدار لپاره منځني ختيځ ته لاړ. د داوود خان دې اقدام د مسکو غوسه راوپاروله او د داوود خان او د هغه مخالف ګوند "خلق" ترمنځ يې اختلافات پيدا کړل، دا چې خلق ګوند د شوروي اتحاد ملاتړی و؛ نو په همدې خاطر يې مسکو ملاتړ وکړ. داوود خان خلقيان، ليبرالستان او همدارنګه محافظه کاران له ځانه شړلي ول، د مسکو ملاتړو ياني خلقيانو په ٧ د ثور په کال ١٣٥٧ل (٢٨ اپريل ١٩٧٨) کې د داوود په جمهوريت کودتاه وکړه او د هغه په شمول يې ډېری د کورنۍ غړي ورووژل.

داوود خان استبداد ته مايل ترقي غوښتونکی و او د ټولنيز همدارنګه اقتصادي او کلتوري پرمختګ لپاره يې هڅې کولې. د هغه د صدراعظمي په دوره کې (١٩٥٣-١٩٦٣) د لومړي ځل لپاره د افغاني مېرمنې غږ له راديو څخه واورېدل شو. هغه د ١٩٥٩ کال د خپلواکۍ په جشن کې ښځو ته دستور ورکړ چې بغير له چادري/برقې حاضرې شي. همدارنګه يې لومړنۍ د قابله ګۍ پوهنتون تاسيس کړ.

**په دوه افراطونو کې ايسار**

د داوود خان ځلور کاله او نهه مياشتني حکومت په وينو لړلې پايله ودرلوده، او د بيا ځل لپاره وروسته له امان الله خان، هېواد په دوه افراطي برخو ووېشل شو او د اعتدال ګرايانو غږ زندی شو.

مذهبي افراطيانو په ډېر شدت سره په ټولنيز ژوند کې د ښځو په شتون مخالف ول، په داسې حال کې چې خلقيان د سنتي، مذهبي او بنسټيزو بدلونونو د چټک حل لپاره د جنسيتي برابري ملاتړ کاوه.

دواړه لوري، مذهبيان او خلقيان په شخړو متوسل شول او دې په وينو لړلې جګړې خو لسيزې دوام وکړ. د ډېرى خلکو وينې وبهېدلې او ميليونونه انسانان د کورونو او هېواد پرېښودو ته اړ شول.

په ۱۸ د اکتوبر کال ۱۹۷۸، پنځه مياشتې وروسته له کودتا، د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د ښځو د حقوقو اړوند فرمان صادر کړ چې د ۷مې شمېرې فرمان په نوم مشهور دى. دې فرمان د افغانستان د محافظه کارو ټولنه او بنسټګر په غوسه کړل. پاتې و چې فرمان " د ښځو د حقوقو مساوي له سړيو سره د مدني حقوقو په برخه کې" تأمين کړي او "غيرعادلانه مناسبات، نرواکي، د ښځې او مېړه ترمنځ فيوډالي" د " کورنۍ د حسنه اړيکو د استحکام په خاطر" له منځه يوسي.

بحث راپارونکې برخه د هغه فرمان ۳دريمه او ۵پنځمه ماده وه. دريمې مادې ويل: "انجلۍ يا د انجلۍ پلار نه شي کولی نغدې پيسې يا جنس د مهر په نوم، له لس شرعي درهمه، چې د بانک د نرخ مطابق، ياني درې سوه افغانيو پورې کېږي، واخلي. په پنځمه ماده کې د ماشومې واده منعه شوى و: "کوژده يا واده د ښځې لپاره د ١٦ کلنۍ او د سړي لپاره د ١٨ کلنۍ څخه مخکې جواز نه لري." په ٦ ماده کې د مجرم يا ګنهکار لپاره له ٦ تر تر دريو کلونو بند ټاکل شوى و، او هم ويل شوي وو چې نغدې پيسې او هغه جنس چې د ۷اوومې شمېرې د فرمان د احکامو خلاف وي، مصادره کېږي.

دې او دې ورته نور، د خلقي دولت راډيکال سياستونو، د محافظه کارو او بنسټپالو په رهبرۍ ملي مقاومت راوپاروو. په خلقۍ رژيم کې ښځې له پرمختللي اصلاحاتو، سياسي او ټولنيز مشارکت څخه برخمنې وې. په داسې حال کې چې په کليوالو سيمو کې مجاهدين، محافظه کار او افراطي ډلو په هغو حکومت کاوه، ښځې له زده کړو او ډېرى لومړنيو حقوقو څخه بې برخې وې.

د ظاهرشاه او داوود خلاف چې په هغو کې يوازې د اشرافيه کورنۍ ښځو کولی شواى چې له مقرر حقوقو څخه په قوانينو کې استفاده وکړي.

د خلقيانو د حکومت په دوران کې، ټولنيزې ازادۍ د هغوى تر کنټرول لاندې سيمو کې وغځېدې او د بېلابېلو اقشارو مېرمنې له اصلاحاتو برخمنې شوې. د راډيکال احکامو په بنسټ، خلقي رژيم ونه شوى کولی چې خپل اصلاحات د هېواد ګوټ ګوټ کې ترسره کړي، او له تهاجمي موقعيتونو څخه يې شاته تګ پيل کړ.

په کابل او ځينو نورو سترو ښارونو کې، ځينو ښاري جمعيتونو له دې اصلاحاتو څخه ملاتړ وکړ، د ښځو شتون په ټولنيز او سياسي برخه کې وده ومونده او ځينې ښځې لکه اناهيتا راتب زاده، معصومه عصمتي وردک او صالحه فاروق د خلقي دولت په دوران کې په مهمو اجراييوي منصبونو کې خدمت وکړ. ډېرى ښاري ښځو په سياسي سازمانونو، ټولنيز او نظامي برخه کې د خلق او پرچم په دولت کې غړيتوب درلود.

د هغه وخت د شمېر په اساس تقريباً ۱۵ زره تنو د ښځو دموکراتيک سازمان کې غړيتوب درلود. دې سازمان د ښځو لپاره رفاهي طرحې لکه: د سواد زده کړې او مسلکي تعليمات برابرول.(ويمپلن، ۲۰۱۵)

د خلقي رژيم په وروستي ۱۹۹۱، تقريباً ۷زره ښځو پوهنتونو او ۲۳زره نجونو د افغانستان سراسر ښوونځيو ته نومليکنه کړې وه. ۱۹۰ تنه ښځينه استاداني په پوهنتونو او ۲۲ زره تنه معلمانې په ښوونځيو کې په تدريس بوختې وې. (اکسير و ديګران، ۲۰۱۷)

له بله اړخه، جهاديانو ښوونځي سوځل، ښوونکي يې وژل او د کار او تعليم لپاره يې د ښځو حقوق، غير اسلامي اعمال، او د کمونستانو او غربي لبرالانو توطيې ګڼلې.

د فرهنګي، ديني او ټولنيز تخريب لپاره يې همدا موارد تبليغول. د محافظه کارو او مذهبي افراطيانو مختلفې مختلفې کړۍ د خلقي رژيم په وړاندې جنګېدلې.

يو اقليت د چپ ياني خلقيانو او د دوموکراسۍ د ملاتړ او لبرال مبارزان چې د شوروي له اشغال سره مخالف ول؛ خو د ښځو له ټولنيز او سياسي او همدارنګه مدني ارزښتونو څخه يې ملاتړ کاوه، له دواړو طرفو جګړو سره ښکېل او د فشار لاندې ول، همدارنګه د تهديد، شکنجې او وژلو سره مخامخ ول. ځينو يې د هېواد دننه د خلقي رژيم ترڅنګ غلي پاتې شول، ځينې بيا ګاونډيو هېوادونو او غرب ته پناه يوړه، او اقليت يې د سياسي محدوديت باوجود د هېواد دننه مبارزې ته دوام ورکړ. ډېرى ښځې وې چې په فردي او سازماني ډول يې د عدالت غوښتنې

مبارزې ته دوام ورکړ. مینا کشور کمال (۱۹۵٦-۱۹۸۷) د افغانستان د ښځو انقلابي جمعیت مؤسسه یو له هغو کسانو وه چې د اشغال په وړاندې د مقاومت ملاتړې او په عین حال کې د ښځو د حقوقو او ټولنیز دموکراتیک مدافع وه. د هغې ملاتړي ادعا کوي چې د یوې توطیې په ترڅ کې د خاد، یانې خلقي دولت استخباراتو او بنسټپالو لخوا د پاکستان په کویټه کې د فبروري ٤ په ۱۹۸۷ کې ترور شوه.

د اپریل ١٦ په کال ۱۹۹۲ کې خلقي رژیم سقوط شو او جهادي احزابو د کابل واک په لاس کې واخیست. جهادي ډلې د قدرت د وېش په سر له یو بل سره جوړ نه شول، نو په داخلي جګړو او په ورانکاري یې لاس پورې کړ، چې د طالبانو په فتحې، د سپتامبر کال ۱۹۹٦ کې جګړې پای ته ورسېدې. ښځې د مجاهدینو د رژیم په وخت کې له خپلو لومړنیو حقوقو څخه بې برخې وې.

د طالبانو ډله په کال ۱۹۹٤ کې د قندهار په فتح کولو سره د افغانستان سیاست ته دننه شول. د دوه کلونو په ترڅ کې یې د سپتامبر په میاشت، کال ۱۹۹٦ کې کابل اشغال کړ. طالبانو د نجونو ښوونځي، سیاسي سازمانونه، موسیقي او ګډېدا منعه کړه. فاطمه جعفري معتقده ده: چې ښځې د طالبانو په لومړني رژیم کې په چټک ډول له ناعادالانه چلندونو سره مخ او له خپلو لومړنیو حقوقو لکه زده کړې، د آزادی مالکیت او حتا بازار ته بغیر د محرم څخه له تګ منعه وې. (جعفري، ۱۳۹۸)

په اګسټ ۱۹۹۸ کال کې د طالبانو رهبر ملا محمد عمر، د ښځو د حقوقو اړوند فرمان صادر کړ چې تر واده او کورنیو مسایلو محدود و. په هغه فرمان کې د دوه کورنیو ترمنځ د شخړې په سر "بدو کې د نجونو ورکول" منعه کړل شوي و، همدارنګه په هغه فرمان کې ویل شوي ول چې د ښځې د مېړه له فوت وروسته، د مېړه د کورنۍ د لاسوهنې پرته، ښځه حق لري چې په خپله خوښه بل مېړه وکړي. په دې فرمان کې د ښځو زده کړو، کار، مالکیت او ډېرى نورو مدني او سیاسي حقوقو ته نغوته نه وه شوې. (جریده رسمي، شماره ۷۸۸، ص ۷٦)

کوم شاتګ چې طالبانو د افغانستان په سراسر تحمیل کړی و، دومره ژور و چې د خلکو او ښارونو څېرې په تناسب د دوه لسیزو دموکراسي کې چې د داوود خان او خلقیانو په وخت کې په نظر راتلې، اوس د پېژندلو نه وې، او هېڅ ګومان نه کېده چې هغه دوه لسیزې د افغانستان په امتداد او یوه وخت کې تېرې شوې وې. طالبانو په پوهنتونو، ښوونځیو او ښځو محدودیتونه د خپل کار اصلي محور ټاکلی و، او غوښتل یې چې هېواد له هغه تحولاتو چې په څو لسیزو کې لیدلي ول، "پاک" کړي. په ښځو ستم په وحشیانه ډول دوام درلود. د مثال په ډول: په کال ۱۹۹٦ د اکتوبر په میاشت کې، طالبانو د یوې ښځې ګوته په دې خاطر پرې کړه، چې ولې رنګ ناخون په نوکانو وهلی و. (ګریفین، مایکل ۲۰۰۱) په یوه بله پېښه کې، طالبانو اعلان وکړ چې په کال ۱۹۹٦، د دسمبر په میاشت کې یې ۲۲۵ تنه ښځې د شرعي پوښاک په نقض نیولې او مجازات کړې دي. د زرمینې د اعدام انځورونه چې په غازي استدیوم کې په کال ۱۹۹۹ کې خپاره شول، نړۍ هکه پکه کړه، زرمینه په طالباني نظام کې د ښځو د نماد/نښې او قربانۍ باندې بدله شوه، هغه د پنځو اولادونو مور د کابل په مشهور فوتبال لوبغالي، د ۳۰زره تنو لیدونکو په مخ کې اعدام شوه.

په اکتبر ۲۰۰۱ کې کله چې ناټو د امریکا په رهبري په افغانستان حمله وکړه او د طالبانو حکومت یې په ۲۰۰۱ د دسامبر په میاشت کې نسکور کړ، د سیاست او ټولنې صحنه په داسې لیدونکې ډول بدله شوه او څه ډول چې د دې مقالې په سر کې مو وویل د افغانستان کښتۍ په داسې څپو ورغله چې په لیدونکې ډول، روښانتیا او فرصتونو ډک سباوون په نظر راتلل. ډېرې خراغونه بل شول او فرصتونه هم په لاس راغلل؛ خو ملاحانو/کښتۍچلوونکو ونه شوای کولی چې په څپو اوښتل زده کړي او د وطن کښتۍ په لاس کې ونیسي.

**دوه لسیزې جمهوریت**

دوه کاله وروسته د طالبانو له سقوط، د لویې جرګې ۵۰۲ تنو ګډونوالو د" افغانستان اسلامي جمهوریت" په ٤ د جنوري ۲۰۰٤ کې تصویب کړ، چې په ۲٦ د جنوري په هماغه کال کې رسماً اعلان شو. تر هغه وخته پنځه اساسي قانونونه نور د امان الله د لومړي اساسي قانون چې ۱۹۲۳ کې معرفي کړی و، معرفي او لغوه شوي ول. نوی اساسي قانون د پخوانیو هڅو په دوام، د " دولت د همیشني بنسټ تاسیس"و، چې د بن په لوظنامه کې د ۵ دسامبر ۲۰۰۱ کې مالوم شوی و. په دې اساسي قانون کې د

ښځې حقوق په رسميت پېژندل شوي و. په شپږمه ماده کې د دولت اساسي قانون د "د ټولنيز عدالت او مترقي پر بنسټ ټولنه، د انساني کرامت ساتنه، له حقوق بشر څخه ملاتړ، د دموکراسي تحقق او متوازن انکشاف" شوي و. په اوومه ماده کې راغلي ول چې: "دولت به د ملګري ملتونو منشور، د بين الدول تړونونه، د بين الملل ميثاقونه چې افغانستان په هغه پورې محلق دی او همدارنګه د حقوق بشر د نړيواله اعلاميه به رعايتوي."

په ۲۲ ماده کې "هر ډول تبعيض او امتياز د افغانستان د اتباعو تر ترمنځ منعه" ښځه او نر د قانون په وړاندې د مساوي وجايبو او حقوقو وړ ګڼل شوي ول. په ۴۳ او ۴۴ ماده کې د ښځو د زده کړو حق تضمين شوی و. د هغه اساسي قانون په ۸۳ ماده کې راغلي وو چې حداقل ۲۷اوه ويشت، د ولسي جرګې څوکۍ بايد د ښځو نماينده ګانو په وسيله ډکې شي.

په راتلونکي کلونو کې د ښځو د حقوقو د تضمين لپاره نور قوانين او مقررات تصويب شول چې ځيني يې د محافظه کارو له خوا سره مخامخ شول. د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون په مجلس کې تصويب نه شول او ولسمشر په ۲۰۰۹ د جولای په ۲۰ کې هغه فرمان په رسميت وپېژند. په هغه قانون کې ۲۲ برخې چې د هغې له جملې د ښځو په وړاندې تاوتريخوالی، په کم عمر واده، اجباري انزوا، کار زده کړې او صحي خدمات معرفي او منعه شوي ول.

حقوقي اصلاحات د اشتياق د بدلون باوجود د د نسبت متوسطې ښاري او ډېری هغه اشخاص او کورنۍ چې د مهاجرت پر مهال له متفاوتو چاپېريالونو سره اشنا شوي ول، او اوس وطن ته په رڼو ذهنيتونو راستانه شوي ول، د ښځو د سياسي او ټولنيز مشارکت په برخه کې په ۲۰۰۱ کې ډېری پرمختګونه منځ ته راوړل. په ۲۰۰۴ کې د لومړي ځل لپاره، يوه ښځه (مسعوده جلال) د رياست جمهوري انتخاباتو ته نومانده شوه او د ۱۷ تنو نارينه نوماندو تر منځ يې، شپږم ځای خپل کړ. ښوونځي او پوهنتونونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې د هلکانو او انجونو پرمخ پرانيستل شول چې د زده کوونکو شمېر په ۲۰۰۱ کې ۹سوه تنو څخه په ۲۰۲۰ کې له ۹,۵ ميليونه تنو ته پورته شو او ۳۹ سلنه د همدې مجموعې نجونې وې. په تدريجي ډول د ښځو حضور په اداراتو، ورزشي لوبغالو، علمي مرکزونو، کارخانو او بازار کې زيات شو. د نړيوال بانک د خبر په اساس، په ۲۰۱۴ کال کې ۱۶,۱ سلنه ښځو په افغانستان کې د کار ځواک تشکيلاوه. په زياته کچه ښځې وزيرې، د وزير مرستيالې، د اردو منصبدار، والي، ولسوال، ويناوال، ورزشي اتلانې، ديپلوماتانې، د پارلمان غړې او د پوهنتون استادانې شوې.

په همدې حال، د ښځو لپاره د بريا پر لور تګ، په افغاني محافظه کاره ټولنه کې له ګواښونو سره مخ و، او هغوی مجبورې وې چې له تبعيض، آزار او اذيت، تاوتريخوالي او ډېری نورو کلتوري، سنتي او قانوني موانعو سره مبارزه وکړي. په عين حال کې دا پرمختګونه متوازن او چټک نه ول. د هېواد ځيني برخې د جنګ او طالبانو د نفوذ په خاطر له دې تحولاتو محرومې پاتې شوې. د ناموسي قتلونو، اجباري ودونو او کورنيو تاوتريخوالو شمېر زيات و. په ۲۰۱۲ کال کې د ناموسي وژنو ۲۴۰ پېښې ثبت شوې وې. دا وژنې د مېړونو، وروڼو، پلرونو او نورو خپلوانو په وسيله ترسره شوې وې.

په ۲۰۱۵ د مارچ په ۱۹، د ۲۷ کلنې فرخندې ملک زاده، غمجنې وژنې افغانستان او نړۍ هېښه کړه. په هغې ورځ د هلکانو او سړيو يوې ډلې په کابل کې، د شاه دوشمشېرې زيارت ترڅنګ او د ارګ په څو کيلومترۍ کې آغلې فرخنده سنګساره او په وحشي ډول ووژله. قاتلانو ادعا کوله چې هغې قرآن سوځولی، چې وروسته همدا ادعا غلته ثابته شوه. څېړنو په ډاګه کړه چې هغه خپله د ديني زده کړو ښوونکې وه. ملا زين الدين چې د شاه دوشمشېرې زيارت ترڅنګ يې تعويذونه ليکل، له فرخندې سره د تعويذونو د ثواب او ناثواب په خاطر يې تکفير کړله او ناخبره او متعصب ځوانان او سړي يې د هغې په وړاندې تحريک کړل.

د فرخندې غمونکې مرګ د افغانانو د مډرنيزه کولو يوه بله مرحله او تصوير نړۍ ته وړاندې کړ. د همدې پېښو په لړ کې په ۲۰۲۱ د اګسټ په ۱۵ نېټه طالبانو د دوهم ځل لپاره هېواد اشغال کړ، د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون يې لغوه او خپل تور امارت يې تأسيس کړ. ښځې او ښوونځي د هغه کال اصلي اهداف ول او تروريستان د ترقي غوښتونکو مخالفان ول.

د جمهوریت په وروستیو کې افغانستان د زده کوونکو، ښځو او د دوموکراسۍ په قتل ګاه بدل شوی و.

**د دوهم ځل لپاره د طالبانو تور چال!**

د امریکا متحده ایالات په ۲۰۲۰ د فبروري په میاشت کې له طالبانو سره په دوحه کې تړون لاسلیک کړ چې د هغه په اساس به، د ایتلاف ځواکونه د امریکا په رهبري له افغانستان وځي، همدارنګه له طالبانو وعده واخیستل شوه چې د افغانستان خاوره به د امریکا او متحدانو د امنیت د خرابېدو په وړاندې نه کارول کېږي. د امریکا او ناټو ځواکونو له وتلو وروسته، د طالبانو حملې د امنیتي ځواکونو په وړاندې زیاتې شوې او شورشیانو چې په ۲۰۲۱ د مې په میاشت تهاجم پیل کړی وو، د هېواد ډېری برخې ونیولې. پر ۱۵د اګسټ طالبانو د کابل کنټرول په لاس کې ونیو.

په سلګونو زرو تنو د طالبانو د انتقام له وېرې هېواد پرېښودو ته اړ شول او د خلکو هغه انځورونه چې د میدان هوایي خواته یې هجوم وروړی و، نړې هکه پکه کړه.

طالبانو ټول سیاسي مدني او سیاسي حقوق په خاصه توګه د ښځو لپاره، چې په ډېره ستونزمنه توګه لاسته راغلي و، لغو اعلان کړل. د هغوی د بشري ضد اقداماتو د اعتراضونو غبرګونونه د هېواد دننه او بهر راوپارول. په ۱۷ د اګسټ کې، چې د طالبانو د راتګ دوه ورځې شوې وې، د ښځو ځینې کوچنۍ ډلې راټولې شوې او د ښځو لپاره د برابر حقوقو غوښتونکې شوې. طالبانو اعتراضونو ته وخت ورنکړ او ځینې نور محدودیتونه یې د وخت په تېرېدو تشدید کړل. هغوی د نجونو پرمخ ښوونځي او پوهنتونونه وتړل او همدارنګه ښځینه کارکوونکې یې له دفترونو او کار له ساحې منعه کړې. ذبیح الله مجاهد په ۲۴ د اګسټ وویل چې شغل لرونکې مېرمنې دې تر هغه وخته په کور پاتې شي، تر څو چې ورته د کار مناسب سیستم برابر شي. هغه وعده وکړه چې دا اقدام موقتي دی؛ خو د وخت په تېرېدو نور محدودیتونه هم په ښځو ولګېدل او هیبت الله د طالبانو امیر المومنین یو فرمان صادر کړ، چې د ملاعمر د ۱۹۹۸ کال د فرمان سره یې ورته والی لرې. دا فرمان د ښځې حق د مېړه په انتخاب کې، له مېړه د مهر اخیستل او د حق ارث پورې محدود دی. په دې فرمان کې د ښځو د حقوقو اړوند هېڅ نه دي ذکر شوي لکه: مالکیت، زده کړې، سیاست او کار. د دې فرمان کاذب عنوان چې د ښځو حقوق دی، یوه لنډه قاعده د ښځې د محدودلو لپاره ده. د ښځو او سړیو ترمنځ د شرایطو توضیح یې داسې کړی: ځوانې نجونې په خپله خوښه کوژدنې کړي، ښځې په بدو کې مه ورکوئ، کونډې خپل انتخاب ته پرېږدئ، کونډو ته میراث ورکړئ، کله چې کونډه مېرمن کوئ، نو مهر ورکړئ او که څو ښځې لرئ په منځ کې یې عدل وکړئ



**وروسته له دې فرمان طالبانو په سیستماتیک ډول،**

په فرمان او بې فرماني ښځې له ټولنې محوه کړې او تر دې حده مخکې لاړل چې حتا حمام ته له تګ یې هم بندې کړې. د بي بي سي ویبپاڼې په ۲۹ د جنوري یو اوږد فهرست د طالبانو د فرمانونو او اقداماتو خپور کړ چې په ښځو په یونیم کال کې صادر او پلي شوي ول. بي بي سي هغه فرمانونه او اقدامات په څلور کټګوریو وېشلي و: (۱ د ښځو محرومیت له سیاست) ۲: (په عمومي فضا کې د ښځو د شتون محرومیت) ۳: (د ښځو محرومیت له زده کړو) ٤ : او د ښځو محرومیت له کار څخه.

د طالبانو د مخ توري او زموږ د خلکو بد روزګار مرور، د هغه ظالمانه اقداماتو او فرمانو تاریخ او صدور دلته درسره شریکوو:

په کال ۲۰۲۱ او د سپټمبر په میاشت کې طالبانو خپله نارینه کابینه اعلان کړه او ښځې رسماً حذفې شوې.

۲) په همدې کال په ۸ د سپټامبر د طالبانو د داخله وزارت د ښځو له اعترضونو سره مخ و، او په یوه بیانیه کې یې د طالبانو د امنیتي ننګونو په خاطر یې اعتراضونه منعه اعلان کړل. یوه ورځ مخکې طالبانو په هرات ښار کې په معترضو ښځو ډزې وکړې، چې درې تنه پکې ووژل شوې او ۷ تنه ټپیانې شوې.

۳) په ۱۹ د سپټامبر کال ۲۰۲۱ کې طالبانو د کابل ښاروالۍ ښځينه کارکوونکو ته وويل چې يوازې هغه کسانې د کار اجازه لري، چې سړي د هغوی کار نه شي کولی.

٤) له پيل څخه يې موسيقي بنده او د هنرمندانو د تحقير او بې عزتۍ، همدارنګه د موسيقۍ د سامان آلاتو انځورونه او ويډيوګانې خپرې شوې.

د طالبانو په راتګ سره د يوې مياشتې په ترڅ کې د موسيقۍ د زده کړې مرکزونه او مؤسسې بندې شوې.

٥) په ۸ د سپټامبر کال ۲۰۲۱ کې د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستيال وزير، احمدالله وثيق، د ښځو ورزش "نامناسب او نااړين" وګڼو.

٦) په ۱۲ د سپټامبر کال ۲۰۲۱، د طالبانو د لوړو زده کړو وزير بي بي سي ته وويل چې جنسيتي تفکيک به د نجونو او هلکانو زده کړيالانو ترمنځ په ټولو پوهنتونونو کې اعمال پلې کړي. وروسته له يو څه مودې هغوی د ښځو د درس ويلو وختونه او ورځې هم بدلې کړې.

۷) د ښځو وزارت يې منحل کړ. په ۱۷ د سپټامبر يې د هغه وزارت نوم يې د امربالمعروف او نهی عن المنکر ته بدل کړ.

۸) په ۱۷ د سپټامبر کال ۲۰۲۱ کې يې د لېسې او منځې ښوونځې نجونې له زده کړو محرومې کړې. فکر کېده چې راتلونکی کال به د نجونو پرمخ ښوونځې پرانيستل شي، او په کال ۱٤۰۱ د حمل په ۲ نجونې خپل ښوونځيو ته ولاړې؛ خو طالبانو هغوی په اوښلنو سترګو بېرته کورنو ته راستنې کړې.

۹) د نوامبر په مياشت، کال ۲۰۲۱ کې ښځې په تلويزيوني برنامو کې له راښکاره کېدو منع شوې او دستور ورکړل شو چې ځانونه مکمل وپوښي.

۱۰) ۲٦ د دسمبر، کال ۲۰۲۱ کې په ښځو د سفر محدوديتونه ولګېدل او ورته وويل شول چې له پلار، ورور، مېړه او زوی بغير له ۷۲ کيلومترو د زيات سفر حق نه لري.

۱۱) په ۲٤ د فبروري، کال ۲۰۲۲کې له محرم بغير له هېواد بهر تګ منع اعلان شو.

۱۲) د طالبانو د حاکميت په لومړنيو څو مياشتو کې د معرضو ښځو پناه ځايونه ورک شول.

۱۳) په جنوري مياشت، کال ۲۰۲۲ کې طالبانو د حجاب د مراعتولو کمپاين پيل کړ او ۷ د مې په هماغه کال د يو فرمان په ترڅ کې له ښځو وغوښتل شول چې په عام محضر کې بايد خپله څېره وپوښي، ګنې د هغوی "سړی يا مېړه" به مجازات کړي.

۱٤) د مې په مياشت، کال ۲۰۲۲ کې د موټر چلوونکو زده کړن ځايونو ته دستور ورکړل شو چې ښځو ته زده کړې ورنه کړي.

۱٥) د سپټامبر په مياشت، کال ۲۰۲۲ کې د بهرنيو ژبو د زده کړو مرکزونو ته په کابل او ډېرى نورو ولاياتو کې دستور ورکړل شو چې د ښځينه معلمانو د استخدام تر وخته پورې، ښځينه زده کوونکو ته حق نه لري چې ټولګي شروع کړي. په هماغه مياشت کې نجونو له ديني ټولګيو او جوماتونو هم منع شوې.

۱٦) د اکتوبر مياشتې په لومړۍ اونۍ کې چې د کانکور ازموينې وې، د نجونو لپاره د رشتو انتخاب محدود شو. نجونې له زراعت، مالداري، ساختماني انجينري او معادن رشتو کې له زده کړو منع شوې.

۱۷) په ۲۷ د نوامبر ۲۰۲۲، د ښځو او سړيو لپاره پارک ته د تګ ورځې مشخصې شوې. په همدې مياشت کې د ښځو ورزشي ځايونه او حمامونه هم تعطيل شول.

۱۸) د دسامبر په ۲۰۲۲، ښځينه فارغ التحصيلانې له پوهنتون دباندې د جشن نمانځلو څخه منع شوې.

۱۹) په ۲۱ د دسامبر ۲۰۲۲، نجونې له لوړو زده کړو منع شوې.

۲۰) په ۲٤ دسمبر ۲۰۲۲، طالبانو ښځينه کارکوونکې له دولتي او غير دولتي خارجي او داخلي مؤسسو څخه منع کړې.

خو دا ټول د ښځې او ښوونځې داستان نه دی او د ترقي غوښتونکو او مرتجعانو هيلې لا پای ته نه دي رسېدلي. ښځې دا ځل ډېرې ځواکمنې او په الهام بښونکې ډول، له پخوا د خپلو حقوق د دفاع لپاره ولاړې دي. په دې وروستي يونيم کال کې، د هېواد ښځې، د مظلوميت د داستان اصلي قهرمانې وې/دي. د تعليم او آزادي نوی فصل او بهار به ډېر ژر بېرته را زرغون شي، او دا ځل به زموږ خلک د ترقي او تقويت لپاره ډېرې کلکې پايې جوړې کړي او د انګېزې او مهارت نوې څپې به ولري.

د مارچ ۸ نړيواله ورځ مبارک او د يوه آزاد سبا په هيله.



# د وربښمو کاروان

چلوونکې او مسئوله: شپېه ګهیځ



د وربښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او لیکوالانو له پېژاند نیولې تر طنزونو، لنډو کیسو، ادبي ټوټو، ادبي څېړنو او نور بیلابیل ادبي او غیر سیاسي لیکنې د هنري ذوق څرووبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختیا او غوړېدا په موخه مو د نېک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هیله یو.

dawatafghanmedia@gmail.com

## د دې ګڼې ادبي خپره

# لېمه ودان

لېمه ودان د محمد طاهر ودان لور او د محمد ظاهر لمسۍ ده. په ۱۳۸۳ل کال د وردګو ولایت په چک ولسوالۍ په غني‌خېلو کې زېږېدلې ده. لومړنۍ زده کړې یې په خپل کلي کې کړې دي؛ خو کله چې کابل ښار ته راغلې ښوونځۍ یې له منځنۍ(متوسطه) دورې څخه پیل کړې، یعنې د ښوونځي لومړنۍ(ابتدایه) دوره یې نه ده لوستې، له همدې امله یې ښوونځۍ هم په کم سن پای ته رسولی. په ۱۳۹۷ کال د کابل له څهار قلعه څهار دهي عالي لیسې څخه فارغه شوې ده او په ۱۳۹۸ کال کې د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې ته بریالۍ شوې. اوس مهال د پښتو څانګې د دریېم ټولګي زده‌کړیاله ده. د لیکوالۍ استعداد یې د ښوونځي له دورې ورسره و؛ خو مسلکي لیکل یې د پوهنتون له دورې پیل کړي. لنډې کیسې یې په وېبسایټونو او مجله کې خپرې شوې دي. اغلې ودان وایي چې ډېر زر به یې لنډې کیسې په یوه ټولګه کې راټولې کړي. نوموړې د ژباړې په فن هم کار کړې، د ( د خزانې په سمڅو کې وینې) ترسرلیک لاندې ناچاپ ژباړلی پولیسي ناول لري. نوموړې د خپل ذوق له مخې شاعري هم کوي.

### *د نثر بېلګې:*

### کوم یو دی؟

درې موټره کلي ته دننه شول، ټول خلک وهم واخیستل. د کورونو له خوا یوه زړه ښځه په بیړه وروانه وه. نژدې لوېدلې وه. له موټرو ښکته شوي کسان حیران ولاړ و. ښځه وررسېده. لاس او پښې یې رېږېدل. په سوې ساه یې وویل:

- کوم یو دی؟؟؟

ولاړو کسانو یو بل ته حیران حیران وکتل، یو رامخکې شو. ویې ویل:

- اجانې! جنازه نه ده، ماین‌پاکوونکي یو.

### دوزخ

په نرۍ پوله ګرندۍ روانه وه. تیندک یې وخوړ. لور یې له لاسه پرېبووت. بېرته یې راپورته کړ. له ځانه سره یې وویل:

- نن ګوندې غوسه نه شي.

شېبه وروسته لويه پنډه په سر د کلا په دروازه دننه شوه. شفتله يې لا له سره نه و ښکته کړې، چې له کوټې پرې ورچيغه شوه:

- ښاده مه شې!!! بيا له چاسره په لار کې ولاړه وې! مردارې! د کور ټول کارونه پراته دي... .

لا غږېده، نجلۍ د کور په کارو لګيا شوه. دې وخت کې د دې په عمر بله نجلۍ له کوټې راووته، سترګې او ښګرې يې لمر برېښول. په انګړ کې ولاړې نجلۍ خپل مړوند ته وکتل، زخم و، ړستونی يې پرې راکش کړ. دې وخت کې له کوټې غږ راغئ:

- لورې! مه وځه سور لمر دی، رنګ دې تورېږي.

جارو په لاس، په انګړ کې ولاړه نجلۍ حيرانه ودرېده. ويې ويل:

- که چا دوزخ ليدلی نه وي
مور يې ميره کړې چې دوزخ وروښايينه

**اترنګ**

د کلا دروازه راخلاصه شوه، ماشومې ورمنډه کړه:

- ابا!!! نکريزې دې راوړې؟؟

سړي د غاړې دسمال په تندي تېر کړ، د مخ ګونځې يې ورکې شوې. جيب ته يې لاس کړ، نکريزې يې ورته ونيوې. نجلۍ بېرته په منډه کوټې ته لاړه.

***

د سهار لمر په کلي لمنه غوړولې وه، نجلۍ نوې جامې اترنګ په لاسو له کلا غلې غلې راووته؛ لکه غلا يې چې کړې وي. د کلي نور ماشومان هم په ښايسته ښايسته جامو کې راوتلي و، لوبې يې کولې. زړه نا زړه ورروانه شوه. د دې په ليدو ټول په خندا شول، دې لاسونه شاته پټ کړل. د کور په خوا يې منډه کړه، پلار يې په کوټه کې ناست و، تر څنګ يې کېناسته، په غريو يې وويل:

- ابا! د ادې د لاسونو سره کول زده و؟

سړي مخ بلې خواته کړ، سترګې يې ځلېدې، غريو د څه ويلو اجازه ورنه کړه. په سترګو کې يې هغه صحنه تاوېده، چې ميرمن يې په سرو لاسو د مسافرو له کيبنټې د سيند زړه ته ښکته شوه.

**پور**

ګړنديو ګامونو يې د روغتون په دهلېزونو کې انګازې کولې. د مالي خونې ته ودرېد. تر کوچنۍ شيشې يې کاغذ ورکړ. هغې وکوت، ويې ويل:

- لس‌زره.
- څو!؟
- لس‌زره.

سړی په شا شو، غلې يې وويل:

- نه يې لرم.

په بېړه روان شو، جيب ته يې لاس کړ، مبايل يې راوايست. شمېرې يې کتلې. ووت. ساعت وروسته مړاوی راستون شو. ډاکټران په دهلېز کې راټول و. ښه شېبه ټول غلي و. ده په وار هر يوه ته سترګې نيولې چې د يوه له خولې يوه خبره راووځي. يو رامخکې شو، ويې ويل:

- ډېر وځنډېدې، مور ښه ده خو ماشوم... .

بل ورغبرګه کړه:

- که په وخت راغلی وای ماشوم هم ژغورل کېده.

# مارشال (داستان کوتاه)



**نویسنده: عبدالوکیل سوله‌مل**

**برگردان ازپښتو به دری:عبدالقدیر فضلی**

هر روز آفتاب طلوع می کرد وغروب. اما آفتابی نمودار نمی شد. جز فضای گردآلودو ابری. توفانی تند شب وروز تاخت وتاز داشت، چنان که گویی لشکر سندگدلی ازلاشخوران برتن شهربی جان شهرافتاده اند.تا شهررا تکه تکه کنند. ودرپی آنند که دارو ندار شهر و کوچه ها وپس کوچه هایش از هم بپاشند.پلاستیک ها و کثافات درخیابان های شهرپراگنده اند وتوفان آن هارا به رقص آن چنانی واداشته است که هیچ رقصنده یی نخواهد توانست با آنها همپایی کند. سیمها و پایه ها برق سوخته اند و ازهم پاشیده. شهر با گذشت هرروز و هر شب با جوم متواتر و خرابگر توفان چهرهٔ خشنتری به خودش می گیرد. مردم درخانه ها مانده اندوازبیم توفان جرات بیرون آمدن را ندارند. مگربه ندرت می بینی که بعضی هادرمواقع اضطرار وکارضروری، با صورتهای پوشیده وسرعت تمام ازخانه های شان بیرون می شوندوبه زودی میخواهند تاخیابانها را ترک کنند به خانه های شان پناه ببرند تاازآسیب بیشتر توفان، خاکباد وگاهی ازضربه های ژاله وباران های شدید دراماان بمانند.

جنرال در یک ساختمان پنج طبقه‌ای مجلل که گویی قصری‌ست از بازماندگان شاهان قدیم کابل کنار همسر جوان خود خوابیده است. صدای به هم خوردن پنجره‌ها در سراسر قصر باشکوه جنرال جنگ‌های راکه اودرآنها اشتراک کرده است ، در ذهن انسان تداعی می‌کند، اما زن و شوهر مانند قرص خورده ها میل به بیدار شدن ندارند. چندین ساعت بعد؛ دقیقا مشخص نبود که تا هنوزچه زمانی از خواب شان گذشته بودکه صدای ناشناخته یی از اثر اصابت چیز ی ، همسر جنرال را از خواب بیدار می کند. خانم جوان با نگاه ریز بین و آرامش خاص اطرافاش را به دقت وارنداز کردهو آهسته از جایش بلند می‌شود و جلوی پنجره می ایستد. در جادهٔ اصلی که از پنجره نمایان است، دو موتر با هم برخورد کرده اند، شیشه های شکسته و مقداری خون بخشی از جاده را پوشانیده است. ازاین اتفاق به دل ملکه ی جوان قصر جنرال هیچ اندوهی را راه نمی یابد. خانم همچنان با آرامش از پیش پنجره بر می‌گردد و در جلوی جنرال می‌ایستد.جنرال هنوز هم در خواب عمیق است، از آن دست خواب‌های‌که فقط می‌شود در اساطیر جستجو کرد و اگر از خواب بیدار شود، شاید سکه‌هایش بدرد زمان حال نخورند. همسر جنرال اتاق را ترک می کند و به سوی دست‌شویی که در سمت چپ اتاق است، می‌رود، شیر را باز می‌کند و به صورتش با نرمی که نجیب زاده ها در رفتار شان دارند، آب می‌زند و راه آشپزخانه را می‌گیرد، گیلاس آب سیب را از یخچال بر می‌دارد و دوباره به اتاق خواب داخل می شود، مقابلآیینه بزرگ اتاق می استدو خودش را به دقت نگاه می کند و موهایش رامرتب می‌کند و آب سیب را سر می کشدودر دهانش مزه ومزه می‌کندو بعد گیلاس را روی میز می‌گذارد و یک شانهٔ بزرگ را از جعبه آرایش برمیدارد، آن را روی زلف های بلند خود باخیال ارام می کشد. جنرال نیز مانند این‌که کس او را تکان داده باشد، ناگهان از خواب اساطیری خویش به زمان حال بر می‌گردد.

نگرانی بانوی جوان باعث شده که چشمان کشیده و سبزش بی محابا به بالا و پایین بپرد. به نظرمی رسید انگار اشاره می کنند. لحظه‌یی مکث می‌کند و رو به روی جنرال می‌ایستدومی پرسد:

– آیا من بیدارت کردم؟

– جنرال که هنوز در برزخی میان بیداری و خواب به سر می‌برد، خودش را کج و راست می کند و فاژه می کشد و با لطافتی که تنها از عاشق پیشه‌ها بر می آید کوتاه پاسخ می‌دهد:

– نخیر عزیزم.

ملکهٔ زیبای قصر جنرال با انگشتی که حلقه‌ی الماس درآن می درخشد، به سمت جاده اشاره کرده ومی‌گوید:

– چندین موتر تصادف کرده و سرک‌ها پر از شیشه، خون و آشغال شده است.

جنرال چهار طرفش را به به دقت مثل زمانی که در کوه‌ها می‌خواستند، از کمین دشمنان شان پیش گیری کنند، بررسی می‌کند. به کندی از جا می‌خیزد و کنار همسرش می ایستد و می خندد:

-من نه از توفان چیزی فهمیدم، نه از این تصادف‌های که اشاره می‌کنی و نه هم از خودت.

خانم جوان به سویش مستقیم نگاه می‌کند و دیگر از پرش چشم‌هایش خبری نیست، لبخند ملیحی روی لبانش را نقش می بندد:

– طوری خواب بودی که انگار از من بیشتر خوابت را دوست داشتی؟

گویی جنرال هنوز هم خواب است، دهنش را باز می کند، دست‌ها را به عقب و سینه را به جلو کشیده، خمیازه می‌کشد و صدای استخوان‌های دست‌هایش را می‌کشد:

-امکان دارد چیزی را از تو بیش‌تر دوست داشته باشم؟ کابوس دیدم.

جنرال از پیش پنجره دور شده دوباره روی تخت مجللش که با روکش ابریشمی آراسته است، نشست. همسرش هنوز هم در کنار پنجره ایستاده بود:

– تمام شب خواب‌های درهم و برهم و خطرناک دیدم، خواب‌های که گویا حقایق زندگی من باشند، ای کاش کابوس نباشند.

همسرش با ناز به او نگاه کرد:

– چه خوابی عزیزم.

به فکر می رود، اما به زودی داستان شیرین خوابش را از سر می گیرد:

– می دانی با چه کسی در جنگ بودم؟

– با کی؟

بلند شدن جنرال از روی تختش حکایت از شکوه می کند که باید به زودی سزاوارش گردد و اندکی پس از بلند شدن شانه را بالا می اندازد و قدم‌های خاص نظامی بر می‌دارد و سپس کنار پنجره می ایستد:

– با مارشال.

همسرش شوکه می شود:

– کدام مارشال؟

جنرال از پنجره به تپه ی بزرگی که مشرف بر کل شهر است، با ابرو هایش اشاره می‌کند:

– همان مارشالی که روی قبرِ بزرگِ آن یک تولی عسکر موظف به نگهداری است.

همسرش به تپه ی بزرگ خیره می شود و در چشمان زیبایش پرش دوباره ظاهر می‌شود و از جنرال با تعجب و ملایمت می پرسد:

– مگر دوستت نبود؟

جنرال سرش را تکان می دهد:

– بله دوستم بود، ما در جنگ با هم زیاد مواجه شده بودیم. گلنار جان! جنگ و سیاست همین است ،گهی پشت به زین و گهی زین به پشت.

با بیان این جمله مقابل تصویر بزرگ مرد گندم گون با صورت پف کرده و بینی پهن می ایستد و تصویر را از میخ جدا میکند:

– او اکنون مُرده است و باید از خوبی‌هایش یاد کرد.

او به عکس اشاره کرد و به همسرش میگوید:

– این چهار ستاره راچه کسی برایم داده است، او این را به من داده است.

تصویر را دوباره با احتیاط روی دیوار آویزان کرد:

– نمی دانم، دیروز چه گونه به یادم آمد که شب او را در خواب دیدم.

دوباره کنار پنجره ایستاد. چشمانش به منارهای سفید مارشال که روی تپه مشرف به پنجره استوار قرارداشت، افتاد.

– میدانی ؟ خواب‌هایم از دیروز به این طرف مرا به چه فکر وا داشته است؟

همسرش مثل این‌که سر در گم شده باشد، زبانش با چندین بارها سکته گی حرف چه را تکرارکرد:

– چ چ چه؟

جنرال که هنوز هم صورتش به سمت تپه ی بزرگ بود، درست مثل سربازی که به او دستور داده شده باشد، راست ایستاد، و به همسر خود با صدای بلند گفت:

– می خواهم من هم مارشال شوم.

نگرانی همسرش بیشتر شد:

– برای چی؟

جنرال صورتش را چرخاند و در آیینهء مقابل، خودش را نگاه کرد:

– برای این که سر قوماندان اعلی تمام قوای مسلح شوم.

همسرش کنجکاو شد:

– سر قوماندان اعلی که باید رییس جمهور باشد.

جنرال لبخند زد و با غرور پاسخ داد:

– من هم می خواهم رئیس جمهور این کشور شوم.

همسرش با نگرانی و ترس:

– می خواهی کودتای نظامی کنی؟

جنرال مشت محکمی به بازوی پنجره کوبید:

– می خواهم انقلاب کنم.

خانم به سمت پنجره رفت و رو به روی شوهرش ایستاد، باحرکت دادن دستانش حرفش را ادامه داد:

– انقلابها  کشور را به این روز و حال رسانده. از روزی که به دنیا آمده ام، خون است که می ریزد.

دست خود را روی شانه جنرال گذاشت:

– لطفا بیشتر از این برای خودت دشمن خریداری نکن، اکنون چند دیوار و نگهبان در اطرافِ خودت هست؟

جنرال او را در آغوش گرفت:

– ولی من می خواهم این دیوارها را از میان بردارم و در سراسر کشور دیواری بزرگی بسازم تا نه دشمن داخلی فرار کند و نه دشمن خارجی وارد شود.

جنرال دوباره دستهایش را از آغوش او عقب کشید. به تپهء بلند نگاه کرد. دوباره صورتش را به طرف همسرش می چرخاند و می گفت:

– می دانی از روزی که مارشال با این دنیا وداع کرد، اوضاع چقدر تغییر کرده است. دشمن در هر کوچه پنهان است. اگر اوضاع به همین شکل ادامه یابد، ممکن است هر شخص به یک دشمن تبدیل شود.

همسرش حرفهای او را قطع می کند:

– ولی در زمان مارشال هم همین طور بود.

جنرال خواست دلیلش را توضیح بدهد:

– میدانی چرا؟ـ

– چرا؟

– زیرا مارشال زیردست بود و او به دستورِ شخصِ دیگری جنگ می کرد، اما من می خواهم خودم جنگ را شروع و ختم کنم.

همسرش نگاهی به رمان "جنگ وصلح" که در الماری جلو قرارداشت، می اندازد:

– مانندِ ناپلیون بوناپارت، مانند مارشال تیتو؟

جنرال دوباره زنش را در آغوش گرفت و پیشانی اش را بوسید:

– دقیقاً ، معلمِ عزیزِ تاریخِ من. من هرگز در موجودیت خودت، شکست نخواهم خورد.

همسرش لبخند می زند و موهای پراکنده اش را از روی صورتش با دست کنار می زند.

– ولی خودت این طرح را چگونه عملی می کنی؟

جنرال باز به تپه نگاه می کند و صورت خود را دوباره می چرخاند.

– نگران نباش، من مدتهاست که روی این طرح کار می کنم و لشکر بزرگی از حامیانم برای این امر حاضر و آماده است.

– چطور؟

– طوری که من به همراه یک لشکر بزرگ، به مقبره مارشال حمله خواهم کرد.

همسرش از تعجب تکان می خورد:

– چرا؟

جنرال آهسته جواب داد:

– دریشی اش را می دزدم و قبر او را خراب می کنم.

همسرش بی اختیار روی پیشانی خود زد و چشمهایش را کشید:

– انجام این کار به قیمت دشمنی باهواداران و وارثانِ مارشال چه فایده ای دارد؟

جنرال با آرامش توضیح داد:

– فایده اش اینست که سنت میراثی مارشال شدن را پایان ببخشم.

وی سپس توجه همسرش را به داستانِ وصیتِ مارشال جلب می کند:

– میدانی، گلنار، وصیت مارشال این بود که بعد از او تا ده سال هیچ کس دیگری مارشال نمی شود، و حتی پس از آن، حق این مقام عالی نظامی متعلق به خانواده اش می باشد.

اما همسرش وصیت نامه را غیرقانونی می داند:

– ولی وصیت او که مهم نیست.

– نه، گلنار، وصیت او قانونی و حکم رییس جمهور وقت است.

همسرش به دریشی جدید جنرال در الماری لباسها نگاه می کند.

– ولی با دریشی و نشان او چه کار داری؟

جنرال، فضیلتِ داستانِ آن را با آب و تاب چنین بیان کرد:

– دریشی او یک تکه (پارچه) ویژه است و نشان های آن از الماس است.

– خو ، خو مانندِ الماسِ کوهِ نور؟

جنرال سرش را تکان می دهد:

– بلی عزیزم، علاوه بر این، روی دریشی اش دَم و چُف هم کرده است.

همسرش دلیل آن را پرسید:

– یعنی هیچ گلوله یی موقع جنگ به او اصابت نمیکند؟

– بله، مارشال اگر تجربه و دانش فراوان از جنگ داشت، او یک ملای تمام عیار نیز بود.

همسرش نزدیک جعبه آرایش می رود، دوباره شانهء بزرگ را برمیدارد و در مقابل آیینه می ایستد. مصروف موهایش شده و سلسله ی صحبت با جنرال درباره برنامه جنرال را از دست نمیدهد:

– خوب، حالا به من بگو این حمله را کی آغاز خواهی کرد؟

جنرال که همزمان هم به تپه ی مقابل و هم به  همسرش می دید، پاسخ داد:

–  در شب های نزدیک.

همسرش تکان خورد و شانه از دستش افتاد.

– راستی؟

– بله، من شش ماه است که روی این طرح کار می کنم و جسور ترین جنگجویان را از سراسر کشور دعوت کرده ام. همه شان برای حملهٔ من به قبر لحظه شماری می کنند.

همسرش دوباره به او نزدیک می شود و دستهایش را دَورِ گردنش حلقه می کند:

– پادشاه من، پیروزی خودت را آرزو می کنم.

جنرال او را با تمام قوت در آغوش می گیرد:

– ملکهٔ آیندهٔ من، من خسته ام، خواب دوباره به سراغم آمد.

دستش را گرفت.

– دوباره میخوابم، به استراحت ضرورت دارم.

بر روی فرش دراز کشید:

– وسواس مارشالی و اجرای برنامه من چنان در رگهای وجودم ریشه کرده است، مانند طوفانی که در خیابانها و کوچه ها می گذرد.

نیمه شب است. طوفان هنوز ادامه دارد. آسمان چنان ابر است که در فاصلهٔ یک متر انسان دیده نمیشود. باران میده -میده می بارد. لشکر جنرال به تپهٔ بزرگِ مقبره مارشال رسید، اما بالای تپه یی که بر روی آن زیارت بزرگِ مقبره مارشال ساخته شده بود، هنوز بالا نشده بودند که از دور صداهایی وحشتناک از مقبره مارشال به گوش رسید:

– ایست، حرکت نکنی.

جنرال مانند چوب یخ زده جابجا ایستاد شد و چنان وحشت زده شد که گویی در قبر، توسط نکیر منکر مورد بازجویی قرار می گیرد.

ترس او از نگهبانان مقبره نبود، زیرا همه در خواب بودند و حتی اگر بیدار هم می بودند، جنرال برای مقابله با آنها آماده گی کامل گرفته بود. مانند اینکه به زمین میخکوب شده باشد، جابجا ایستاد شد و گوشهایش را راست گرفت. نگاهی به تپه ی جلوی خود کرد، هیچ کسی را ندید. او فکر کرد انگار مارشالِ مرده با شمشیر در دستش، جلوی او سبز شده و حالا گردن او را می زند. از ترس، راه فرار را در پیش گرفت. به عقب برگشت، ولی همینکه صورتش را چرخاند، هیچ کس نبود. همه حامیانش را مانندِ اینکه باد برده باشد، ناپدیدشده بودند و او را تنها مانده بودند، مانند کسی که روی گلویش چاقو می کشند، اندامش به لرزه شد. خودش را آهسته برای فرار آماده می کرد که ناگهان از قبر مارشال صدا بیرون آمد:

– کجا فرار می کنی؟

این صدا او را بیشتر زمین گیر کرد، صدایش در گلویش خفه شد، اما بر خود فشار آورد. صورتش را دوباره چرخاند. ولی هنوز هم کسی را نمی دید. آهسته از دهنش خارج شد:

– خانه می روم.

صدای دیگری از قبر بیرون آمد:

– دنبال چی آمده بودی که حالا بر میگردی؟

مانند اینکه لال شده باشد، نمیدانست چه بگوید. فوراً به دهانش آمد و با صدای لرزان پاسخ داد:

– برای مارشال صاحب دعا می کردم.

و همزمان با این از قبر هاصداهای وحشتناکِ خندهٔ مردگان بلند شد که تمام گورستان را لرزاند. در میان خنده ها، صدایی از قبر آمد:

– هیچ کس نیمه شب برای  دعا به قبرستان نمی آید. به من بگو، برای چه آمده ای؟

جنرال غرق عرق شدو بدنش مانند آتش گرم شد. رنگش پرید و دست پاچه شد، او نمی دانست از کدام راه و چگونه فرار کند و چه دروغی را سر هم کند تا بتواند خود را از این عذاب نجات دهد. دوباره صدایی از قبر آمد:

– دروغ نگو، من می دانم، تو برای دریشی من آمده ای، می خواهی آن را بگیری؟

در بدنِ جنرال، آتش شعله ور بود، صدایش شنیده نمیشد، پاهایش بی حس شده بودند و دیگر به قبر نگاه نمیکرد. چشمهایش را به زمین دوخته و سرش را پایین آورده بود. به آرامی، مانند یک متهم، که برای پوشاندن جرمش تلاش می کند ، به سوالهای بازپرس دروغ بگوید، گفت:

– نه آقا، شما اشتباه می کنید. من برای شما دعا می کردم.

صدای ترسناکِ دیگری از قبر بیرون آمد:

– دروغ نگو، من تمام حرفهای دلت را شنیده ام.

– نه آقا.

صدای دیگری از قبر بیرون آمد:

– انکار نکن، اما دیگر این کار را نکنی. با این کار احمقانه ات مارشال نخواهی شد، جنرالی را نیز از دست خواهی داد.

صدا ناپدید شد. بر فراز تپه سکوت حاکم شد. اما به زودی صدای دیگری از قبر قلب جنرال را لرزاند:

– اگر من مرده ام، آنهایی که به زور شان من این رتبه را به دست آورده ام، هنوز زنده هستند. آنهایی که در زنده گی برای کسی به

زور رتبه می گیرند، همچنین قادر به حفظ درجه ها و رتبه های مردگان خود نیز هستند.

این صدا جنرال را طوری به وحشت انداخت، مثل این که از کوه بزرگی سقوط کند، لرزید و آب دهانش خشک شد، سرش چرخید و مانند زمین لرزه، زمین روی سرش چرخید، طوری از قبرستان به سرعت فرار کرد، که دیگر حتی به سمت قبرستان نگاه نکرد. در همین لحظه، یک جیغ بلند زد و دیگر به خود نفهمید و کلمه اش را گفت:

– لاَ اِلَهَ اِلاّ اللّهُ مُحَمَّدٌ رَسُوُلَ اللّهِ

راست نشست، قلبش مثل ساعت دیواری می تپید. وقتی دید همسرش در کنارش نیست، ضربان قلبش بیشتر شد. به اطراف خود نگاه کرد، ترسید. با صدای بلند گفت:

– گلنار!

همسرش مانند یک سرباز آمد:

– مثل اینکه باز ترسیدی؟

مثل کسی که با یادآوری شکست خود هم می شرمد و هم می ترسد:

– چی بگویم! بله، ترسیدم، اما تو چطور مرا تنها گذاشتی؟

همسرش دست خود را روی شانه اش می گذارد:

– می دانی، خوشحالی و افکار مارشالی تو، اگر برای تو خواب آورد، ولی خواب من را ربود، به همین خاطر من برای دیدن یک فیلم به سالن بزرگ رفتم. آیا می دانی کدام فیلم را دیدم؟

– کدام فیلم؟

– نا پلیون بوناپارت. می دانی کدام قسمت آن جالب بود؟

– کدام قسمت؟

– همان قسمتی که همسرش او را، پس از تصرف بخش های بزرگی از اروپا و آفریقا، از جنگ های دیگری مانع می شود، اما او به خواسته های همسرش گوش نمیدهد و عشق یک شاهدخت پولندی تمایل به جنگ با روسیه را تحریک می کند.

جنرال حرفهای او را تمام می کند:

– و شکست می خورد و تمام امپراتوری او سقوط می کند.

جنرال از جایش بلند می شود. دوباره از پنجره به تپه نگاه می کند. صورتش را به طرف همسرش می چرخاند:

– می دانی گلنار، من نیز از تصمیم خود منصرف شدم.

همسرش از خوشحالی از جا می پرد.

– خوب، بسیار خوب، چونکه در هر نبرد پیروزی همیشه ممکن نیست. می دانی، که من می خواستم مخالفت خود را با این موضوع ابراز کنم، اما می دانستم که تو فقط به حرف خودت گوش می کنی.

جنرال خندید و دست روی سینه اش گذاشت:

– خیر باشد، باقی همه چیز را به میل خودت انجام میدهم.

– حالا که به حرفهای من گوش می کنی، بیا که اول از این اتاق شروع کنیم. من دیگر نمیخواهم که در تپه ی مقابل به مقبره مارشال نگاه کنم.

جنرال او را محکم در آغوش خود می گیرد.

– من هم دیگر از این تپه می ترسم.

ـ پس اگر موافقی، بیا اولتر از همین قصر و از همین اتاق آغاز به کار کنیم، خوب خواهدبود تا ازینجا کوچ کنیم تا دیگر چشمم به تپه ی مقابل وقبر مارشان نیفتد.

جنرال او را محکم در آغوش گرفت:

ـ نه گلنار، نه، ازین قصر کوچ نخواهیم کرد.

خانمش خود را از آغوشش رها نمود، مانند یک عسکر مقابلش ایستاد و با صدای بلند گفت:

– چرا؟

جنرال خندید، دستش را بالای شانه ی گلنار گذاشت:

ـ بخاطری که قصر های بلند و باشکوه همچانی که سمبولهای ثروت اند، سمبولهای قدرت نیز اند.

خانم به فکر فرو رفت، چشمانش را به زمین دوخت، ولی دوباره بدون تاخیر به طرف جنرال دید:

ـ می انگاری اگر این قصر را رها کنیم ، قدرت را نیز از دست خواهی داد؟

جنرال دست او را گرفت ، تا نزدیک کلکین برد، از پنجره ی گشوده با دستش به طرف بیرون اشاره نمود ، بسوی خانمش دید و بعد دوباره متوجه قصر گردید:

ـ آیا این همه گارد محافظ، باغ بزرگ، هال های شاهانه ، دفاتر مختلف ملاقاتها ، حوض بزرگ آببازی ، میدان سپورتی و محل ورزش....

خانم با ناز و کرشمه به سویش دید، با تبسم گفت:

ـ و همه روزه دیدار وملاقات با صدها تن ....

طوق طلایی گردنش را باانگشتانش لمس نمود:

ـ میخواهی چیزی بگویی ؟ میخواهی بگویی که چیزی کمتر از دربار شاهی داری ؟

جنرال خندید:

ـ پس خودت درین مورد شک داری؟

ـ من درین مورد هیچ شکی ندارم.

ـ پس چی؟

ـ پس در حالیکه تخت شاهی را در اختیار داری، ضرورت کودتا و انقلاب چیست؟ چرا این شاهی کوچکت را از بین میبری؟

ـ دیوانه، شاه کوچک اگر هر قدر هم قدرتمند باشد، بازهم تحت امر پادشاه بزرگ است .

ـ اما از روزیکه با من عروسی نموده ای و میبینم، ترا هیچگاهی شاه به آن اندازه تهدید نکرده، چنانکه خودت همیشه او را در کاسه ی سرش آب داده ای.

ـ بلی، حقیقت چنین است و من از ترس همین واقعیت میخواهم قبل از آن که او پیشدستی نماید، باید حاکمیت اش را سرنگون سازم .

جنرال به سمت الماری رفت ، در مقابل آن ایستاد، کتاب « تاریخ جهان » را برداشت ، آن را در مقابل چشمان خانمش قرار داد:

ـ اگر چنین است، پس چرا ناپلیون تنها به فرانسه اکتفا نکرد ، چرا سکندر مقدونی خود را تااینجا و بعد تا براعظم هند رسانید؟

خانم مانند شاگردی که دریکی از صنوف پوهنتون به لکچر استاد تاریخ گوش نهاده باشد، سخنان او را می شنید ، به فکر فرو رفت . مانند خواب آلوده ها خاموشانه گفت :

ـ همینگونه است!

ـ چطور، چگونه دانستی که این طور است ؟

تبسم بی معنای روی لبان خانمش نقش بست ، مانند روانشاس باتجربه تایید کرد :

ـ واقعاً که عطش ثروت و قدرت پایانی ندارد.

نظر نفرت انگیز به سمت تپه و قبر مارشال نمود، پنجره ء باز را با خشم و عجله بست، هردودستش را روی شانه های جنرال گذاشت :

ـ اما من درینجا میترسم و به طرف آن تپه و قبر دیده نمیتوانم .

جنرال او را در آغوشش محکم فشرد، پیشانی اش را بوسه زد و با اطمینان گفت :

ـ نترس عزیزم، ازین به بعد من هم ازین تپه نفرت دارم و این پنجره را فردا می بندیم و دیوارمی سازیم.

خانمش مانند رقاصه یی مست از خوشی جست زد، او با خوشحالی کامل گفت:

ـ و ما در کجا اقامت خواهیم گزید؟

جنرال رویش را به سمت مقابل دور داد و با دستش منزل بالاتر را نشان داد :

– وما درمنزل بالایی در طرف دیگر قصر اقامت میگزینیم .

لندن – انگلستان

۱۵ می ۲۰۲۰

## ډېر زر قضاوت مکوئ

یو کس په فاحشه خانه کې مړ شو او یو بل کس په جومات کې !

خلکو خپل قضاوتونه وکړل ځکه عقل یې په سترګو کې وو .

خو لومړنی کس د نصیحت لپاره فاحشه خانې ته تللی وو او دوهم هغه د بوټانو د غلا لپاره جومات ته .

عقل مو له سترګو سر ته ور ستون کړئ او د یو بل په اړه له قضاوتونو تیر شئ .

دا ومنئ :

هر د ږیرې والا مؤمن نه دی،

هر خوږ ژبی چاپلوس نه دی،

هر خندیدونکی خوښ نه دی،

او هر څوک چې پلی روان دی یا پر بایسکل سپور دی، هغه غریب نه دی.

ډېر زر قضاوت مکوئ

## سره پیشو، کوتره او تور سپی

یوې سرې پیشو یوه کوتره نیولې او څغلوی یې

چې نابېره ورته د تور سپي پام شو، ورټوپ یې کړ

کوتره یې ترې راخپله کړه او په داسې حال کې

چې له خولې یې ناړې ورته څڅېدې، تور سپي کوترې ته وویل :

شکر وباسه چې له پیشو مې وژغورلې «را ازاده» شوې! کوترې وویل: هو له پیشو راخلاصه شوم،

خو اوس د سپي تر ژامې لاندې یم .

پر ما یې څه فرق، یا «سرې پیشو» خوړلې یا «تور سپي!»



# "د ښځې ژړا"

سلیمان لایق



د مارچ د اتمې نیټې په پلمه

مه مې خندوه نارینه نه یم د خندا
زه یوه ناره یم د غمونو د دنیا
ستا په زندانو کې مې پېړۍ پېړۍ ژړلي
نشته راکې توان نور د غمونو د ژړا
زه د ژوند جوهر، د عشق ډېوه، د انسان مور ومه
تا کړمه نانزکه د شیطان د مشغولا
کله دې اسیره د ځنځیرو کړم د زرو
کله دې کړیو کې بندي کړم د طلا
دا زما په لاس کې کړۍ ندي اتکړۍ دي
زما د غوږ لښتې د وینځیتوب دي براﻻ
زما د سرو پېزوان د غلامۍ د ذلتونو
زما د غاړې هار مهار د ظلم دی د تا
ما د آزادۍ یوازې نوم دی اورېدلی
ژوند مې شو لوګی ددې عنقا په تمنا
زه په ټول تاریخ کې ملعبه ستا د شهوت ومه
یا یوه تحفه د ستمګرو د رضا
کله به چې خرڅه شوم نانزکه کنیزکه وم
ښې به مې شوې ماتې هر ظالم ته په نڅا
لرې له همځولو، له وطنه، له ملګرو نه
سترګې به مې پوچې کړې غمونو په ژړا
لاره د هوس کې هر فاسد د پټکي ګل کړمه
ځای کې د عزت بیا بې عزته د هر چا
ستا شوه، امیري شوه، که میري شوه، که خاني شوه
زما شو، که آفت شو، که ذلت شو، که بلا
اوس راسره مات کړه د تاریخ دا ځنځیرونه
ایسته کړه له لارې تور دامونه د جفا
زه د انسان مور یمه، درنه یمه، آزاده یم
دا د بندګۍ زولنې لرې که له ما

کابل

۱۳۵٦/۱۲/۱٦



لنډه کیسه

# د تمدن لکۍ



حفیظ الله تراب

خورې! زه خو په بانو ستړې وم. څنګه شو ایمل جان مقرر شو؟ زما خو وراره دی، ځانګه مې پر بل چا نه لورېږي، خو پلار یې وایي چې هغه نه وظیفه لري او نه بل کار. زما همدومره وسه وه، نورې دا مرکې زه نه شم تم کولای.

ـ ستا دې خدای پرده وکړي. د قسمت خبره ده، ګنې ایمل خو راته په کلکه ویلي و، چې ټولو نه یې نومرې ښې وې. انګلیسي یې هم ښه یاده وه، خو ظالمانو ورته هسې بانه جوړه کړه.

ـ د څه شي بانه یې ورته جوړه کړه؟

ـ ورته یې ویلي و، چې نور په هر څه پوهېږي، خو تمدن نه پېژني!

ـ خورې دا تمدن یې لا څه شی دی؟

ـ والله که یې زه هم پېژنم، خو زما په فکر لکه چې ډېر ضروري شی دی!!

ـ هې هې، کاشکې مونږ کره راغلې وی، ما به لټولی وی، زمونږ خو ډک کور دی هر څه په کې شته.

دوی لا خپلو کې خبرې کولې، چې ایمل کور ته ورننوت او چې څنګه کېناست، نو د ځانګې مور ترې پوښتنه وکړه:

زه خو دې مقررۍ ته غوږ په اواز وم، خو اوس مې راته ورنداري وویل، چې د میراث مړې تمدن د لاسه دې کار ونه شو؟! ولې لکه چې دا تمدن ډېر سخت شی دی؟ د ځانګې د پلار نه به دې پوښتنه کړې وی!

ـ ترورې! دوی چې کوم تمدن یادوي، په هغه ټول پوهېږي. دوی دې ته تمدن وایي چې نارینه ږیره او برېت وخریيي، پتلون واغوندي او سر یې لوڅ وي. خو یوازې په دې یې هم تسل نه کېږي، بلکې یو ښه متمدن هغه ته وایي چې ښځه یا خور یې لوڅ مخ په سرو شونډو ورسره هم کله نه کله ګرځي. په دفتر کې ښه متمدن هغه دی، چې رئیس ته یې هر وخت له چاپلوسۍ نه برناحقه خوله چینګه نیولې وي او که نور په هیڅ هم نه پوهېږي، خو چې د شاهرخ خان غوندې جمپونه او موسکا یې زده وي. که خدای کول دا ځل به ګورو!

ـ څنګه لکه چې چا درته د کار ویلي دي؟

ـ هو ترورې! یوه ملګري مې راته د یوې ډېرې ښې دندې خبر راکړی. په اونۍ کې دننه به مې خدای کار وکړي.

ـ کاشکې. زه به دا څو ورځې نور هم د ځانګې پلار په هغې دغې بانې د ورکړې نه ایسار کړم، خو که دا ځل دې هم کار ونه شو، چې بیا دې له ترور نه ګیله ونه کړې. زما همدومره وسه وه.

ـ بالکل سمه ده.

څو ورځې وروسته ازموینه راورسېده. ایمل ټولې پوښتنې سمې ځواب کړې. په پای کې یې هره کرښه بیا بیا په غور سره ولوسته. د هغه ټول ځوابونه داسې وو، لکه د ځانګې د دعاګانو برکت چې هم په کې پروت وي. کور ته چې لاړ، نو

ترور ته يې د خپل بريالیتوب خبر ولېږه. په سبا ته يې د انټروۍ ورځ وه. د کمپ يوه حمام ته لاړ. وېښته يې کم کړل، خو چې آيينې کې يې خپلې ږيرې ته وکتل، نو فکر يووړ. اخر ورته خليفه وويل:

ـ وروره څنګه د ږيرې سره څه وکړو؟ هغه لکه لېونی له خياله ويښ شو. زړه يې و، چې د وظيفې لپاره ږيره وخريي. له وظيفې سره څانګه هم ور ياده شوه، خو چې په آيينه کې يې يو ځل بيا خپلې ږيرې ته وکتل، نو ښويه مخ ورته ډېر بد ښکاره شو. په کرار يې وويل:

ـ استاذه کمه يې کړه!

له دې ځايه زر زر کباړي بازار ته لاړ. ټولې اويا روپۍ ورسره وې. په ډېرې خوارۍ يې يو ارت پتلون په پنځوس روپۍ واخيست. په تلوار تلوار د انټروۍ ځای ته ورسېد. حيران و، چې پتلون چېرته واغوندي؟! ښه و، چې ويې کتل، نو د موسسې سره نږدې جومات و. پتلون يې په بيړه واغوست او د انټروۍ ځای ته ورغی. هغه بل رقيب نه درلود. له دېرشو کسانو نه ورته همدا غوره شوی و. چې دفتر ته ورننوت، نو درې کسه ناست وو. د يوه پوښتنه به لا پوره ځواب شوې نه وه، چې بل به ترې پوښتنه وکړه. د هغوی ټولې پوښتنې يې چې ځواب کړې، نو هغه او دغه پوښتنې يې ترې پيل کړې. ايمل يې هره پوښتنه داسې ځوابوله،چې پخپله هغوی ته هم نوې وې. هغه چې کله له دفتر ووت، نو په ورو يې له هغوی وپوښتل:

ـ صيب بيا کله راشم؟ يوه ورته وويل:

ـ سبا يې پوښتنه وکړه!

پر ټوله لار ډېر خوشاله و. کور ته چې ورسېد، نو مور ته يې ډاډ ورکړ. څانګه چې يې له بريالیتوبه خبره شوه، نو د هغې مخ هم لکه د سهار ګلاب لا پسې تازه شو پلار يې مرکې ته د سبا ورځ د هو او نه لپاره ټاکلې وه.

په ايمل دا شپه ډېره اوږده تېره شوه. سبا ورځ يې د مينې د بريالیتوب او ناکامۍ اخرنۍ نېټه وه. د سهار نهه بجې به وې، چې په منډه منډه موسسې ته ورسېد. خپل ملګرى يې په چمن کې وليد، خو د ايمل چې پر هغه سترګې ولګېدې، نو د هغه په سترګو کې يې څه بل ډول خپګان وليد. په ورو يې ترې خپله نتيجه وپوښتله. هغه سترګې ځمکې ته ونيولې او بيا يې په داسې ډول لکه خوله چې يې بنده وي، په تاثر وويل:



ـ افسوس کوم... مقرر يې نه کړې!!

له ايمل نه لکه چې چا زړه ايستلى وي. ټول بدن يې داسې شو، لکه ساه چې په کې نه وي. تر لږې چوپتيا وروسته يې په هيبت ترې پوښتنه وکړه:

ـ اخر ولې؟

ـ هغوی چې تا کې هېڅ خو پيدا نه کړه، نو دا بانه يې وکړه چې تمدن ته دې په سپکه کتلي وو! له دې سره ايمل په ژړغوني او وارخطا انداز وويل:

دا څنګه؟ ما خو تمدن اغوستی و؟!

ملګري يې وويل:

ـ سيي ده چې تمدن دې اغوستی و، خو د انټروۍ په ورځ چې ته له کوټې وتلې، نو شا ته لمن دې نيمايي له تمدن نه راوتلې وه. هغوی داسې وانګېرله، چې ګنې تا تمدن (پتلون) پورې خندلي او درناوی دې يې نه و کړی.

په دې خبره د ايمل سترګو ته څانګه ودرېده او داسې ورته ښکاره شوه، لکه د زړه ټوټه ترې د پتلون په ګناه کې همدا نن د بل کور ته څوک په زور وړي!!!

# د یو کب نیونکي او د هغې د ښځې خیالي کیسه

د الماني خيالي کيسو (قصو) څخه



ديپلوم انجنير اسدالله ملکزی



يو وخت يو کب نيونکی د خپلې ښځې سره په يوې وړې کوډلې کې ژوند کاوه او ډېر بې وزلي وو. کله کله داسې ورځې به وی چې هيڅ کوم کب به يې د پلورلو د پاره نه شو نيولی. يوه ورځ کب نيونکي سهار د وخته خپل د کب نيولو خنجک را واخست او ساحل ته ولاړ. ډېر وخت وروسته ويې ليدل چې خنجک يې راښکل کيږي. کب نيونکي ژر خنجک ټينګ کړ او ځان ته يې راکاږه. ګوري چې ډېر يو ښکلی غټ کب په چنګک کې نښتی دی.

کله چې دغه کب يې وچې ته راښکه، نو په دې وخت کې کب وويل:

«ای ځوانه! که ته ما ونيسې او په بازار کې مې وپلورې، نو ته به فقط يو څو روپۍ وګټې او هغه به هم ژر درڅخه ولګيږي (مصرفي شي) او که ته ما ژوندی بېرته سمندر ته ايله کړې، نو زه به يو وخت وکولای شم چې تا سره مرسته وکړم!»

کب نيونکي وويل: « ته دومره ښکلی کب، ما هم نه غوښتل چې تا بازار ته يوسم او ودې پلورم!» هغه وو چې کب يې بېرته په سمندر کې خوشې کړ اوکب نيونکی بېرته تش لاس کور ته راغی او خپلې ښځې ته يې د دی کب د خبرو کولو او ښايست کيسه وکړه. ټوله شپه ښځه په سوچ کې وه، او خپل مېړه ته يې وويل:



« کېدی شي په رښتيا دا کب موږ سره مرسته وکړي او موږ د دغې بدبختۍ نه خلاص کړي، سهار وخته بيا ساحل ته ولاړ شه او کب ته زموږ د بې وزلۍ ووايه، کېدی شي چې هغه موږ سره مرسته وکړي!»

کب نویونکی سبا سهار وخته ساحل ته ولاړ او کب ته یې دا ډول غږ کړ:

« مانتېر مانتېر تېمپېتر بوتې بوتې په سمندر.
زما ښځه ایلزبتل غواړي دا چې ما غوښتل.»

دا دی چې د سمندر په څپو کې ښکلي کب ځان ښکاره کړ او ویې پوښتل: « څه غواړې، کب نیونکیه؟»



کب نیونکي وویل: « دا چې ما ته د مرګ نه وژغورلې، نو که ته کولای شې، زما یوه غوښتنه تر سره کړه. هغه دا چې مونږه د یوې ښکلي کورګي او ښه خوراک هیله مند یو.» کب وویل: « ځه ولاړ شه کور ته، ټول همداسې دي، کوم چې تا غوښتل!»

کله چې کب نیونکی کورته ولاړ، ګوري چې د هغې د ورې زړې کوټېږ په ځای یو ښکلی او ټېنګ کور د باغچې او چرګانو سره ولاړ دی.



کب نیونکی د ښځې سره کور دننه ولاړ او مېز ته کیناستل، کوم چې پر میز ښکلي خواړه تیار وو. دوی دومره وخوړه چې نور یې نه شو کولای. بیا د خوب کوټې ته ولاړل او ویده شول. څو میاشتې دوی په خوشحالي ژوند وکړ. کب نیونکي هره ورځ به یې کبان نیول. دوی نور لکه د پخوا په شان بې وزلي نه وو. خو یو څه موده وروسته د کب نیونکي ښځې ارام نه لرو او خپل مېړه ته به یې ویل: «چې ولې ددې نه بل ښه کور نه لرو؟ دا خو وړوکی دی. دا کب څومره بخیل وو چې مونږ ته یې غټ کور رانه کړ. بېرته ولاړ شه او د کب نه د فیوډالانو کور غوښتنه وکړه!» کب نیونکي دا نه غوښتل، خو ښځې یې مجبورکړ چې د کب نه غوښتنه وکړي.



کب نیونکی سمندر ته ولاړ، نري شمال د سمندر د ورو څپو نه ښکلي نغمه پورته کوله چې کب نیونکي کب ته غږکړ:

« مانتېر مانتېر تېمپېتر بوتې بوتې په سمندر.
زما ښځه ایلزبتل غواړي داچې ما نه غوښتل.»

دادی چې کب خپل ځان ښکاره کړ، او د کب نیونکي څخه یې د ښځې د غوښتنې تپوس وکړ. کب نیونکي د ښځې غوښتنه

وویله. کب وویل: «چې څه هر څه تیار دي.» کب نیونکی په ډېرې تېزۍ سره کورته منډې کړې، کله چې کور ته ورسېد، ګوري چې د مخکني کور په ځای یو ډېر ښکلی او ځلېدونکی کور چې شاوخواته یې شینلۍ (چمن) او پکې طاوس ګرځې، ولاړ وو. د ښځې په غاړه د وریښمینو جامې وې. بیا څو میاشتې وروسته ښځې یې ارام ونه کړ او مېړه ته یې وویل: «چې نه کیږي ددې نه نور ښه ژوند ولرو؟» مېړه یې چې په یو ښکلي لوی بالښت ډډه کړې وه، خپل سر یې وخوړولو.



ددې دواړو پخوانی ژوند له یاده وتلی وو. ښځې یې خپل مېړه ته وویل: «چې ولاړ شه کب ته ووایه چې ما ملکه کړې.» کب نیونکي په وېرې وویل: «چې زه دا غوښتنه د کب څخه نه شم کولای.» خو ښځې خپل مېړه د کوره وویست او سمندر ته یې ولېږه. دا ځل اسمان بل ډول ښکارېده او په سمندر کې لویې لویې څپې وې چې کب نیونکي غږ کړ:

« مانتېر مانتېر تېمپېتر بوتې بوتې په سمندر.

زما ښځه ایلزبتل غواړي دا چې ما نه غوښتل.»

په سمندر کې غږ راپورته شو او کب سر را پورته کړ او وې ویل: «چې ښځه دې بیا څه غواړې؟» کب نیونکي وویل: «زما ښځه غواړي چې زه پاچا او ښځه مې ملکه شي.» کب دا هم ومنل او دوی څخه پاچا او ملکه جوړ کړل. کله چې کب نیونکی کور ته راغی، ګوري چې د مخکني کور په ځای د پاچاهي ماڼۍ ولاړه ده او ښځه یې د پاچاهي په تخت چې تاج یې په سر دی، ناسته ده.



دا هم ولاړ او د خپلې ښځې خواته کښېناست. ډېر کلونه دوی خوشحاله او په خوښۍ تېرې کړې.

یوه ورځ وه چې د ښځې رنګ الوتی، په ځای ددې چې په نیلۍ چکر وهلو ته ولاړه شي، په کړکۍ کې ناسته وه او سمندر ته یې کتل. کله چې شپه شوه نو بیا یې خپل مېړه ته وویل: « زه د دغې ژوند نه مړه شوې یمه، نه شي کېدی چې ددې نه لا ښه ژوند ولرو؟ ولاړ شه سمندر ته او کب ته ووایه چې تا شاهنشاه او ما ستا ملکه کړي.» کب نیونکي دا نه غوښتل خو د ښځې د وېرې ولاړ. ګوري چې سمندر ډېر تورتم او خراب ځک (قف) لري. دلته بیا کب نیونکي غږ کړ:

« مانتېر مانتېر تېمپېتر بوتې بوتې په سمندر.

زما ښځه ایلزبتل غواړي دا چې ما نه غوښتل.»

سمندر طوفاني شو او کب د اوبو سر ته ځان ښکاره کړ او وې ویل: « بیا ستا ښځه څه غواړي؟» کب نیونکي ځواب ورکړ چې هغه غواړي مونږ شاهنشاهان شو. کب ورته دا غوښتنه هم ومنله. کله چې کب نیونکی کور ته راغی، ګوري چې د شاهي ماڼۍ په ځای د شاهنشاهي ماڼۍ ولاړه ده.

ددې ماڼۍ په مخ کې ښځه یې ولاړه او د شاهنشاهي کوټ یې په غاړه او د شاهنشاهي تاج یې په سر دی.

د دې په مخ کې ډېر خلک په احترام ولاړ دي. ښځې خپل مېړه ته وویل: « ګورې، داسې څه نه شته چې کب جادو ونه شي کړی!» مېړه یې وپوښتل: « اوس نور بل اخره ته راضي شولې؟»

راضي؟ زه د طالع نه بیښي الوزم. کب نیونکي هیله لرله چې نور به کب ته د کوم شي غوښتنې ته نه ځم او په خپلې ماڼۍ کې ارامه ژوند وکړم.



ډېر کلونه کب نیونکي او ښځې یې په خوښۍ سره تېرې کړې. ډېر شاهان او ملکې، شاهزادګان او شاهزاده ګانې، اشرافي کورنۍ ددوی احترام ته به راتلل او تلل.

خو یوه ورځ د کب نیونکي ښځه، هغه څوک چې راتلل، په قهره شوه او ټول یې وډارول. د ډېره قهره خپل جواهرت یې د کړکۍ څخه وغورځول او مزدورانو ته یې وویل چې ولټوي.

مزدورانو یې ساعتونه ساعتونه په بوټو کې تېر کړل، چې بل اخره دا یې پیدا کړل او ملکې ته یې راوړل. ملکې د قهره دا ببرته واخستل او د کړکۍ څخه یې بهر وغورځول او مزدورانو باندې چغې وهلې چې ولې یې په لټون کې دومره ځنډ وکړو.کب نیونکي هیڅ جرئت نه لرلو چې ښځې ته یې څه ووایې.

بل اخره کب نیونکي وپوښتل:« ته څه غواړې؟» ښځې یې مخ واړولو او سمندر ته یې کتل. پر سمندر یو طوفان ښکارېده او په اسمان کې تورې وریځې تاوېدلې.



زه غواړم چې ته هغه کوډګر کب ته ولاړ شه او ورته ووایه چې هغه ما د نړۍ د کاتولیکانو مذهبي مشره کړي. دلته کب نیونکی په خندا شو. «د کاتولیکانو مذهبي مشره؟ ولې اوس غواړې چې ته مذهبي مشره شې؟ ته وګوره چې مونږه څنګه ژوند لرو؟» ښځې چیغې کړې او ویې ویل: «زه غواړمه چې د کاتولیکانو مذهبي مشره شمه. زمونږ نه ټیټ خلک نور مونږ ته احترام نه لري، نو ځکه غواړمه چې مذهبي مشره شمه چې د هغوی مونږ خوښ شو.»

کب نیونکي وویل: « ښځې! ته هغه پخوانی وخت رایاد کړه چې مونږ هیڅ نه لرل! د ولګې او یخنۍ نه به مونږ رپیدلو!» ښځه یې په قهره شوه او ویې ویلې: « هغه ورځې نور تېرې شوې، ځه کب ته او ورته زما د غوښتنې ووایه.»

کب نیونکی سمندر ته راغی او کب ته یې نارې کړې:

« مانتېر مانتېر تېمپېتر بوتې بوتې په سمندر.
زما ښځه ایلزبتل غواړي دا چې ما نه غوښتل.»



کب د طوفاني سمندر څخه ځان ښکاره کړ او ویې ویل: « ستا ښځه نو بیا څه غواړي؟» کب نیونکي په ډېرې سختۍ سره وویل: « هغه غواړي چې د کاتولیکانو مذهبي مشره شي.» کب داخل هم ومنله او ویې ویل: « ځه ولاړ شه کور ته دا هم وشول.»



کله چې کب نیونکی راستون شو، ګوري چې د شاهنشاهي ماڼۍ په ځای یوه ځلېدونکې د کاتولیکانو کلیسا ولاړه ده چې په منځ کې یوه ډېره ښکلې ودانۍ د رنګه کړکۍ ګانو سره ولاړه ده. ددې مخې ته یې ښځه چې عادي خلک او ملایان ورته په احترام دي، ولاړه ده. د کب نیونکي خوله خلاصه پاتې شوه، کله چې ویې لیدل خلک مخ په زیاتېدو دي او راځي د ښځې یې لاسونه ښکلوي. کب نیونکي سر وخوړولو او د سمندر څخه لرې ولاړ، کله چې تورتم شو، بېرته راغی.

تر یو وخته دوی دواړه ډېر خوشحاله وو. دوی په ډېرو ښکلو کورو کې ژوند کاوه، هرې خوا ته به یې سفرونه کول، هر چېرې چې به تلل د ټولو خلکو به خوښېدل.

کب نیونکي د خپلې ښځې څخه وپوښتل: «څنګه زما ګرانې، اوس خو به خوشحاله یې؟» ښځې یې وویل: «هو هو ډېره خوشحاله او نیک بخته یمه.»



ورځې همداسې تېرېدلې. کب نیونکي جادوګر کب نور له سره هېر کړی وو. د خپل نوي ژوند سره ډېر خوښ وو. ددې ښځه ایلزبتل ډېره مهربانه او دینداره مذهبي مشره وه. د هر چا خوښېدله. ایلزبتل به خپل کارونه ډېر په پوهې مخ ته وړل. د مظلومو، غریبانو او رنځورانو سره به یې مرسته کوله. کلیسا به د خلکو نه ډکه وه او هغه ډېره مصروفه وه، چې د تېر او راتلونکي په برخه کې فکر وکړي.

خو یوه ورځ سهار د کب نیونکي ښځې لمر ولید، چې څنګه د سمندر شا نه پورته کیږي! څومره ښه او درونډ پورته کیږي! نړۍ ته ډېره روښنايي او تودوخي ورکوي! دا د سمندر څپو ته څنګه ښکلی طلايي رنګ ورکوي!

د کب نیونکي ښځه په اندېښنو کې ولاړه، سره ددې چې دا د کاتولیکانو مذهبي مشره هم ده خو نه شي کولای چې داسې عجایب وکړی شي. دا نه شي کولای چې لمر پورته کړي. ټوله ورځ دا کړکۍ ته یواځې ناسته وه او کتل یې. د لمر لوېدو په وخت کې دې فکر وکړ: « دا لمر څومره ښه او ښکلی دی! څنګه

دا د وربځو شاته پټیږي او سمندر په طلايي او کهربا بدلوي! خو سره د دومره قدرت بیا هم زه یو انسانه یمه! که چېرته ما د لمر ختل او غورځېدل کولای شو! که چېرته ما باد او ورښت (باران) راوستلای شو او په سمندر کې طوفان منځ ته راغلی وای! که چېرته دا ټول فقط ما کولای شولای!»



هغې خپل مېړه، کب نیونکي ته غږ کړ او ورته وېې ویل: « زه تاته یو کار لرم.» کب نیونکي ورته وویل: « وایه، زه ستا د پاره هر څه کوم.» ښځې ورته وویل: «چې ولاړ شي سمندر ته او کب ته ووایه چې ښځې ته یې د خدای پاک په شان قدرت ورکړي.» د کب نیونکي رنګ داسي والوت لکه چې برق نیولی اوسي، او چیغه یې کړه چې نهههه! ښځې ورته وویل: «که ته دا نه کوی، زه تا وژنمه.»

دا بېوزلی کب نیونکی سمندر ته ولاړ او کب ته یې غږ کړ:

« مانتېر مانتېر تېمپېټر بوتې بوتې په سمندر.

زما ښځه ایلزبتل غواړي دا چې ما نه غوښتل.»

کب ډېر ژر خپل سر راښکاره کړ او ویې ویل: «د هغې غوښتنه څه ده؟» کب نیونکي د وېرې نه خبرې نه شو کولای، خو په لړزیدلي غږ سره وویل: «هغه غواړي چې د خدای پاک په شان قدرت ولري.»

د سترګو په رب کې یو غړمبېدونکی طوفان راغی، تالنده او برېښنا شوه. د ځګ لړونکي طوفاني څپو تر منځ د کب غږ پورته شو او په ډېر قهر سره یې وویل: «ځه کور ته کب نیونکیه!» د دغه سخت طوفان په جریان کې، کوم چې ټوله سیمه طوفاني شوی وه، کب نیونکي کور ته منډې کړې. کله چې هغه خپل ځای ته ورسېد، ګوري چې هغه ځلېدونکي کلیسا، رنګه کړکۍ ګانې او ټول ښکلي ځایونه ورک شوي.



د دې په ځای بېرته هم هغه وړه د فقر او فلاکت نه ډکه کوټنۍ ولاړه ده. د دغې کوټنۍ مخې ته ددې ښځه چې هم هغه ناولي جامې چې تل به یې اغوستې ، په غاړه او ولاړه وه.



کب نیونکي منډه کړه او خپله ښځه یې په غېږ کې ونیوله. تر هغه دوی ولاړ وو، چې ترڅو طوفان ارامه شو او لمر ښکاره شو. ښځې وویل: «مونږ هیڅ بدمرغه نه یو، ښه داده چې زه او ته د یوبل په خوا کې یو. او دا د هر څه نه مهمه ده. زه هیڅکله نور نه غواړم چې مالداره او یا باقدرته شمه.»

کب نیونکي خپلې ښځې ته وویل: «ما فکر وکړ چې طوفان به ته الوزولې یې. راځه چې دننه ولاړ شو او خپل ژوند بېرته د سره پیل کړو.»




# ناروېژي - پښتو قاموس

## Stor Norsk-Pashto Ordbok

دا قاموس چې ټول ۵۰۰۰۰ لغاتونه او ۱۰۰۰ مخونه لري په لوړ معيار چاپ او له ناروې بر سېره په سويډن او ډنمارک کې هم هېوادوال ترينه ګټه اخيستلای شي. په دې کتاب سره د هر مسلک د خاوندانو ستونزې تر ډېره حليږي يا په بل عبارت د لومړي ټولګي تر پوهنتونه، په هر ډول کاري چاپيريال او په کور کې د والدينو له خوا د ماشومانو ژبنۍ ستونزو په حل کې پوره مرسته کوي.

د ناروېژي ژبې د هر ډول لغاتو مانا په اسانه په کتاب کې پيدا کولی شئ دا بايد هم يادونه وشي چې د يو زيات شمېر لغاتونو، نومونو او نورو څيزونو عکسونه د اسانه پوهاوي په پار د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي چې دا په اسانه د پوهاوي په برخه کې د قاموس کارونکو سره مرسته کوي. د دې کتاب شتون په هر افغاني او پښتنې کور او ستاسو په کتابتون کې ضروري او د ناروېژي ژبې په حل کې ستاسو ښه مرستندوی دی. د دې کتاب بيه ۴۰۰ ناروېژي کرون (هغه چې د دعوت رسنيز مرکز څخه په مستقيم ډول تر لاسه کوي) او د پوست د لېږل بيه يې په ناروې، سويډن او ډنمارک کې ۴۷۰ کرون ده.

همدا راز دا کتاب د نورلي Norli په ټولو ۱۹۰ کتابپلورنځيو کې اخيستلای شئ او هم يې له خپله کور څخه د نورلي له ويبپاڼې norli.no تر لاسه کولای شئ.

د ناروېژي پښتو  قاموس مينه وال او غوښتونکي کولای شي په حضوري ډول يې د ليليستروم په ښار (ناروې) کې د دعوت رسنيز مرکز څخه واخلي  او يا هم د بانک د لارې پيسې د دعوت ميډيا په اکاونټ  AC#0530 22 94668 او يا د دعوت رسنيز مرکز د ويپس په شمېره شمېره Vipps: #557320 د خپل بشپړ پوستي ادرس سره راوليږي ستاسو کتاب به ډېر ژر تر تاسو دروړسيږي.

د دعوت رسنيز مرکز دفتر

Dawt Media Center

Voldgt. 37A

2000 Lillestrøm, Norway

